# د قرآن قسمونه

## او د اساسي قضاياوو اثبات

قيامت
بياژوندون
مکافات او مجازات
د الله تعالی واکمني
د ظالمانو حتمي مؤاخذه
د پيغمبر حقانيت
د بريا عوامل
د انسان خيره [illegible]...

Ketabton.com

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب له متنه

پدې قسمونو کې د لاندي قضاياوو په څېر د مهمو مسائلو لپاره مضبوط دلائل وړاندي شوي:

آيا قيامت راتلونکی دی او دا دنيا به په بلي بدلېږي؟

آيا انسان بېرته راژوندی کېدی شي؟

آيا د قيامت د ورځي د مکافات او مجازات عقيده رښتوني ده؟

آيا خدای يو دی؟

آيا واقعاً الله تعالی د دې عالم يوازينی واکمن، پالونکی او ساتونکی دی؟

آيا په رښتيا الله تعالی ظالمان مؤاخذه کوي او خپل عذاب پرې نازلوي؟

آيا په دنيا کې هم انسان ته د عملونو بدله ورکول کېږي؟

د پيغمبر د حقانيت لپاره څه دليل لرو؟

آيا په رښتيا دا قرآن د الله له لوري راغلی؟

آيا دا خبره رښتيا ده چي انسان ته ډېر لوړ استعدادونه ورکړی شوی؟

له بلي خوا د قسمونو په اړه د مفسرينو ترمنځ د رأيي ژور اختلاف شته، د رأيي دا اختلاف د قرآن مينه والو ته اکثراً زياتي ستونزي راولاړوي، پدې رساله کې هڅه شوې چي د قرآن د مينه والو دغه ستونزه حل شي. دلته د هر قسم په اړه ترټولو درنه او په قرآن مستنده رأيه رااخيستل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


تمهید ........................................................ ۱
الطور ........................................................ ۹
الذاریات ........................................................ ۱۷
النجم ........................................................ ۲۵
الصافات ........................................................ ۲۹
یس ........................................................ ۳۵
الواقعة ........................................................ ۳۹
القلم ........................................................ ۴۳
الحاقة ........................................................ ۴۷
المعارج ........................................................ ۵۱
القیامة ........................................................ ۵۵
المرسلات ........................................................ ۶۱
النازعات ........................................................ ۶۹
التکویر ........................................................ ۷۷
الشفق ........................................................ ۸۱
المدثر ........................................................ ۸۷
البروج ........................................................ ۹۱
الطارق ........................................................ ۱۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفجر ............................................................... ۱۱۱
البلد ................................................................ ۱۱۹
الشمس.............................................................. ۱۲۵
اللیل ................................................................ ۱۳۳
الضحی.............................................................. ۱۳۸
التین................................................................. ۱۴۲
العادیات ........................................................... ۱۴۸
العصر .............................................................. ۱۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# تمهيد

دا رساله د قرآن د قسمونو تفسير ته مختصه شوې، دا د دې لپاره چي له يوې خوا پدې قسمونو باندي پوهېدو سره په ټولو هغو دلائلو پوهېدی شو چي قرآن د سترو سترو قضاياوو د اثبات لپاره وړاندي کړي، د قرآن قسمونه په حقيقت کي د ډېرو مهمو او اساسي قضاياوو د اثبات لپاره د قرآن دلائل دي، پدې سره قرآن خپل مخاطب په هغو مهمو خبرو قانع کوي چي هغه ته ئې منل ګران برېښي او په آسانۍ او له قوي دليل نه پرته ئې نه مني. پدې قسمونو کي د لاندي اساسي قضاياوو په څېر د مهمو مسائلو لپاره مضبوط دلائل وړاندي شوي:

آيا قيامت حتماً راتلونکی دئ او دا دنيا به په بلې بدلېږي؟
آيا انسان بېرته راژوندی کېدی شي؟
آيا د قيامت د ورځي د مکافات او مجازات عقيده رښتونې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا خدای یو دئ؟
آیا واقعاً الله تعالی د دې عالم یوازینی واکمن، پالونکی او ساتونکی دئ؟
آیا په رښتیا الله تعالی ظالمان په دنیا کې هم مؤاخذه کوي او خپل عذاب پرې نازلوي؟
آیا په دنیا کې هم انسان ته د عملونو بدله ورکول کېږي؟
د پیغمبر د حقانیت لپاره څه دلیل لرو؟
آیا په رښتیا دا قرآن د الله له لوري راغلی؟
آیا دا خبره رښتیا ده چې انسان ته ډېر لوړ استعدادونه ورکړی شوي؟

له بلې خوا د قسمونو په اړه د مفسرینو ترمنځ د رأیې ژور اختلاف شته، د رأیې دا اختلاف د قرآن مینه والو ته اکثراً زیاتې ستونزې راولاړوي، پدې رساله کې هڅه شوې چې د قرآن د مینه والو دغه ستونزه حل شي. دلته د هر قسم په اړه ترټولو درنه او په قرآن مستنده رأیه رااخیستل شوې. په کار خو دا وه چې د درنو مفسرینو بېلابېل آراء هم رانقل شوي وی، خو مونږ پدې خاطر د هغو له راوړلو ډډه کړې چې پدې محدودې وړې رسالې کې ئې مجال نه وو، دا کار مو په خپله لوستونکو ته پرېښی. هغو درنو لوستونکو ته چې د تحقیق اراده لري دا وړاندیز کوو چې پدې رسالې کې د تشریح شوي هر قسم نه مخکې نور تفاسیر وګوري، د دوی ترمنځ د رأیې له اختلاف نه ځان خبر کړي، د هر یوه رأیه په غور او دقت سره وڅېړي، بیا ئې د دې رسالې د شرحې په خوا کې کېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وګورو چې آيا مونږ دلته ترټولو قوي او په قرآن مستند تفسير غوره کړی که نه؟

په قرآن کې اکثراً په هغو شيانو لوړه شوې چې کاملاً محسوس، مشهود او ځرګند دي او هر ليدونکي ته د فهم او درك وړ. دا طبيعي ده چې د يوه داسې مهم او د مناقشې وړ مطلب د اثبات لپاره چې قرآن ئې ثابتول غواړي او د قرآن مخاطب د هغه په منلو کې ترديد لري، مجرده ادعا نه مني او دلائلو ته منتظر وي، بايد په داسې دلائلو استشهاد وشي چې د نزاع او اختلاف وړ نه وي او مخاطب ته کاملاً واضح او ځرګند وي. د اختلافي او قابل نقاش ادعا د ثبوت لپاره په يوه غيرملموس او غير قابل فهم شي باندې استشهاد نشي کېدی. تاسو د قرآن د تلاوت په جريان کې حتماً دا مشاهده کوئ چې د طبيعت په ډېرو بارزو او ځرګندو شيانو لکه لمر، سپوږمۍ، آسمان، ستوري، ځمکه، فجر، شفق، شپه، ورځ او دې ته ورته شيانو لوړه شوې او بيا د قسمونو په پای کې او اکثراً له هغوی سره متصل يوه ستره او ډېره مهمه ادعا عنوان شوې او په حقانيت ئې تأکيد شوی او همدغه قسمونه ئې د شاهد او دليل په حيث وړاندې شوي. په ډېر لږ غور او دقت سره پدې مطلب پوهېدی شو چې د قسمونو او د هغوی د ځواب ترمنځ ژور او دقيق ارتباط شته، داسې چې واقعاً مقسم به شيان د قسم د ځواب او د قسم نه وروسته راتلونکې ادعا په حقانيت شهادت ورکوي. همدغه ژور ارتباط ته په پام سره مفسرين پدې عقيده دي چې د قرآن قسمونه د استشهاد لپاره دي نه د دغو شيانو په عظمت د اعتراف لپاره. خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن په څو محدودو آیتونو کي داسي قسمونه هم ګورو چي مقسم به ئې له دقت او غور نه وروسته او له قرائنو نه معلومولی شو، دلته داسي صیغې راغلې چي په ډېرو شیانو ئې اطلاق کېدی شي، پدغو ډېرو شیانو کي اصلي او مقصودي شی موندل د پوره دقت غوښتنه کوي، په سطحي نظر د هغه موندل ګران دئ، دلته ده چي د مفسرینو ترمنځ شدید اختلاف راولاړېږي. د ځینو دغو قسمونو په اړه خو په تفاسیرو کي په لسهاوو آراء ګورو، د مثال په توګه د الفجر د سورې په درېیم آیت کي په "الشفع والوتر: جفت او طاق" لوړه شوې چي تر ۳۲ نه زیات تفسیرونه ئې شوي، خو دې ته مو باید پام وي چي پدې ټولو تفسیرونو او تعبیرونو کي یوازي یو ئې صحیح کېدی شي او بس، هماغه صحیح دئ چي د آیت اصلي او دقیق مراد په ګوته کړي.

که په قرآن کي لداسي مواردو سره مخامخ کېږو چي د "مقسم به" لپاره استعمال شوې صیغه په ډېرو شیانو تطبیقېدی شي لکه "النازعات"، "الناشطات"، "السابحات"، " المرسلات"، "الناشرات"، "الفارقات" او دې ته ورته، نو په هغه صورت کي باید څو اساسي او مهمي خبري په پام کي ولرو:

- تر ټولو د مخه باید د دغو الفاظو اصلي معنی او تفسیر په قرآن کي ولټوو.
- دا شیان باید د قسمونو په اړه د قرآن د عام اسلوب په رڼا کي تفسیر کړو، لکه څنګه چي په اکثرو مواردو کي "مقسم به" څرګند او واضح شیان او د قرآن هرمخاطب ته قابل فهم دي، پدغو محدودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواردو کي هم بايد داسي شيان مراد وي چي څرګند، قابل فهم او قابل درك وي. نبايد هغه له سترګو پټ او غيبي شيان وګڼو او نه داسي شيان چي د قرآن هر مخاطب ئې نه مني. د الطارق په مبارکې سورې کي د دغسي مواردو په اړه مونږ ته ډېره غوره لارښوونه شوې، هلته په "الطارق: د شپې لخوا څرګندېدونکي او ور ټکونکي" باندي لوړه شوې، د "الطارق" اطلاق په ډېرو شيانو کېدی شي، خو قرآن پدې پسې متصل فرمايي: آيا پوهېږې چي "الطارق" څه دئ، "الطارق" ځلانده ستوری "النجم الثاقب" دئ. که قرآن په خپله دا الطارق نه وی معرفي کړی نو معلومه نده چي د دې په تفسير کي به هم د مفسرينو ترمنځ څومره ژور اختلافات راولاړ شوي وو. پکار ده چي ټول دې ته ورته موارد د دغي لارښووني مطابق تفسير شي.

- قسمونه بايد له قسم نه وروسته ادعا ثابته کړی شي او د قرآن هر مخاطب قانع کړی شي، هر هغه تفسير چي د قسم او ځواب ترمنځ ئې دا تړاو او رابطه په ګوته نکړی شي، هغه ضعيف تفسير او کمزورې توجيه وګڼئ.
- د قرآن د الفاظو په ترجمه کي مخصوصاً هلته چي يو لفظ ډېري معاني ولري او د ټولو له منځ نه د يوې غوره کول غور او دقت وغواړي بايد څو ټکي مراعات کړو:

١. لومړي بايد د هغو الفاظو په رڼا کي د هغه مناسبه معنی غوره کړو چي ترې مخکي او وروسته راغلي او له هغوی سره ئې يو ځای خاص کلام جوړ کړی. د همدې خاص کلام مجموعي مطلب د هر لفظ معنی په خپله واضح کوي، که تاسو د يوه چا د وينا په اکثرو برخو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه شئ نو د همدې په رڼا کې د ده د وینا په هغو برخو او هغو الفاظو هم پوهېدی شي چې لدې نه مخکې د هغه په معنی نه پوهېدئ. له یوه کلام نه روغه او سالمه انتباه د مبهمو الفاظو معنی واضح او مشخص کوي.

۲. بیا باید لدې نه مخکې او وروسته آیتونو ته رجوع وکړو او د هغوی په رڼا کې ئې معنی معلومه کړو.

۳. که ونتوانېدو چې په مربوطه آیت او له هغه نه وروسته او مخکې آیتونو کې د هغه معنی پیدا کړو نو باید په ټول قرآن کې ئې لټه وکړو، قرآن ته په مراجعې سره به حتماً د هغه شرح او تفسیر بیامومو، ځکه د قرآن آیتونه یو بل تشریح کوي، مجمل آیتونه ئې په مفصلو کې تفسیر او توضیح شوي، یو مطلب په یوه ځای کې په خاصو الفاظو په مجمل ډول ذکر شوی خو په بل ځای کې همدا مطلب په نورو الفاظو سره په مشرح او مفصل ډول راغلی، قرآن د الله کتاب دئ، مکمل او له هر نقص او عیب نه منزه، هرڅه ئې واضح او مبین، قرآن لدې عیبه منزه دئ چې په هغه کې دې داسې څه ویل شوي وي چې هرمخاطب ته ئې غامض وي او په خپله ئې وروسته یا مخکې د هغه وضاحت نه وي کړی. خو که احیاناً په ټول قرآن کې د هغه د شرحې په موندلو بریالي نشوو نو دا باید خپل عیب او نقص وګڼو او پدې باور وو چې مونږ په خپله کافي او لازم غور او دقت ندی کړی او پدې وجه په قرآن کې د هغه د شرحې او تفصیل په موندلو نه یو بریالي شوي که نه نو په قرآن کې حتماً د دې وضاحت شوی. بیا باید د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې د هغه په مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهېدو لېّه وکړو، حديث د قرآن شرح او تفسير دئ. لدې نه وروسته به دا گورو چې آيا صحابه وو او د دوی دور ته نږدې مفسرينو پدې هکله څه ويلي که نه، د دوی په رواياتو او آراوو کې داسي رأيه شته چي له ثقه راويانو نه روايت شوې وي او په قرآن او حديث مبتني وي؟

انسان چي کله د خپل مخاطب حالت داسي وګوري چي د ده د خبري په منلو کي متردد دئ، نو د هغه د تشويش رفع کولو او په خپلي خبري د متقاعد کولو لپار ه په داسي څه قسم او لوړه کوي چي مخاطب پرې باور وکړي او دا يقين ئې راشي چي اوس نو دی حتماً رښتيا وايي. د الله په نامه د لوړي او قسم معنی دا ده چي مونږ الله په خپلو خبرو شاهد نيسو او پدې سره مقابل لوري ته ډاډ ورکوو چي رښتيا وايو. په قرآن کي هم د هغو مهمو مطالبو او سترو خبرو د اثبات لپاره چي د قرآن مخاطب ئې له قوي دلائلو نه پرته نه مني، له دغه اسلوب نه کار اخيستل شوی. مونږ پداسي څه لوړه کوو چي مخاطب مو باور وکړي چي د دې "مقسم به" د عظمت په خاطر حتماً رښتيا وايو. خو په قرآن کي قسم د استشهاد لپاره راځي، د "مقسم به" په عظمت د اعتراف لپاره نه بلکه د خپلي ادعا د اثبات لپاره د شاهد او ګواه په حيث وړاندي کېږي. عادتاً بايد د يوه مطلب د اثبات او د مخاطب د اقناع لپاره په داسي څه استشهاد وشي چي د مخاطب له نظره کاملاً مسلم او منل شوی حقيقت وي او هغه ئې د واضح او څرګند دليل په حيث ومني او په هغه کي هيڅ شك او ترديد ونلري، هيڅوك په يوه نامسلم او نامنل شوی دليل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې متنازع فیها ادعا د اثبات هڅه نه کوي او طبعاً چي داسي هڅه نامعقوله او بې فایدې ده.

د قرآن د قسمونو په تفسیر کي د مفسرینو ترمنځ د رأیي شدید اختلاف ګورو، حتي د صحابه وو او د دوی دور ته د نږدې مفسرینو ترمنځ، په احادیثو کي پدې اړه هیڅ روایت نه لرو، د قرآن د تفسیر په هکله د احادیثو په کتابونو کي ډېر محدود روایات لرو، په صحیح ترمذي کي تر نورو کتابونو نه دا راز احادیث زیات نقل شوي خو د هغوی شمېر هم دومره دئ لکه د قرآن د هري سورې په اړه یوازي یو حدیث، د مفسرینو ترمنځ لدې اختلاف نه هم معلومېږي چي پدې هکله ثقه روایات محدود دي، ځکه چي د ثقه روایاتو په شته والي کي دوی اختلاف نشو کولی. نو دې حقایقو ته په پام سره پکار ده چي مونږ د درنو مفسرینو له آراوو نه د هغه چا رأیه غوره کړو چي په قرآن مستنده وي او د خپلي شرحي د اثبات لپاره ئې د قرآن په آیتونو استناد کړی وي.

امید دئ الله تعالي مونږ ته په قرآن د ښه پوهېدو او په هغه د صادقانه عمل توفیق راکړي، د ژوند په ټولو برخو کي مو لارښود وي، د هر اختلاف د حل مرجع او د هر قضاوت لپاره ملاك او معیار او په تیارو شپو کي رونې مشعل.

د مهربان رب د هدایت او توفیق په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الطور

## هیڅوك او هیڅ څه ظالمان د الله له عذابه نشي ژغورلی

د الطور په مبارکي سورې کي د پورتنی خبري د اثبات لپاره د فرعون غرقېدل او د یوه داسي چا په لاس د ده ظالمانه واکمني نسکورېدل د دلیل په توګه وړاندي شوی چي له کتاب نه پرته ئې بل څه په لاس کي نه وو، د دې سورې لاندي آیتونه دا مطلب داسي بیانوي:

وَ الطورِ *
قسم په طور.

وَ کِتَٰبٍ مَّسطورٍ * فی رَقٍّ مَّنشورٍ *
قسم په لیکل شوي کتاب، په نشر شوو پاڼو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ *
قسم په آباد شوي كور.

وَ السقْفِ الْمَرْفُوعِ *
قسم په لوړ شوي چت.

وَ الْبَحْرِ الْمَسْجُورِ *
قسم په ډك شوي بحر.

د قسمونو ځواب دا دئ:

إِنّ عَذَابَ رَبّكَ لَوَاقِعٌ * مّا لَهُ مِن دَافِعٍ *
بې شكه چي ستا د رب عذاب حتماً واقع كېدونكى دئ، هيڅ دفع كوونكى ئې نشته.

بايد وګورو چي دلته د الطور، كتاب مسطور في رق منشور، البيت المعمور، السقف المرفوع او البحر المسجور معنى څه ده او دا شيان څنګه پدې شهادت وركوي چي ستا د رب عذاب حتماً واقع كېدونكى دئ او هيڅ دفع كوونكى ئې نشته.

د دغو قسمونو د تفسير لپاره بايد ترهرڅه دمخه قرآن ته رجوع وكړو، بايد په خپله د قرآن په متن كي د دې قسمونو تفسير ولټوو او د قرآن په مرسته د هغوى په مطلب ځان پوه كړو. خو بايد وګورو چي په قرآن كي د دغو شيانو اصلي مطلب موندلى شو كه نه، كه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن کي پدې اړه څه وضاحت شوی وي نو دا باید مونږ بلې هرې مرجع ته له مراجعې نه مستغني کړي.

اکثراً یو لفظ د ډېرو شیانو لپاره استعمالېږي او بېلې بېلې معناوې ترې اخیستل کېږي، په یوه محل کي یوه معنی او په بل کي بله معنی، د موقعیت او محل له مخې د لفظ معنی تغییر کوي. اصولاً د هر لفظ معنی او مفهوم باید تر ټولو د مخه په هغې جملې کي ولټوو چې دا لفظ پکی راغلی او بیا د همدې جملې نه مخکي او وروسته جملو کي او بیا په ټول مضمون کي. د قرآن د هر لفظ معنی هم باید ترټولو مخکي په هغه آیت کي ولټوو چې دا لفظ پکي راغلی، بیا په مخکنیو او وروستنیو آیتونو کي، بیا په مربوطه سورې کي او بیا په ټول قرآن کي.

د الطور د سورې پدې قسمونو کي یو ئې ډېر واضح دئ او په قرآن کي مکرر یاد شوی: الطور، هغه غر چې موسی علیه السلام پکي په پیغمبرۍ مبعوث شو او د الله له لورې د فرعون مقابلې ته ولېږل شو. د قرآن په څېر د بلیغ کلام تقاضا دا ده چې دا وروستي شیان هم باید د موسی علیه السلام له قصې سره تړاو ولري. راشئ وګورو چې د موسی علیه السلام په قصې کي دا پاتې شیان موندلی شو که نه. که په قرآن کي له فرعوني نظام سره د موسی علیه السلام د مقابلې د قصې بېلې بېلې برخې وڅېړو نو څو ترټولو ستري او حساسې پېښې او ډېر بارز نقاط د هر لوستونکي پام جلبوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موسی علیه السلام د طور په غره کي هغه مهال په پیغمبرۍ مبعوث او د فرعون مقابلې ته ولېږل شو چي له تقریباً لسو کلونو هجرت نه وروسته له مدین نه د مصر په لور روان وو، د شپې په تیاره کي ئې لار ورکه کړه، لرې لیري د غره په ډډه کي رڼا په نظر ورغله، پدې هیلي هغه لور ته روان شو چي هلته به شپانه وي او ده ته به لار وښیي او یا به د اور کومه سکروټه ترلاسه کړي او خپل ماشومان به له یخني وژغوري، خو هلته د الله تعالی له لوري په پیغمبرۍ مبعوث شو او د فرعون د مقابلې هغه ستره دنده ورپه غاړه شوه چي ترخپل توان ئې ډېره ستره او درنه ګڼله.
- په ټولو پیغمبرانو کي یوازي موسی علیه السلام ته داسي کتاب ورکړی شوی چي تیار په لوحو کي لیکل شوی او مسطور وو، نورو ته د کتابونو او صحیفو یوازي وحي شوې، مسطور او لیکل شوي کتابونه او صحیفې ندي ورکړی شوي.
- د فرعون میرمني آسیه په موسی علیه السلام ایمان راوړ، فرعون تر شدید تعذیب لاندي ونیوله، د هغې په پښو او لاسونو ئې میخونه ټکوهل، تر څو له ایمان نه لاس واخلي، خو دغه مؤمنه او پر خدای مینه ښځه د همدې شدید عذاب په وخت کي نه یوازي پر خپل ایمان ټینګار کوي او د فرعون په قصر کي او د ده ترڅنګ له ژوند نه بیزاری اعلانوي، بلکه له خپل رب نه غواړي چي خپل لوري ته ئې وبلي او په خپلي خوا کي ورته "بیت: کور" جور کړي. او الله تعالی ئې سوال مني او په جنت کي ورته دا کور جوړوي. پدې سره قرآن غواړي مونږ پوه کړي چي فرعون د خپل اقتدار د بقا او د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفینو د ځپلو لپاره څه کول او په څنګه څنګه سختو عذابونو ئې تعذیبول، چې له یوې ښځې سره او هغه هم د ده میرمن، داسې سلوك کېږي نو له نورو مخالفینو سره به د فرعون معامله څنګه وه؟ لدې نه ښه معلومېدی شي چې فرعون به له خپلو مخالفینو سره څه کول!!

• فرعون خپل وزیر هامان ته وایي: د پخو خښتو لوړ "صرح: ماڼۍ او قصر" راته جوړ کړه تر څو بر آسمان ته وخېژم او وګورم چې هلته د موسی رب شته که نه!! هغه فرعون ته داسې "مرفوع سقف"، نه د اوسېدو قصر، جوړ کړ چې په تاریخ کې ئې مثال نه لیدل کېږي.

• د موسی علیه السلام او د فرعون د مقابلې قصه هلته پای ته رسېږي چې فرعون له خپل لښکر سره په بحر کې غرق شو، ټول بحر د دوی په مړو "مسجور: ډك" شو او موسی علیه السلام او ملګرو ته ئې په همدې بحر کې الله تعالی نجات ورکړ.

اوس او لدې توضیح نه وروسته پدې خبرې پوهېدل آسانه دي چې پدې قسمونو سره په حقیقت کې هغو سترو پېښو ته اشاره شوې چې له فرعون سره د موسی علیه السلام د مقابلې د تاریخي قصې بارز نقاط او حساس او له پند نه ډك پړاوونه دي او د ټولې قصې خلاصه وړاندې کوي او همدا سلسله پدې شهادت ورکوي چې ستا د رب عذاب هرو مرو واقع کېدونکی دئ. که فرعون ونه توانېدو چې د الله له عذاب نه ځان وژغوري، نه قصرونو وژغورو، نه لښکرو او نه د مخالفینو تعذیب او ځورونو، نو په دې کې شك مه کوه چې ظالمان او فرعونان په هیڅ څه نه د الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتمي عذاب دفع کولی شي او نه ئې ځنډولی.

که په قرآن کي د دې قسمونو په اړه لدې ټول وضاحت سره سره څوك د خپلي خوښي او رأيي تفسير کوي او له کتاب مسطور، بيت المعمور، سقف المرفوع او بحر المسجور نه داسي تعبير وړاندي کوي چي نه له قرآن نه کوم دليل ورته په گوته کولی شي او نه د قسمونو او ځواب ترمنځ تړاو او رابطه ښودلی شي، دا تفسير تفسير بالرأی دی، که هر مفسر ته منسوب شوی وي، د منلو ندي، کوم معتبر مفسر ته د دې رأيي د انتساب په وجه د دې په ځای چي د قرآن پدې وضاحتونو او د قرآن په رڼا کي د دې قسمونو د تفسير په اړه شك وکړو بايد برعکس دې منلي شخص ته دا انتساب غلط وگڼو او په پوره ډاډ او اطمئنان سره ووايو چي يا دغه مفسر اشتباه کړې او يا راوي غلط شوی. بايد پدې کي هيڅ شك ونکړو چي لدې قسمونو نه مراد فقط او فقط همدا د موسی عليه السلام او د فرعون د قصې هغه پنځه مهمي پېښي دي چي په قرآن کي ذکر شوې دي نه بل څه. دا سمه خبره نده چي څوك د قرآن په مقابل کي د بل چا خبري ته اعتناء وکړي او د هغه په خاطر د يوه آيت داسي تفسير ومني چي له قرآن سره اړخ نه لگوي.

د الطور د سورې د قسمونو لدې شرحي نه څو نتيجې ترلاسه کوو:

- قسمونه د يوې مهمي مدعا د اثبات لپاره راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا قسمونه هم په خپل منځ کي او هم د قسمونو له ځواب سره ژوري اړيکي لري.
- لکه څنگه چي انسان په خپلي مدعا د خپل مخاطب د قانع کولو لپاره قسم ته پناه وړي او پداسي څه لوړه کوي چي د مخاطب زړه ته ئې له قسم نه وروسته دا خبره ولوېږي چي اوس نو دی حتماً رښتيا وايي، همداراز قرآن د خپلو مهمو ادعاگانو د اثبات لپاره له همدې اسلوب نه کار اخلي، پداسي څه لوړه کوي چي مخاطب ته واضح او څرگند وي او د مدعا د اثبات په اړه د دليل حيثيت ولري، مخاطب متقاعد کړي او د شك مجال ورته پري نږدي.
- هيڅوك د خپلي ادعا د اثبات لپاره داسي دليل نه وړاندي کوي چي مخاطب ته ئې مجهول، غيرقابل فهم او تر اصل مدعا زيات ناڅرگند وي. قرآن د لمر، سپوږمی، آسمان، ځمکه، شپه، ورځ، سباوون، ستوري او دې ته ورته په څرگندو او واضح شيانو لوړه کوي او د خپلي ادعا د ثبوت لپاره ئې د څرگند دليل په توگه د مخاطب مخي ته ږدي.

د دې نتائجو له مخي د هغو کسانو په اړه چي وايي: له سقف المرفوع نه مراد آسمان دئ او له بيت المعمور نه مراد هغه بيت المعمور چي په آسمان کي ده او له بحر المسجور نه مراد د قيامت په ورځ په بحرونو اور گډېدل او د نورو قسمونو په اړه دې ته ورته نظريات لري، وايو: پدې سره دوی څو اشتباهات کوي:

- د کلام د نظم، يووالي او همغږي غوښتنو ته ئې پام ندي کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ئې د قسمونو تر منځ يووالي ته اهتمام کړی او نه د قسمونو او ځواب تر منځ ارتباط ته.

- آسمان او په آسمان کي بيت المعمور څنګه پدې شهادت ورکوي چي د الله عذاب حتماً راتلونکی دئ؟
- کافر خو نه بيت المعمور مني او نه د قيامت په ورځ د بحرونو اور اخيستل، نو څنګه به پدې باندي قسم سره پدې خبري قانع شي چي په رښتيا د الله عذاب واقع کېدونکی دئ؟!
- د "مسجور" اصلي معنی "ډک" ده، نه اور اخيستی.
- دا خو تفسير بالرأی شو، دا دوی ولې د قرآن په وضاحت اکتفاء نکوي او خامخا داسي رأيه وړاندي کوي چي په قرآن کي ورته دليل نشي موندلی.
- که په قرآن کي د موسی عليه السلام او فرعون په هغي قصې کي چي له "طور" نه شروع او په "بحرالمسجور" پای ته ورسېده، مونږ دا ټول قسمونه موندلی شو، نو بيا ولې بايد پدې اکتفاء ونکړو؟! دا پداسي حال کي چي يوازي پدې سره هم د قسمونو تر منځ او هم د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ژور ارتباط مراعات کېږي او دا خبره په ډاګه کېږي چي د الله د واقع کېدونکي عذاب مخه هيڅوك نشي نيولی، په بحر کي د فرعون غرقېدل ئې ښه واضح مثال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الذاريات

## د قيامت د راتلو وعده رښتوني ده او "دين: مكافات او مجازات" حتماً ترسره کېدونکی دي.

د الذّٰرِيٰتِ سورې په سر کي د پورتنۍ ادعا د اثبات لپاره په څلورو شيانو لوړه شوې:

وَ الذّٰرِيٰتِ ذَرْواً *
قسم په خورونکو شيندونکو

فَالحٰمِلٰتِ وِقْراً *
بيا د درانه پيټي پر شا وړونکو

فَالجٰرِيٰتِ يُسراً *
بيا په آساني خوځېدونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَالْمُقَسِمَٰتِ أَمْراً *
بیا د یوه کار په وېشونکو

او له قسمونو نه وروسته ویل شوي چي:

إِنمَا تُوعَدُونَ لَصادِقٌ * وَ إِنَّ الدِّينَ لَوَٰقِعٌ *
بېشکه چي له تاسو سره کېدونکي وعده رښتوني ده او "دین: د قیامت د ورځي مکافات او مجازات" حتماً واقع کېدونکي دي.

راشئ وګورو چي دلته په څه څه لوړه شوې او دا قسمونه څنګه پدې خبري شهادت ورکوی چي د قیامت وعده رښتوني او هرو مرو واقع کېدونکي ده؟

څو خبري باید په پام کي ولرو:

- د بیان له فحوی او انداز نه معلومېږي چي دلته د یوه شي په څلورو حالتونو لوړه شوې، په وروستیو دریو آیتونو کي د "فاء" ذکر همدا خبره په ګوته کوي.
- دا شی باید څرګند، واضح او د قرآن هرمخاطب ته جوت وي.
- لومړئ باید په قرآن کي د دې لټه وکړو چي څه ئې پدې صفاتو یاد کړي چي شیندل کوي، دروند پیتی حمل کوي، په آسانۍ خوځېږي او د یوه څه د وېشلو دنده ترسره کوي؟

- دا شی باید د دې مدعا لپاره واضح دلیل وي چي "شوې وعده

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتونې ده او حساب کتاب تر سره کېدونکی"

که قرآن ته مراجعه وکړو نو په ګڼ شمېر آیتونو کې به ومومو چې بادونه ئې په همدې صفاتو یاد کړي. چې دوړې شیندي، وربځې په سر اخلي، لرې لرې سیمو ته ئې وړي، په بېلو بېلو لوریو ئې وېشي، د باران د ورولو سبب کېږي، چې بیا پدې باران سره مړه ځمکه راژوندۍ کېږي او ونې او بوټې راشنه کېږي. او قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې په باران سره د مړې ځمکې په راژوندي کېدو استدلال کوي او وايي چې تاسو به هم دغسې بیا راژوندي کېږئ. دا څو آیتونه ئې مثالونه دي:

وَ هُوَ الّذى يُرْسِلُ الرِّيَحَ بُشرًا بَينَ يَدَى رَحْمَتِه حَتى إذَا أقَلّت سَحَاباً ثِقَالاً سقنَهُ لبَلَد مّيّت فَأنزَلْنَا بِه الْمَاءَ فَأخْرَجْنَا بِه مِن كلِّ الثّمرَتِ كَذلِك نخْرِجُ الْمَوتى لَعَلّكُمْ تَذكرُونَ * الاعراف:**۵۷**

او دا خو الله دئ چې بادونه د خپلې پیرزوینې نه مخکې د زېرې په څېر رالېږي، ترهغه چې درنې وربځې پورته کړي، مړه ښاتوبې ته ئې بیایو، نو پدې سره اوبه رانازلوو، بیا پدې سره هرراز میوې راباسو، همداراز به مړې راباسو، ښائې پند واخلئ.

وَ اضرب لهُم مّثَلَ الحَيوة الدُنْيَا كَمَاءٍ أنزَلْنَهُ مِنَ السمَاء فَاخْتَلَط بِه نَبَات الأرْضِ فَأصبَحَ هَشِيماً تَذرُوهُ الرِّيَحُ وَ كانَ اللّهُ عَلى كلِّ شىءٍ مُّقْتَدِراً * الکهف:**۴۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته د دنیوي ژوند مثال بیان کړه، د هغو اوبو په څېر چي له آسمانه ئې رانازل کړو، د ځمکي بوټي پرې ګڼ کړو، بیا داسي خس شي چي بادونه ئې شیندي او الله په هر څه ځواکمن دی.

اللّهُ الّذی یُرْسلُ الرّیَحَ فَتُثیرُ سحَاباً فَیَبْسطهُ فی السمَاء کَیْف یَشَاءُ وَ یجْعَلَهُ کسفاً فَتری الْودْقَ یخْرُجُ منْ خلَلَه فَإِذَا أصاب بِهِ مَن یَشاءُ مِنْ عِبَادِه إِذَا هُمْ یَستَبْشرُونَ*

الروم: ۴۸

الله هغه ذات دئ چي بادونه رالېږي، وربځې وهڅوي، بیا چي څنګه ئې خوښه وي په آسمان کي ئې خورې کړي او ټوټې ټوټې ئې کړي، بیا ګورې چي څاڅکي ئې له منځه راوځي، نو چي له خپلو بندګانو نه ئې چا ته ورسوي ناڅاپه پرې خوښ شي.

وَ اللّهُ الّذی أرْسلَ الرّیَحَ فَتُثیرُ سحَاباً فَسقْنَهُ إلی بَلَدٍ مّیّتٍ فَأحْیَیْنَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتهَا کَذَلِك النُشورُ*

فاطر:۹

او الله هغه ذات دئ چي بادونه ئې راولېږل، چي هغوی وربځې وخوځولې، نو د مړه ټاټوبي په لور مو بېولې، بیا مو مړاوې ځمکه له مرګه وروسته بیا پرې راژوندۍ کړه، "د قیامت د ورځې" نشور او" بیاراژوندي کول به همداسي وي.

- د قسمونو په ځواب کي دوه خبري شوې: له تاسو سره شوې وعده رښتونې ده. او"دین: د قیامت د ورځې مکافات او مجازات" واقع کېدونکی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د قسمونو په سر کي د بادونو د شيندلو او خورولو صفت ته اشاره شوې او په پای کي د تقسيم او وېشلو صفت، لومړئ صفت ئې د قيامت په ورځ د دې دنيا د ختمېدو له صحنې سره او وروستی صفت ئې د مکافات او مجازات له قضيي سره اړخ لګوي، شيندونکي بادونه طوفانونه راولاړوي او تقسيموونکي بادونه هرچا او هري سيمي ته خپله مناسبه برخه لېږدوي، يو پدې دلالت کوي چي په يوه ستر ورانوونکي طوفان سره به دا دنيا ختمېږي او بل پدې چي له هرچا سره به مناسبه معامله ترسره کېږي او مکافات مجازات به تحقق مومي.

زه ورېځي ګورم چي په آسمان کي سره تقسيم شي، په بېلو بېلو لارو رواني شي، هري خوا ته يوه مناسبه برخه وخوځېږي، په غرونو دېري واوري ووروي او په آوارو ځمکو د ضرورت په اندازه باران، هلته دېرو واورو ته ضرورت دئ تر څو کافي مقدار ذخيره شي او بيا په دوبي کي ورو ورو ويلي شي او د چينو، کاريزونو او ويالو په بڼه کي وبهېږي او په هغه وخت کي انسان، حيوان او نبات خړوبه کړي چي بارانونه نه ورېږي، خو په آوارو سيمو کي باران ته اړتيا زياته وي او ورېځي همدا کار کوي!!

که لدې سره سره چي قرآن د نومو‌ړو قسمونو شرح او تفسير زمونږ مخي ته ږدي، څوك راپورته شي او له خپلي رأيي او خيال نه دغو قسمونو ته داسي تعبير وړاندي کړي چي نه له قرآن نه ورته څه دليل لري او نه د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط ښودلی شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پر قرآن د ايمان تقاضا خو دا ده چي داسي تعبيرونو ته هيڅ اعتناء ونکړو.

د همدې سورې په اووم آيت کي په آسمان لوړه شوې او فرمايي:

وَ السمَاء ذَات الحُبُك*
قسم په آسمَان د لارو خاونَد.

او ورپسې د نومړي قسم دا ځواب راځي:

إنّكمْ لَفِى قَولٍ مخْتَلف*
يَقيناً چې تاسو په مختلَفيً وينا کي ياست.

د قسم او ځواب ترمنځ ئې د ارتباط په اړه له څه ويلو نه مخکي بايد څو ټکي واضح شي:

- د آسمان دا صفت چي د لارو خاوند دی، بايد داسي څرګند صفت وي چي د قرآن هر مخاطب ته قابل درك او قابل فهم وي.
- پدې صفت استدلال سره بايد دا خبره ثابته کړی شي چي د بياژوندون په اړه د مخالفينو باور د حقيقت خلاف دئ.
- که لږ دقت وکړو نو په آسمان کي يوازي هغه لاري په نظر راځي چي ستوري او آسماني اجرام پرې درومي، له هغو لارو نه پرته چي د آسمان د هر ستوری لپاره بېله بېله ټاکلې شوې او هر ستوری يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا بلي خوا ته له انحراف نه پرته پکي درومي، نوري لاري نشو ليدلی.

قرآن د لمر او سپوږمۍ په هکله وايي چي هر يو په خپل خاص فلك او مدار کي درومي:

وَ هُوَ الَّذى خَلَقَ الَّيْلَ وَ النهَارَ وَ الشمْس وَ الْقَمَرَ كلٌ فى فَلَك يَسبَحُونَ * الانبياء: ۳۳

او اللّٰه هغه ذات دئ چي شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ ئې پيدا کړل، هر يو په خپل فلك کي خوځي.

• پدې خور او ستر آسمان کي، دا دقيق او کلك نظم، دا بې شمېره ستوري چي هر يو ئې په خپل خپل مدار کي ساتل کېږي، له تصادم او ټکراو نه ئې مخنيوي کېږي او نه پرېږدي چي ستر ستر ستوري واړه واړه جذب کړي، يو د بل په مدار کي داخل شي او هر څه سره ګډ وډ شي، پدې دلالت کوي چي پدې عالم کي نظم حاکم دئ، خوشی او بېهوده او بې هدفه ندی پيدا شوی، خپلي مخي ته ندی پرېښودل شوی، دا ټول داسي واکمن ذات اداره کوي چي هرڅه ئې په واك کي دي او په هر څه قادر دئ.

د دې شرحي نه وروسته د قسم او ځواب ترمنځ ئې تړاو په ډېره آساني موندلی شو. له قيامت نه منکر کسان چي په څه باور لري او د دې باور له مخي څه وايي، دا له هغه څه سره اختلاف لري چي لدې منظم او ستر آسمان نه هر سترګور انسان او هر د عقل او پوهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندئي ترلاسه کوي، دا په يوه څه دلالت کوي او دوی د دې خلاف بل څه وايي، دوی عالم بې هدفه، بې مقصده، نامنظمه، خپلې مخې ته پرېښودل شوې مجموعه ګڼي، چې نه خالق لري او نه واکمن او ځواکمن ساتونکی او اداره کوونکی!! خو آسمان او د آسمان پدې بې شمېره لارو باندې تلونکي ستوري د دې بې بنسټه تصور خلاف په بل څه حکم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# النجم

## دا عالم تلپاتې ندئ، د پای یوه ورځ لري

د النجم په مبارکي سورې کي د ستوري په هغه حالت لوړه شوې چي پرېوزي او همدا د عالم د ختمېدو نښه ګڼل شوې:

وَ النَّجْمِ إِذَا هَوَى *
قسم په ستوري چي کله ناڅاپه پرېوزي.

ورپسې ویل شوي چي:

مَا ضلّ صاحِبُكمْ وَ مَا غوَى *
ستاسو ملګري نه لاره ورکه کړې او نه بې لاري شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ مَا يَنطِقُ عَنِ الهَوَى *
او نه له خپلي نفسي هوى هوس نه خبري كوي.

إِنْ هُوَ إِلا وَحْيٌ يُوحَى *
دا نده مگر وحي شوې د وحي خبره.

د قسم او ځواب ترمنځ ئې د ارتباط موندلو لپاره ترټولو د مخه بايدځو خبرو ته پام وكړو:

- د مكې مشركينو پيغمبر عليه السلام ته د ده د كومى خبري په وجه ويل چي "ضل و غوي: لار ئې وركه كړې او بې لاري شوى"؟
- آيا پدې سورې يا ټول قرآن كي دغه خبره موندلى شو؟ دلته خو قرآن وايي چي دا د ده خپله خبره نده، بلكه د الله له لوري د وحي خبره ده، تاسي هسي د دې خبري په وجه ده ته بد او رد وايئ.
- د ستوري ناځاپي پرېوتل، نه آرام غروب، څنگه پدې شهادت وركوي چي د ده دا خبره رښتيا ده؟

د دې سورې په پاى كي له**٥٧** آيت نه تر **٢٠** آيت پوري لولو چي:

أَزِفَتِ الآزِفَةُ * لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللّه كاشِفَةٌ * أَفَمِنْ هَذَا الحَدِيثِ تَعْجَبُونَ * وَ تَضحَكُونَ وَ لا تَبْكُونَ *
نږدې راتلونكې رانږدې شوه، له الله پرته بل څرگندونكى ورته نشته، نو آيا لدې خبري تعجب كوي او خاندي او ژاړي نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدې آيتونو نه په ښکاره معلومېږي چې قريشو د پيغمبر عليه السلام پدې خبري تعجب کولو او په استهزاء او تمسخر سره به ئې هغه ردوله چې ده ورته ويل: د قيامت ورځ رانږدې شوې، دا دنيا به له منځه ځي او ټول به د حساب او کتاب او د جزا او سزا عالم په لور درومو. په قرآن کي دې ته ورته ګڼ شمېر آيتونه همدا مطلب په ګوته کوي چې قريشو ته د پيغمبر عليه السلام په ټولو خبرو کي د زياتي حيرانتيا او تعجب خبره دا وه چې قيامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به له منځه ځي، بله دنيا ، له ځانګړي نظام سره به راځي، مړه به راژوندي کېږي او د خپلو عملونو سزا او جزا به ګوري، پدې خبري پوري به ئې خندل او د همدې خبري په وجه به ئې کله پيغمبر ته مجنون ويل او کله ضال.

خو دا خبره چې د ستوري ناڅاپي پرېوتل څنګه د د غي ورځي راتګ په ګوته کوي او څنګه د دې ورځي په اړه د پيغمبر عليه السلام د وينا په ارتباط د قريشو ناروا دريځ ردوي، ځواب ئې دا دی:

د يوه ستوري ناڅاپي پرېوتل، له خپل ټاکلي مسير نه وتل او په لايتناهي فضاء کي ورکېدل، داسي دئ لکه له يوی ستري ماڼۍ نه چې يوه خښته راپرېوځي او ځمکي ته په رارسېدو سره ذره ذره شي، د همدغې يوې خښتي راپرېوتل، دا په ګوته کوي چې دا ماڼۍ زړه شوې، نوري خښتي به ئې هم يو په بل پسې راپرېوځي او يوه ورځ به دا ټوله ماڼۍ رانسکورېږي. نو اوس که څوک د پيغمبر عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام دا وینا چي قیامت رانږدې شوی، نه مني او د ده په هکله وايي چي یا غلط شوی یا قصداً دا غلطه خبره کوي، پداسي حال کي چي دا د ده خپله خبره نه ، بلکه د الله له لوري د وحي خبره ده او د ستورو نابېره پرېوتل د هغې پر حقانیت شهادت ورکوي، آیا دا کس له خپل عقل سره جفا نه کوي؟ آیا له ځرگند دلیل نه انکار نه کوي؟ آیا د دوی په عقل او عمدي انکار ژړا نده پکار؟ أَفَمِنْ هَذَا الحَدِيثِ تَعْجَبُونَ * وَ تَضحَكُونَ وَ لا تَبْكُونَ * نو آیا لدې خبري تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نه؟

د دې تعبیر په تائید کي دوه اساسي دلایل په همدې سورې کي راغلي:

- د "هوى" لغوي معنی ناڅاپي پرېوتل دي نه د معمول مطابق غروب. دا پرېوتل د قیامت د نږدې کېدو نښه کېدی شي نه بل څه.
- د سورې په ۵۷ آیت کي د قیامت ورځ د " الاَزِفَةُ: نږدې راتلونکې" په نامه یاده شوې او ویل شوي چي رانږدې شوې ده، لدې نه په ځرگنده معلومېږي چي اصلي موضوع د قیامت رانږدې کېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الصافات

## د ځمکي او آسمانونو پیدا کوونکی او پالونکی یو دی

د پورتنۍ مدعا د اثبات لپاره د الصٰفٰت په مبارکي سورې کي په دغو شیانو لوړه شوې:

وَ الصٰفّٰت صفًّا *
په لیکه شوو لیکه کېدونکو قسم.

فَالزّٰجِرٰت زَجْراً *
بیا په رټلو سره رټونکو باندي قسم.

فَالتّٰلِيٰت ذِكْراً *
بیا د ذکر لپاره په ورپسې راتلونکو قسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له قسمونو نه وروسته ويل شوي:

إِنَّ إِلَٰهَكُمْ لَوَٰحِدٌ * رَّبُّ السَّمَٰوَٰتِ وَ الْأَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا وَ رَبُّ الْمَشَٰرِقِ *
بې شکه چې ستاسو رب يو دی. هماغه د آسمانونو رب، د ځمکې رب او د هرهغه څه رب چې د دوی دواړو تر منځ دي.

د قسمونو د توضيح او له ځواب سره ئې د ارتباط په اړه څو خبرو ته توجه ولرئ:

o دلته د "مقسم به" درې صفات ذکر شوي: الصافات: صف تړونکي، الزاجرات: رټونکي او التاليات: ورپسې راتلونکي. د دې الفاظو اطلاق په ډېرو شيانو کېدی شي، خو پدې پوهېدل چې دلته د هر يوه دقيقه معنی څه ده او د څه لپاره کارول شوی، دا بايد د لغت په کتابونو کې نه بلکه په خپله په قرآن کې، په دغو آيتونو او په همدې سوره کې ولټوو.
o د دوو وروستنيو آيتونه په سر کې د "فاء" توري دا مطلب په ګوته کې چې دا دواړه له مخکني سره تړلي دي او په ټولو کې د يوه شي په اړه خبره روانه ده، الصافات، الزاجرات او التاليات د يوه شي درې حالتونه او صفات دي.
o دا شيان بايد د قرآن د نورو قسمونو په څېر هر مخاطب ته څرګند شيان وي او دا ادعا ثابته کړي چې ستاسو رب يو دی، د آسمانونو، ځمکې او پدوي کې د هرڅه رب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



o د قرآن په څو آيتونو کي ستوري د رڼونکو په نامه ياد شوي.

o په قرآن کي د سپوږمۍ په هکله ويل شوي چي دا ورپسې راتلونکې ده، په شپه کي د لمر له پرېوتو وروسته راڅرګنده شي، ستوري هم د سپوږمۍ په څېر په شپه کي ورو ورو راڅرګندېږي.

o د ستورو په ليدو سره انسان د دې عالم په عظمت او ستروالي پوهېږي، د ورځي لخوا انسان يوازي خپله ځمکه او په آسمان کي لمر ګوري، خو چي شپه شي او ستوري راڅرګند شي نو هلته پدې پوه شي چي دا عالم څومره ستر او خور دی، همدا ستوري ده ته خپل رب ورپه ياد کړي، په حقيقت کي ستوري د الله د يادولو سبب کېږي. د المرسلات په سوره کي بادونه د "الملقيات ذکراً" په صيغه سره د الله د ذکر القاء کوونکي ګڼل شوي او دلته ستوري د الله د ذکر موجب.

o که پدې عالم کي سترګي ورغړو او دا ولټوو چي په يوه ليکه کي ليکه کېدونکي، رڼونکي او ورپسې راتلونکي به څه وي، نو ستوري مو مخي ته ودرېږي، د شپې لخوا په آسمان کي يوه لويه ليکه ګورو چي د ستورو او کهکشانونو مجموعه ده او د آسمان ټول ستوري په حقيقت کي د همدې لوئي ليکي اجزاء دي، زمونږ ځمکه، لمر او شمسي نظام هم د دغي ليکي اجزاء دي. همداراز د آسمان په يوه او بله ګوښه کي د شهاب ثاقب په واسطه د رڼلو صحنې ګورو. او متوجه کېږو چي ستوري ورو ورو رابرسيره کېږي، ځيني د تياري له زياتېدو سره سم راڅرګندېږي او ځيني نور د شپې په سر کي نه وي وروسته راپورته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



o له قسمونو او ځواب نه وروسته دوه آیتونه داسي راغلي چي په ډېر وضاحت سره ښيي چي په لومړنيو آيتونو کي ستورو ته اشاره شوې: آيتونه دا دي:

إِنَّا زَيَّنَّا السَمَاءَ الدُنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ* وَ حِفْظاً مِّن كلِّ شَيْطَٰنٍ مَّارِدٍ*

دا مونږ يو چي د دنيا آسمان مو په ستورو ښايسته کړی او له هر متمرد شيطان نه د ساتني لپاره "مو گمارلي"

o لدغو ټولو خبرو نه په ډاګه معلومېږي چي په لومړيو دريو آيتونو کي د ستورو دريو صفاتو ته اشاره شوې.

o دغه د آسمان بې شمېره ستوري چي په يوې عظيمي ليکي کي تنظيم شوي، هر يو ئې په خپل مدار او فلك کي په منظم طور خوځي، طلوع او غروب ئې منظم، نه يوه شېبه وروسته مخکي کېږي او نه يو له بل سره تصادم کوي، دا شهادت ورکوي چي د ځمکي او آسمانونو رب يو دی. دا استدلال قرآن په بل ځای کي هم کوي او وايي: که په ځمکه او آسمان کي له يوه الله پرته متعدد خدايان وی نو حتماً دواړه تباه کېدل او دا موجود نظم متلاشي کېدو او تباهي خورېده. نظم، يووالی، له تصادم او ټکر نه مخنيوی، هرڅه په خپل خپل ځای کي ساتل او خپل خپل کار ترې اخيستل دا ثابتوي چي دا هرڅه د واحد ځواکمن ذات په اداره کي دي.

په تفسيرونو کي د دغو قسمونو په اړه د ډېرو مختلفو آراوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهد یو ، که څه هم اختلاف په خپله پدې دلالت کوي چي پدې هکله موثق روایت نشته، خو په ځینو تفسیرونو کي پداسي روایاتو استناد گورو چي نورو هغه ضعیف گڼلي. د اختلاف یوه وجه دا ده چي له "التالیات" نه د تلاوت کوونکو معنی اخیستل شوې، حال دا چي دلته د "ورپسې راتلونکو" معنی افاده کوي، لکه څنگه چي د الشمس د سورې په دوهم آیت کي وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا*: قسم پدی سپوږمۍ چي ورپسی شي، د "تلا" لفظ ترشا راتگ افاده کوي.

o که دا ټول آراء د یوه بل څنگ ته کېږدئ او قضاوت وکړئ نو دا درته جوته کېږي چي ترټولو دقیق او په قرآن مستند تفسیر همدا پورتني تفسیر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یس

## قرآن په خپله د دې خبرې د اثبات لپاره کافي دئ چې دا مبارك كتاب د الله له لوري رالېږل شوی

د یٰس په مباركې سورې كې په قرآن لوړه شوې:

وَ الْقُرْءَانِ الحَكِيمِ *
قسم په حكيم قرآن.

د قسم ځواب دا دی:

إِنّكَ لَمِنَ الْمُرْسلِينَ * عَلى صِرَطٍ مُّستَقِيمٍ * تَنزِيلَ الْعَزِيزِ الرّحِيمِ *
بې شكه ته له پيغمبرانو څخه يې، په مستقيمې لارې برابر، د عزتمن رحيم خدای رالېږنه.

په څو نورو سورتونو كې هم دې ته ورته په قرآن لوړه شوې، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو کي ځواب ورته دی او پدې تأکید شوی چي دا کتاب د الله له لوري دی، د دې کتاب په اړه د پیغمبر کار لدې پرته بل څه ندی چي هغه په امانت سره خلکو ته ورسوي، هغه فقط یو امین استاځی دی.
لکه چي د الزخرف په سوره کي راځي:

وَ الْكِتَبِ الْمُبِينِ*
قسم پدې څرگند کتاب.

او ځواب ئې دا:

إِنَّا جَعَلْنَهُ قُرْءَناً عَرَبِيًّا لَّعَلَّكمْ تَعْقِلُونَ*
یقیناً چي مونږ دا یو عربي قرآن گرځولی ترڅو تاسو تعقل وکړئ.

یعني دا مبین کتاب مونږ لېږلی، دا د محمد علیه السلام په خپلو افکارو مشتمل کتاب ندئ، د الله کتاب دئ، په عربي کي ئې راتگ تاسو پدې شك مبتلا نکړي چي مبادا د محمد عربي علیه السلام خپل کتاب وي، دا خو د دې لپاره مونږ په عربي کي لېږلی چي تاسو ئې په مطلب پوه شئ. د دې مبین کتاب هرڅه شهادت ورکوي چي الله رالېږلی.

د الدخان په سوره کي راځي:

وَ الْكِتَبِ الْمُبِينِ *
قسم پدې څرگند کتاب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب ئې دا دی:

إِنَّا أَنزَلْنَهُ فِى لَيْلَةٍ مُّبَرَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ *
يقيناً مونږ هغه په يوې مباركې شپې کې نازل کړ، يقيناً چې مونږ خبرداری ورکوونکي يو.

او د "ق" په سورې کې راځي:

وَ الْقُرْءَانِ الْمَجِيدِ *
قسم په باعظمته قرآن.

ځواب ئې دا دی:

بَلْ عَجِبُوا أَن جَاءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكَفِرُونَ هَذَا شَىْءٌ عَجِيبٌ *
خو دوی پدې تعجب وکړ چې په خپله لدوی څخه يو پيغمبر ورته راغی، نو کافرانو وويل: دا خو عجيب شی دئ!!

او د "ص" په سورې کې راځي:

وَ الْقُرْءَانِ ذِى الذِّكْرِ *
په پند لرونکي قرآن قسم.

چې ځواب ئې دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بَلِ الّذینَ کَفَرُوا فی عِزّةٍ وَ شِقَاقٍ*
خو کافران په غرور او مخالفت کې دي.

پدې ټولو قسمونو کي دا ویل شوي چي د قرآن عظمت او شأن، د قرآن حکیمانه لارښووني، ذکر او پند ئي، پدې شهادت ورکوي چي محمد علیه السلام د نورو پیغمبرانو په څېر یو پیغمبر دی، د ده د پیغمبرۍ د اثبات لپاره قرآن کافي دی، د ده لار سمه ده او د عزیز رحیم خدای له لوري ښودل شوې لار ده. که څوك قرآن ته رجوع وکړي، په شفاف او صاف ذهن سره هغه مطالعه کړي، په هغه کي د ژور حکمت نه ډکو لارښوونو ته ځیر شي، حکیمانه دعوت ته ئې دقیقاً پام وکړي، علمي څېړني ئې او د طبیعت په اړه د هغه دقیق او عمیق علمي بحثونو ته ځیر شي او بیا دا کتاب د یوه ستر لیکوال، لوی عالم، معروف حکیم او نومیالي محقق له کتاب او لیکني سره مقایسه کړي، ډېر ژر او په آساني به پوه شي چي د کوم انسان له خوا د قرآن جوړېدا محال ده، خبري ئي، لارښووني ئي، مواعظ ئي، پرېکړي او قضاوتونه ئي، احکام او قوانین ئي، استدلال ئي، د طبیعت او هستي په هکله دقیق علمي بحثونه ئي، دا ټول په څرګنده توګه ښیي چي دا یوه پیغمبر ته د الله له لوري ورکړی شوی کتاب کېدی شي نه د یوه انسان د ذهن زېږنده، که هرڅومره انسان پوه وي او د ډېر اوچت نبوغ خاوند ، دا ورته ممکنه نده چي داسي کتاب جوړ کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الواقعة

## قيامت به هرو مرو رائحي

د الواقعة په سورې کي هم، د النجم د قسم په څېر، د قيامت د اثبات لپاره د ستورو په مواقع باندي لوړه شوې:

فَلا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ * وَ إِنَّهُ لَقَسَمٌ لَوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ* إِنَّهُ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ *

نو نه، د ستورو په موقعيتونو لوړه کوم او دا خو يقيناً چي ستر قسم دئ که پوه شئ، بې شکه چي دا عزتمن قرآن دی، په مکنون کتاب کي، له پاکانو پرته ئې بل څوك نشي مس کولی، د رب العالمين له لوري نازل شوی.

د الواقعة سوره له سر نه ترپايه د قيامت د ستري واقعې په اړه تفصيلي بحث کوي، لدې قسم نه مخکي د قيامت د منکرينو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب کي چي ويل به ئې آيا مونږ به له هغه وروسته بيا راژوندي کېږو چي په خاورو او هډوکو بدل شو او آيا زمونږ مخکني پلرونه به هم راژوندي کېږي؟ دوی ته ويل شوي، هو؛ تاسو او ستاسو پلرونه به ټول هغي معلومي ورځي ته راغونډ کړی شئ، بيا ورته ويل شوي: تاسو خو مونږ پيدا کړي يئ، ولې بيا ژوندون رښتيا نه ګڼئ؟! ورپسې د بيا ژوندون په اړه څو مهم دلايل وړاندي کوي:

- دا ستاسو د مني نطفه تاسو په يوه ژوندي مخلوق بدلوئ که الله؟
- دا په ځمکي کي شيندلې او کرل شوې دانه تاسو د بوټي په څېر رازرغونوئ که الله؟
- دا له ورېځو نه اوبه تاسو رانازلوئ که الله؟
- که الله وغواړي چي بارانونه ونشي او په بحر کي ستاسي اوبه همداسي تروې پرېږدي، څوک به باران ووروي او څوک به دا د بحر تروې اوبه خوږې کوي؟
- تاسو چي اور بلوئ، دا د سوند ونه او بوټی ئې تاسو پيدا کړی که الله؟

څوک چي دا حقايق په خپلو سترګو ګوري، څنګه د بيا ژوندون خبره ورته ګرانه او د نه منلو برېښي؟ څنګه هغه ذات لدې عاجز ګڼي چي دا ټول ستر ستر کارونه د ده په اراده ترسره کېږي؟

لدي نه وروسته د ستورو په مواقع لوړه شوې، ګورئ چي هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستوری ځانته بېل بېل مدار لري، پدې مدار کي په منظم طور، يوې خوا بلي خوا ته له انحراف نه پرته خوځي، له يوې شپې وروسته مخکي کېدو پرته طلوع او غروب کوي، دا بې حسابه ستوري، پدې بې انتهاء فضاء کي،دا ټول څوك اداره کوي؟ څوك هريو په خپل مدار کي ساتي؟ آيا د دې خور او پراخ عالم ساتونکی او اداره کوونکی ذات لدې نه عاجز ګڼئ چي تاسو بيا راژوندي کړي؟

د قرآن په ډېرو نورو آيتونو کي هم دې ته ورته ويل شوي چي آيا د دې آسمانونو پيدا کول ګران دئ که ستاسو بياژوندي کول؟ لکه چي فرمايي:

ءَ أنتُمْ أشدُّ خَلْقاً أمِ السمَاءُ بَنَاهَا * النازعات: ۲۷

آيا ستاسو پيدا ابنبت ګران کار دئ که آسمان چي جوړ ئې کړ؟

لَخَلْقُ السموَت وَ الأرْضِ أكبرُ مِنْ خَلْقِ النّاسِ وَ لَكِنّ أكثرَ النّاسِ لا يَعْلَمُونَ* غافر: ۵۷

د آسمانونو پيدا ابنبت د خلکو تر پيدا ابنبت نه ډېر ستر او لوی کار دئ خو اکثر خلك نه پوهېږي.

لدې شرحي نه وروسته د دغه قسم او ځواب ترمنځ د ارتباط په څرنګوالي پوهېدل آسانه دي او هغه دا چي:

قرآنکريم وايي چي الله تعالى به مړي بياراژوندي کوي، د آسمانونو دا بې شمېره ستوري چي هر يو ئې په خپل مدار کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتل کېږي پدې شهادت ورکوي چي دا عالم يو قدير او ځواکمن ساتونکی او پالونکی لري، قرآن د همدغه رب العالمين له لوري رالېږل شوی، دغه قرآن چي د کومي خبري دعوی کوي د ستورو مواقع د هغه په حقانيت شهادت ورکوي، خو پدې قرآن هغه څوك پوهېدی شي او د هغه اسرارو ته ئې لاس رسي چي پاك وي، ناپاکان، چي افکار ئې گنده وي، عزائم ئې گنده وي، د زړه او دماغ سلول سلول ئې له گنده رزق روزي نه جوړ شوی وي، هغوی د قرآن په حقايقو له پوهېدو عاجز دي، له قيامت نه د دوی د انکار وجه دا نده چي کافي او قانع کوونکي دلايل ئې مخي ته ندي ايښودل شوي، قرآن کافي دلايل ندي وړاندي کړي يا پدې عالم کي خواره دلايل د منکرينو د قانع کولو لپاره کافی ندي، برعکس د دوی گندگي، گنده زړه او دماغ او گنده افکار او عزائم پدې حقيقت باندي د باور او ايمان مانع گرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# القلم

## د قرآن او هر لیکوال د کتاب ترمنځ ژور تفاوت دا ښيي چې دا د الله کتاب دی.

د القلم د مبارکې سورې په لومړي آیت کې په قلم او هغه څه چې دوی ئې لیکي لوړه شوې او ورپسې پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ته د خپل رب د پیرزوینې په وجه مجنون نه یې:

وَ الْقَلَمِ وَ مَا يَسطرُونَ*
قسم په قلم او په هغه څه چې دوی ئې لیکي.

مَا أنت بِنِعْمَةِ رَبِّك بِمَجْنُونٍ*
ته د خپل رب د نعمت په وجه مجنون نه یې.

لدې د مخه چې دلته د قسم او ځواب ترمنځ ئې په ارتباط پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او دا توضیح کړو چي څنګه "قلم" او "هغه څه چي دوی ئې لیکي" پدې خبري شهادت ورکوي چي پیغمبر علیه السلام لکه څنګه چي د ده دښمنان وایي مجنون ندي، باید ځو خبرو ته پام وکړو:

- قریشو هغه وخت د پیغمبر علیه السلام په خلاف ناروا او ظالمانه تبلیغات پیل کړل چي ده قرآن ته راوبلل، لدې د مخه ئې هغه ته په ډېره درنه سترګه کتل، د ده راتلونکې او د ده په وجه ئې د ټول قوم راتلونکې ډېره روښانه ګڼله، د هر چا دا طمع وه چي دی به ستر لاربښود او د ولس ناجي وي، خو کله چي دی په پیغمبري مبعوث شو، په ټولني کي په خور فساد، ظلم، شرك او جهل ئې اعتراض وکړ او خلك ئې د یوه الله بندګي ته راوبلل، لده سره مخالفتونه پیل شوو او دښمنان ئې په عداوت او عناد کي هومره مخکې ولاړل چي دی ئې په جنون او لیونتوب متهم کړ!!
- په دوهم آیت کي دغې خبري ته اشاره شوې او پیغمبر علیه السلام ته په خطاب کي ویل شوي: ستا رب تا ته خپل ستر نعمت پیرزو کړ او دا قرآن چي د الله لوی نعمت دئ تا ته درکړی شو اوس د دغه نعمت په وجه ستا دښمنان تا ته مجنون وایي، دا خو نه ښائي چي قرآن ته د بلني او دعوت په خاطر تا ته مجنون وویلي شي.

د دغو خبرو له توضیح نه وروسته د قسم او ځواب ترمنځ ئې د ارتباط په اړه باید ووایو:

هر قلم چي د قلم له پیدا ایښت نه ترنن پوري څه لیکلي، تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اي قريشو چي څه ليکي، دا ټول له هغه قرآن سره مقايسه کړئ چي محمد عليه السلام راوړی، بيا د دې کتاب او د راوړونکي په هکله ئې قضاوت وکړئ او وګورئ چي تاسو لدې سره په مخالفت کي څومره ستره جفا او ظلم کوئ، مخصوصاً چي د همدغه عظيم الشأن قرآن په وجه "چي د هيڅ قلم او د هيچا ليکنه ورسره برابري نشي کولی" تاسو ده ته مجنون واياست، څومره ظالمانه قضاوت!! څومره په حق تلفي او حق دښمني ولاړ قضاوت!!

له بعثت نه مخکي هيچا د پيغمبر عليه السلام په خلاف تبليغات نه کول، هرچا ستايو، هغه ئې امين، صادق او پوه انسان ګڼلو، د ده په لوړ شخصيت ئې اعتراف کولو، هرچا لده نه او د ده مستقبل ته ډېر توقعات لرل، خو له بعثت نه وروسته کله چي الله پرده فضل وکړ او د قرآن په څېر ستر نعمت ئې ورکړ او ده قرآن د خلکو مخي ته کيښود او هغه ته ئې راوبلل، نو د خلکو له کيني، دښمني او عداوت سره مخامخ شو، هغو کسانو چي لدې د مخه ئې د ده ستايني کولی اوس ده ته مجنون وايي!! الله تعالي پدې آيتونو سره له يوې خوا ده ته اطمئنان ورکوي چي پرتا باندي د قرآن نزول او تا ته چي د الله له لوري کومه دنده درکړی شوې دا خو د الله لوی فضل دی، پر تا هم او ستا پر قوم هم، د دوی تبليغاتو ته له اعتناء پرته خپل مأموريت ترسره کړه، له بلي خوا د ده مخالفينو قريشو ته وايي چي د پيغمبر عليه السلام دعوت، د روښانه راتلونکي په ا ړه د ده اميدونه، د خپلي مبارزې د حتمي بري په هکله د ده ډاډ، هسي احساسات او جذبات او له ليونتوبه ډك توقعات ئې مه ګڼي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفت او دښمني ئې لاس واخلي. کوم څه چي تاسو د ده په خلاف دښمني ته هڅوي هغه په حقیقت کي د الله یو ستر نعمت دی، د ده لپاره هم او ستاسو لپاره هم، عجیبه ده چي دغه قرآن، دا د الله ستر نعمت، دا چي هیڅ قلم په لاس لیکوال ئې سیالي نشي کولی، ستاسو د مخالفت سبب شوی!!

د دې قسم په اړه مزید تفصیلي او دقیق بحث د القلم د سورې په تفسیر کي وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الحاقة

## د پيغبر لوړ شخصيت د ده د صداقت نښه ده

د الحاقة سورې په ۳۸ او ۳۹ آيتونو کي په "ما تبصرون: څه چي ويني ئي" او " ما لاتبصرون: څه چي نه ئې ويني" لوړه شوې او ورپسې ويل شوي:

إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسولٍ كَرِيمٍ *
بې شکه چي دا حتماً د مخور رسول وينا ده.

مخکي لدې چي د قسمونو او ځواب ترمنځ ارتباط تشريح شي بايد څو خبري توضيح کړو:

- په " مَا لا تُبْصِرُونَ : څه چي نه ئې ويني" باندي قسم، يو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو دوو قسمونو څخه دئ چي په نامرئي شيانو لوړه شوې، دلته په نه ليدل شوو او د القيمة په سوره کي د قيامت په ورځ او دا د قرآن د عمومي قاعدې خلاف برېښي، خو دا بايد وګورو چي آيا پدې دوو مواردو کي واقعاً عمومي قاعده نه ده مراعات شوي او که نه، دا هم د عمومي قاعدې مطابق ده خو په سطحي نظر بېل برېښي؟

- دا هم بايد وګورو چي آيا له "ما تبصرون" او " ما لاتبصرن" نه ټول شيان په عام طور له کومي استثناء پرته مراد دي، که نه د کلام مخکنۍ يا وروستنۍ برخه ئې محدودوي او په خاصو شيانو کي ئې راخلاصه کوي؟
- له قسمونو نه ورسته آيتونه پدې مطلب تأکيد کوي چي دا د يوه مخور پيغمبر وينا ده، نه د شاعر وينا ده او نه د کاهن، د رب العالمين له لوري رالېږل شوی قول دی:

> إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسولٍ كَرِيمٍ * وَ مَا هُوَ بِقَوْلِ شاعِرٍ قَلِيلاً مَّا تُؤْمِنُونَ * وَ لا بِقَوْلِ كاهِنٍ قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ * تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَلَمِينَ *
>
> بې شکه چي دا حتماً د مخور رسول وينا ده او د شاعر وينا نده، ستاسو باور کول لږ دي او نه هم د کاهن وينا ده، ستاسو پند اخيستل لږ دي، د رب العالمين له لوري رالېږل شوی دی.

او ورپسې وايي: که ده له خپلي خوا څه ويلي وی او هغه ئې الله ته منسوب کړی وی، نو الله حتماً داسي کار جدي نيولو او حتماً ئې هغه ته سخته سزا ورکوله، لدې نه په څرګنده معلومېږي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسمونه هم د پيغمبر عليه السلام په اړه دي او له "ما تبصرون" او " ما لاتبصرن" نه هم د ده د شخصيت ځرګندي او ناځرګندي برخي مراد دي.

- دا صحيح نه ده چي د يوې عامي خبري نطاق، د هغې نه مخکي او وروسته کلام ته له پام نه پرته، هر څه ته عام وګڼو.
- دا هم يوه اشتباه ده چي د يوه کلام يوه برخه د ورته برخو او د عمومي قاعدې خلاف تعبير کړو. پداسي حال کي چي د قرآن په ټولو قسمونو کي په ډېرو ځرګندو او واضح شيانو لوړه شوې دا صحيح نده چي يو دوه قسمونه دي داسي تعبير شي چي لدې عمومي قاعدې سره تصادم کوي.
- د دې مطالبو په پام کي نيولو سره د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط ډېر په آساني درك کولی شو او هغه دا چي: دلته قريشو او د قرآن ټولو مخاطبينو ته ويل شوي چي د پيغمبر عليه السلام د ژوند هغو برخو ته پام وکړی چي تاسو ته ځرګندي دي، دا د خپلو شاعرانو او کاهنانو له شخصيت سره مقايسه کړی، د دوی ترمنځ دا ژور او ستر تفاوت به حتماً تاسو په دې قانع کړي چي دی نه شاعر دئ نه کاهن، بلکه د الله مخور استاځی دئ او وينا ئې د الله تعالی قول. ستاسو شاعران خو د مفسدو او ظالمو حاکمانو خدمت کي دي، د څو پيسو لپاره د دوی مدح او ستاينه کوي، د هغه چا هجو کوي چي څه ورنکړي او يا د دوی په هجوي سره له بل نه څه ترلاسه کړي. ستاسو کاهنان خو هغه دي چي هر يوه، دلته او هلته، په بازار او کوڅه کي، دکانونه پرانستی، خلك غولوي، په فال، کوډو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعویذونه سره له خلکو شکراني ترلاسه کوي، خو پیغمبر هغه څوك دئ چي تاسو په خپله د ده په صداقت، عدالت، امانت او زړي سوي شهادت ورکوي، د ظلم او تېري مخالف، د مظلومانو ملگري، د ظالمانو دښمن، د برابري او عدالت داعي، هغه چي فساد ، تېری، خدعه او دروغ حرام گڼي، نه یوازي دا چي په خپلي مبارزې له خلکو د څه اجر او بدلې طمع نه لري بلکه قرباني ورکوي، له خطرونو سره ډغري وهي او ستونزې گالي، هغه خو خلکو ته وایي: "اتبعوا من لایسئلکم اجراً و هم مهتدون" په هغه چا پسې اقتداء وکړئ چي په سمه لار روان دئ، قول او عمل ئې سم دئ او له تاسو نه د څه ښکولو هڅه نه کوي، لږ د پیغمبر علیه السلام د ژوند هغه برخي هم وڅېړئ چي ستاسو له سترگو پټی دي او یوازي نږدې ملگري او د کورنۍ غړي ئې پرې پوهېږي، دا برخي د خپلو مشرانو، شاعرانو او کاهنانو د شخصي ژوند له پټو برخو سره مقایسه کړی، له ژور تفاوت نه به په خپله پوه شي چي دی د الله مخور استائي دئ او وینا ئې د الله کلام، آیا د ده په قول، عمل او اخلاق کي یوه داسي ښلگه په گوته کولی شي چي د ده د لوړ شخصیت او د رسالت د ادعا منافي وي؟ لومړي کس چي پر ده ایمان راوړي او د ده وینا د الله له لوري وحي گڼي، د ده هغه درنه میرمن ده چي د ده له ټولو پټو اسرارو خبره او له هره اړخه ئې ښه پېژني، هغه ښځه چي تاسو د قریشو ترټولو صالح، نیکه، عقلمنه او پوه ښځه گڼله!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# المعارج

## بیا ژوندون یو حقیقت دی

د المعارج د مبارکي سورې په ۴۰ آیت کي په "مشارق" او "مغارب" لوړه شوې او ورپسې ویل شوي: مونږ پدې قادر یو چي دوی تر اوسني حالت نه په ښه بڼه واړوو او تر دې په غوره کیفیت کي ئې بیارا پیدا کړو او مونږ وروسته پاتې کېدونکي نه یو.

فَلا أُقْسِمُ بِرَبِ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ إِنّا لَقَدِرُونَ * عَلى أَن نُبَدِّلَ خَيراً مِّنْهُمْ وَ مَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ *

المعارج: ۴۰-۴۱

نو نه، د ختیځو او لوېدیځو په رب مې قسم چي مونږ قادر یو، پدې چي دوی تر اوسني حالت نه په ښه بڼه واړوو (تر دې ئې په غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيفيت کي بيارا پيدا کړو) او مونږ وروسته پاتې کېدونکي نه يو.

دلته هم د قرآن د عمومي قاعدې مطابق په يوه څرګند حقيقت لوړه شوې او د دې ادعا لپاره د شاهد په حيث وړاندې شوې چې الله د انسان په بيارا ژوندي کولو قادر دئ او هيڅ څه ئې په هيڅ کار کې نشي ناتوانه کولی. د مشارق او مغارب په پالونکي، په هغه ذات چې د ده په اراده دا ستوري او لمر سپوږمۍ، راخېژي او لوېږي. راشئ وګورو چې مشارق او مغارب څنګه پدې خبري شهادت ورکوي. چې الله تعالی د انسان په بيا راژوندي کولو قادر دی؟

يو ځل مشرق او مغرب ته توجه وکړئ، د لمر او ستورو ختو او لوېدو ته لږ په غور سره پام وکړئ، پدې غور وکړئ چې دا لمر څنګه هره ورځ له خاص ځای نه طلوع کوي او په خاص ځای کې پرېوځي، هر ستوری همداسي ځانته معين ختيځ او لوېديځ لري، ځای او وخت ئې ټاکل شوی، په خپل خاص وخت او په خپل خاص ځای کې ئې ختل او پرېوتل دي، مګر هغه ذات چې دا پراخ او ستر عالم له خپلو ټولو سماوي اجرامو سره اداره کوي، هره ورځ لمر او ستوري له خپل خاص ځای نه، له هيڅ تغيير او تأخير نه پرته، راپورته کوي او پرې باسي، آيا دا ستر او ځواکمن ذات لدې عاجز ګڼئ چې انسان له مرګ نه وروسته بيا راژوندی کړي؟!! زما دې پدې ذات قسم وي چې هغه نه يوازې پدې کار قادر دئ بلکه کولی شي تاسو پداسي نوې بڼې کي راپيدا کړي چې تراوسني حالت نه مو ډېر ډېر غوره وي، هغه نه يوازي لدې کار نه عاجز ندئ بلکه د هيڅ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندي بې وسه او مغلوبېدونکی ندی.

همدا راز د لمر طلوع او غروب د ژوندون له اساسي عواملو څخه دی، که دا د لمر راختل او پرېوتل نه وی نو د ځمکي په سر به یو ژوندي موجود هم نه وو راپيدا شوی، ټول ژوندي موجودات د خپل پيدا ايښت او د خپل ژوند د دوام لپاره هغي تودوخي او رڼا ته اړ دي چي لمر ئې ځمکي ته ورکوي، که دا نه وی او پدې سره د ځمکي هوا داسي معتدله نه ساتل کېدی چي ژوندون ورته ضرورت لري، نو د ځمکي پر سر به هيڅ ژوی نه وو راپيدا شوی. که دا مطلب په پام کي ولرو نو پدې خبري پوهېدل آسانه دي چي په مشارق او مغارب باندي د بيا ژوندون لپاره ولې استناد شوی.

د دې قسمونو د مزيد شرحي لپاره د المعارج سورې تفسير ته رجوع وکړئ.

دا مطلب هم د پام وړ دئ چي پدې آيتونو کي د "مشارق" او "مغارب" صيغې کارول شوې چي د مشرق او مغرب زياتوالي افاده کوي او لدې نه معلومېږي چي قرآن کريم د خپلو مطالبو په بيان کي څومره دقيق دئ او د څومره دقيقو او ظريفو نقاطو خيال ساتي. پدې پوهېږو چي د لمر طلوع او غروب هره ورځ له بلي نه فرق کوي، نن له يوه ځای نه او سبا له بل ځايه، د کال د ورځو په شمېر مشارق او مغارب لري، د همدي لپاره قرآن کريم د مشارق او مغارب صيغې کارولې، همدا راز لمر په يوه کال کي دوه مشرقه او دوه مغربه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوبي او ژمي کي لري، يو د دوبي تر ټولو اوږدي ورځ کي او بل ئې د ژمي ترټولو لنډي ورځ کي، د همدې لپاره قرآن په بل ځای کي د مشرقين او مغربين الفاظ کارولي چي دوه مشرق او دوه مغرب افاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# القيامة

## د انسان ملامتونکی نفس د قيامت لپاره دليل دی

د القيٰمة په مبارکي سورې کي په " يَوۡمِ الۡقِيَمَةِ" او "النَّفۡسِ اللَّوَّامَةِ" لوړه شوې، خو د قسمونو نه وروسته په ټولي سورې کي داسي څه نه مومو چي د قسمونو ځواب وي. د قرآن په ټولو نورو سورتونو کي معمول دا ده چي لومړی په څرګند او منل شوي شي لوړه کېږي بيا د قسم ځواب د يوې داسي مسلمي او انکار نه منونکې دعوی په څېر ذکر کېږي چي همدا قسمونه ئې په حقانيت شهادت ورکوي، د دې عامي قاعدې مطابق بايد لومړي په"نفس لوامة" لوړه شوې وي او بيا د قيامت راتګ د دې قسم د ځواب په حيث ورپسې راغلی وي، خو دلته "يوم القيٰمة" د داسي يوه حقيقت په حيث ذکر شوی چي د قرآن هر مخاطب بايد د هغه په اړه شك او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تردید ونلري او د مسلم او قطعي حقیقت په حیث ئې ومني او بیا د قیامت د اثبات لپاره په "نفس لوامة" استناد شوی. دا چي ولې دلته د نورو سورتونو په څېر د قسم ځواب په څرګند طور ندي ذکر شوی او ولې د قرآن د عمومي قاعدې مغایر پداسي څه لوړه شوې چي څرګند ندي، پدې پوهېدل لږ دقت غواړي. په لږ دقت سره پدې خبري پوهېدی شو چي د قسمونو ځواب په خپله په قسمونو کي نغښتي دی او هغه داسي: د انسان په وجود کي د وجدان په نامه د داسي یوې مَلَکي شاهد یو چي د هر بد عمل او ګناه په مقابل کي انسان ملامتوي، د ده بد عمل غندي، دا استعداد کسبي ندي بلکه د ده په فطرت او خټه کي ایښودل شوی، په هر ښه او بد ، صالح او طالح انسان کي شته، دا وجداني محاکمه په هرچا کي تل فعاله وي، نه یوازي د هرعمل په اړه قضاوت کوي بلکه د مجازات پرېکړه هم کوي، مګر نه ګوري چي انسان کله د یوه غلط کار نه وروسته خپل مخ په څپېړه وهي، کله ئې وجدان دې ته اړ کړي چي محکمې ته رجوع وکړي او په خپل داسي جرم اعتراف وکړي چي لده پرته هیڅوك پرې خبر نه وي، کله بیا د وجدان له عذاب نه د نجات لپاره ځان وژني ته پناه وړي، وجدان ئې د دې فیصله کوي چي دی د مرګ وړ دئ، په خپله ځانته همدا سزا ورکوي. په انسان کي دا "ملامتونکی نفس" د قیامت د اثبات لپاره قوي دلیل دی،دا ځکه چي په انسان کي د قضاوت او محاسبي دا صفت پدې شهادت ورکوي چي د انسان خالق او پیداکوونکی به هم خامخا پدې صفت متصف وي، د "مخلوق" او "مصنوع" هر کمال او نیك صفت، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خالق" او "صانع" کي د همدې صفت په شته والي شهادت ورکوي، ممکنه نده چي په مصنوع کي دي داسي کوم غوره صفت وي چي د ده په صانع کي دي همدا صفت په اتم او اکمل طور نه وي. نو هغه ذات چي انسان ئې پيدا کړی او په ده کي ئې "ملامتوونکی نفس" اېښې او د وجدان مَلَکه ئې ورکړې او هغه ئې داسي جوړ کړی چي د هر بد عمل او هري گناه په اړه قضاوت کوي، حتي خپل ځان ملامتوي او مناسبه سزا ورکوي، دا ذات به حتماً پدې صفت متصف وي، حتماً د انسان د کړو وړو په هکله قضاوت کوي، ستا وجداني محاکمه پدې خبري شهادت ورکوي چي د قيامت ورځ به هرو مرو راځي او هغه ذات به ستا د عملونو په اړه قضاوت کوي چي ستا وجدان او ملامتوونکی نفس د ده وديعه او پيرزوينه ده. که انسان د هري پېښې او صحنې په اړوند خامخا قضاوت کوي، يوی ته په بلی ترجيح ورکوی، يوه تائيدوی، بله ترديدوی، دوه کسان د دوو بېلا بېلو کړو وړو په حال کي گوری، يوه ته ښه او بل ته بد وايی، دوه کسان د جګړی په حالت کي گوری، يو ظالم او بل مظلوم، د يوه په نسبت په خپل زړه کي ترحم او زړه سوي احساسوی، غواړی د هغه مرسته وکړی، د بل په نسبت په خپل زړه کي کرکه محسوسوی، غواړی د هغه مخنيوی وکړی، که ئی له وسه پوره وه حتماً د مظلوم مرستی ته راوړاندی کېږی او د ظالم مقابله کوی، ظالم ته د خپل ظلم جزا ورکوی. وواياست: په انسان کي دا د قضاوت استعداد چا ايښی، دا د مکافات او مجازات تصور چا ورکړی، دا د ښه او بد د تفکيك او تميز فهم يی له کومه کړی؟ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه دا منی چي په انسان کي دي دا صفت وي او د ده پیدا کوونکی ذات دي پدی صفت متصف نه وي؟ د عقل تقاضا خو دا ده چي د انسان پیداکوونکی او خالق باید په اتم او اکمل صورت کي د "قضاوت" او مکافات او مجازات په صفت متصف وی، هغه به حتماً د قیامت ورځ راولي ترڅو دا قضاوت ترسره کړي.

د دغي شرحي په پام کي نیولو سره د دې قسمونو مطلب او په خپلو منځونو کي تړاو ښه څرګند بږي او دا معلومېږي چي دلته هم د نورو قسمونو په څېر د قرآن عمومي قاعده مراعات شوي. دلته د قرآن مخاطب ته داسي ویل شوي چي: نه، قیامت یو مسلم حقیقت دی، حتماً به راځي، له قیامت نه ستا انکار خوشي بې بنسټه انکار دی، ستا "نفس لوامة" پدې شهادت ورکوي چي د قیامت او محاکمي او محاسبي ورځ به حتماً راځي.

وروسته په همدې سلسله کي فرمایي: آیا انسان دا ګمان کوي چي د ده وراسته هډوکي او په خاورو بدل شوي اندامونه د بیا راغونډولو ندي او الله به بیا د ده جثه جوړه نکړي او هغه ته به سا ورنکړي!! پداسي حال کي چي الله نه یوازي د ده په بیا راژوندي کولو قادر دئ بلکه پدې هم قادر دئ چي د ده د ګوتو د سرونو ګاري په خپل مخکني شکل کي بیاجوړي کړي. د قیامت په اړه د انسان د انکار وجه دا نده چي هغه ته کافي او قانع کوونکي دلایل په لاس ندي ورغلي او یا لدې حقیقت نه د ده انکار د جهل او ناپوهي په وجه ده، داسي نده ، برعکس د ګناه اراده او په راتلونکې کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فجور او بدکاري عزم ئې دې ته هڅوي چي له قيامت نه عمداً انکار وکړي. په قيامت باور خو د ده د وجود په خټه کي ايښودل شوی، د ده وجدان د قيامت او حساب کتاب يوه څرګنده بېلګه ده، د ده مشکل لدې نه راولاړ شوی چي "هوی او هوس" ئې دې ته اړ کوي چي د خپل "وجدان" او "عقل" پرېکړه تکذيب کړي، د ده قضاوتونه له هوس نه راخوټېږي، تل د خپل وجدان د حکم او غوښتنې خلاف ګناه ته ملا تړي. که دی د خپل هوس فرمان ته غاړه کښېنږدي او د ګناه د ارتکاب اراده او عزم پرېږدي نو د ده او قيامت ترمنځ به ټول حجابونه له منځه ولاړ شي او په خپل نفس کي به د هغه لپاره شواهد ومومي.

لا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَمَةِ * وَ لا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ * أيحْسب الانسـنُ أَلَّن نجْمَعَ عظامَهُ * بَلَى قَدرِينَ عَلى أَن نُّسوِّى بَنَانَهُ * بَلْ يُرِيدُ الانسَنُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ * يَسئَلُ أَيّانَ يَوْمُ الْقِيَمَةِ *

نه، زما دي قسم وي د قيامت په ورځي او نه، زما دي قسم وي په ملامتونکی نفس، آيا انسان داسي انګېري چي هډوکي به ئې بياراغونډ نکړو، هوکي، پدې برلاسي يو چي د ګوتو سرونه ئې بيا جوړ کړو، بلکي انسان غواړي په خپلي راتلونکې کي فجور وکړي، نو پوښتي: د قيامت ورځ به کله وي؟!

په " لا أُقْسِمُ" کي د "لا" په اړه د مفسرينو ترمنځ اختلاف شته، صحيح رأيه دا ده چي په "لا" سره د مخاطب رأيه او نظر رد شوی، بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکث دی او بیا لوړه شوې، د دې تفصیل د همدې رسالې د البلد د قسمونو په شرح کې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# المرسلات

## دا بادونه شهادت ورکوي چي د قیامت وعده رښتونې ده

د المرسلات په مبارکي سورې کي هم د یوه شي په پنځو حالتونو لوړه شوې او ورپسې ویل شوي: هغه څه حتماً واقع کېدونکي دي چي وعده ئې درکول کېږي.

وَ الْمُرْسلَت عُرْفاً * فَالْعَصفَت عَصفاً * وَ النّشرَات نَشراً * فَالْفرِقَت فَرْقاً * فَالْمُلْقيَت ذكْراً * عُذْراً أوْ نُذْراً *

قسم پدغو لېږل شوو په پیژاندهٔ طریقه، بیا قسم پدې شیندونکو د شیندلو په حالت کي، قسم پدغه خورونکو د خورولو په حالت کي، بیا قسم په فرق کوونکو د بېلولو په حالت کي، بیا د ذکر پدغو القا کوونکو، د عذر او یا د خبرداري لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کومي خبري د اثبات لپاره چي دا قسمونه شوي، دا ده:

إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ *
بې شکه چي له تاسو سره ژمنه حتماً ترسره کېدونکي ده.

وروستي آیتونه دا "محتومه وعده" په پوره وضاحت سره معرفي کوي او وايي چي لدې وعدي نه مراد د قیامت او بیاراژوندي کولو وعده ده. خو باید وګورو چي دلته په څه څه لوړه شوې او ارتباط ئې د قسمونو له ځواب سره څنګه دئ او دا قسمونه څنګه پدې خبري دلالت کوي چي د بیاژوندون وعده رښتونې وعده ده او حتماً به تحقق مومي. پدې اړه څو خبرو ته توجه وکړئ:

- د مفسرینو ترمنځ پدې اړه ژور اختلاف ګورو چي دلته په څه څه لوړه شوې، ځیني ئې "بادونه" ګڼي، ځیني ئې د ملائکو هغه بېل بېل ټولګي ګڼي چي په بېلو بېلو امورو موظف شوي، ځیني لومړي څلور قسمونه په بادونو او پنځم ئې په ملائکو حمل کوي. دا د رأیي اختلاف ښيي چي د دغو آیتونو په اړه مربوط روایات په خپلو کي متعارض دي او داسي واحده رأیه چي په صحیح حدیث او د صحابه وو په متفق علیه نظر باندي مستند وي، نشته.
- د قرآن د عمومي قاعدې له مخي دا باید داسي څرګند شي وي چي د قرآن هر مخاطب ته واضح وي او پر هغه باندي په استناد سره دا خبره ثابته کړی شي چي د بیاژوندون وعده رښتونې وعده ده.
- د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي بادونه د "عاصف" په صیغه یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي او د ملائکو لپاره په هيڅ ځای کي دا صيغه نده کارول شوې.

o د قرآن په ډېرو آيتونو کي د بادونو د لېږلو لپاره د "ارسال" صيغه راغلې.

o د قرآن په ډېرو آيتونو کي ويل شوي چي الله تعالی بادونه رالېږي، په سر کي ورو ورو او نرم نرم خوځي، داسي چي تاسو ترې خوند اخلي، بيا تند او تېز شي، په سيلۍ او طوفان بدل شي، وربځي په سر واخلي، د آسمان په غېږ کي ئې خوري وري کړې، د مړو ټاټوبو په لوري ئې وخوځوي ، چيرته باران، چيرته واوره او چيرته ژلۍ وورو‌ي، چيرته نباتات رازرغونه کړي او چيرته د سيلابونو باعث شي او په خلکو کي ويره او خوف راولاړ کړي.

o که وغواړو چي د دې آيتونو تفسير په خپله په قرآن کي ولټوو او له تفسير بالرأی نه ډډه وکړو نو له بادونو نه پرته په بل څه ئې نشو تطبيقولی، دا ځکه چي قرآن يوازي بادونه پدې صفاتو ياد کړي نه بل څه.

o دا آيتونو د "فاء" توري له يوه بل سره تړلي او دا ښيي چي دلته د يوه شي څو حالتونو ته اشاره شوې نه بېلو بېلو شيانو ته.

o لکه چي په مخکنيو قسمونو کي تاسو وليدو چي قسمونه د تعظيم لپاره نه بلکه د استشهاد لپاره راغلي، دلته هم په "بادونو" باندي استناد سره د قيامت منکرانو ته دا خبره شوې چي بياژوندون داسي دئ لکه هره ورځ چي تاسو گورئ د يوه باد په لگېدو سره د ژوندون بهير پيل شي، بادونه د ژوند پيغام له ځان سره راوړي، په هغو وريځو سره چي پر خپلو اوږو ئې وړي او په هغه باران سره چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لدغو وريځو ئې راوروي، د مړي ځمکي د ژوندۍ کېدو باعث شي، د ځمکي تر کلك قشر لاندي د ژوندون بځرکي وخوځوي او په هغه کي سا پوکي او سپيره ډاگ په زرغونه چمن بدل کړي. نو ته چي هره ورځ د مړو د بياژوندي کېدو شاهد يې څنگه مجدد ژوندون محال گڼې او له هغه انکار کوي؟!! تا چي په وار وار تندي او تېزي سيلۍ ليدلې چي په طوفانونو منتج شي او هرڅه گډ وډ کړي، څنگه گمان کوې چي ستا نړۍ به د تل لپاره همداسي آرامه او آباده وي او هيڅکله به له داسي کوم ستر طوفان سره نه مخامخ کېږي چي هرڅه ئې وځپي او نظم ئې متلاشي کړي؟!

په څو دلايلو د هغو کسانو رأيه ضعيفه ده چي وايي دلته په ملائکو لوړه شوې.

- لومړي دا چي د دې رأيې لپاره نه له قرآن نه کوم دليل وړاندي کولی شي او نه انساني عقل ته د منلو وړ دليل.
- د قيامت د منکرانو د اقناع لپاره په ملائکو استشهاد او استناد نشو کولی، هغوی ملائکي نه مني، په يوه متنازع فيه شي باندي بل متنازع فيه شي نشو ثابتولی او دا کار نه معقول دئ او نه د مخاطب د قانع کولو لار.
- په قرآن کي معمولاً د معاد، مجدد بعثت، مکافات او مجازات او دې ته ورته قضاياوو د اثبات لپاره په هغو شيانو استشهاد شوی چي هر مخاطب ته د منلو وړ وي، لکه شپه، ورځ، لمر، سپوږمۍ، ستوري، ځمکه او آسمان، تل د غيبي امورو د اثبات لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهود او محسوس شیانو استناد شوی، نباید دا عمومي قاعده دلته په استثنائي طور له پامه وغورځوو او داسي رأیه قائمه کړو چي له عمومي قاعدې سره اړخ نه لگوي.

o په عربي کي په "الف" او "تاء" سره یا حقیقي مؤنث جمع کېږي او یا د غیرذوي العقولو صفت. پرښتې مؤنث ندي او پدې پوري متعلق صفات په "الف او تاء" نشو جمع کولی، مرسلات او عاصفات او ... د دوی جمع نشو گڼلي، په قرآن کي د ملائکو لپاره اکثراً د جمع مذکر صیغه کارول شوې. د دې مطلب شرح د النازعات د سورې په تفسیر کي وگورئ.

o که دا ملائکي وگڼو نو باید په ټولو هغو مواردو کي چي دې ته ورته صیغې راغلي لکه: العادیات، الموریات، المغیرات، النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات، المدبرات، الذاریات، الحاملات، الجاریات او ډېر نور موارد، دا ټول باید ملائکي وگڼو، حال دا چي دا کار له یوې خوا ناسم دی، له بلي خوا غیرقابل قبول او غیر قابل تطبیق او له بلي خوا د داسي تکرار موجب چي د قرآن له اوچت بلاغت سره اړخ نه لگوي.

o د قرآن په هیڅ آیت کي پرښتې د "عاصف" په صفت ندي ستایل شوي، بر عکس دا صفت دبادونو لپاره راغلی.

o د آیتونو ترمنځ تنسیق او د "فاء" په توري سره د دوی ترمنځ ارتباط دا ښیي چي ټول د "عاصفات" په شان دئ او د بادونو بېل بېل حالت په گوته کوي.

o دغو مطالبو ته په پام سره په کامل ډاډ او اطمئنان ویلي شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي:

- له "المرسلات عرفاً" څخه هغه بادونه مراد دي چي په معروف، معمول او عادي طور خوځي، نرم نرم او ورو ورو.
- له "العاصفات عصفاً" څخه تند او تېز بادونه چي د طوفانونو باعث کېږي.
- له "الناشرات نشراً" نه هغه بادونه چي ورېځي په فضا کي منتشر کوي او له يوې سيمي ئې بلي ته انتقالوي.
- د "الفارقات فرقاً" معنی يا دا ده چي دا بادونه ورېځي په سترو سترو کتلو او کنډکونو کي متفرق کړي او په مختلفو لوريو ئې وخوځوي او يا دا چي دا بادونه د فرق کولو او تمييز استعداد لري، د ښه او بد، مستحق او غيرمستحق ترمنځ فرق کولی شي، پدې پوهېږي چي څومره چيرته انتقال کړي، چيرته څومره باران ووروي، د کومي سيمي اوسېدونکي د کومي معاملې مستحق دي، د نرم او ورو ورو خوندور باران مستحق دئ که د غضبناك سيل او طوفان!! خو دا دوهمه توجيه پدې خاطر ارجح ده چي لومړئ مفهوم په مخکني آيت کي راغلی، نبايد له "الفارقات فرقاً" نه همغه د "الناشرات نشراً" معنی واخلو، قرآن د بې ځايه تکرار له عيب نه منزه ده.
- له "الملقيات ذکراً عذراً او نذراً" څخه هم بادونه مراد دي چي د ذکر او پند باعث دي، انسان ته الله وريادوي، کله داسي چي گوري الله تعالي د ده عذر او توبه قبوله کړي، د باد په نرمي ورمي سره ئې ده ته د باران زېري ورکړي او کله لدې اړخه چي ويرونکی طوفان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده کي له الله نه ويره راولاړوي او د داسي هيبتناکو او ويرونکو پېښو خبر ورکوي چي له شر نه ئې د ځان ژغورني لپاره له الله پرته د نجات بله مرجع او پناه ځي نه گوري.

o د "انما توعدون لواقع" معنی او ارتباط ئې له مخکنيو قسمونو سره دا چي: د بادونو دغه بېلابېل حالات پدې شهادت ورکوي چي د قيامت محتومه وعده هرومرو تحقق مومي او مړي به بياراژوندي کېږي، هغه ذات چي بادونه رالېږي، د ژوندون زېري په لاس، د مړو د بياژوندي کولو وسيله، دا ذات بې شکه چي د مړو په بياراژوندي کولو قادر دئ او هغه ذات چي په بادونو سره ستر ستر ويروونکي طوفانونه او لوی لوي ورانوونکي سيلابونه راولاړوي بې شکه چي پدې هم قادر دئ چي دا دنيا ورانه کړي او په ځای ئې د بلې نوي دنيا بنسټ کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# النازعات

## وريځي او بياژوندون

د النازعات د مباركي سورې قسمونه دا دي:

وَ النّٰزِعٰتِ غَرْقاً *
قسم دئ په ډوب شوو راشکېدونکو.

وَ النّٰشِطٰتِ نَشطاً *
قسم په خوشې شوو خوځېدونکو.

وَ السّٰبِحٰتِ سبْحاً *
قسم دئ په لامبو لامبو وهونکو.

فَالسّٰبِقٰتِ سبْقاً *

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا قسم دئ په عجیبه مخکې تلو مخکې کېدونکو.

فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْراً *
بیا په هغه د ستر کار تدبیرونکو.

د دغو قسمونو ځواب په ۱۳ او ۱۴ آیت کې داسې راغلی:

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ *
نو دا به له یوې تندې چیغې پرته بل څه نه وي!

فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ *
ناڅاپه به بیا دوی وي په همغه خور میدان کې.

د دغو قسمونو په اړه لاندې مطالبو ته توجه ولرئ:

o "النازعات" د نازعة جمع ده چې که ریشه ئې "نزع" وي نو معنی ئې ایستونکې ده او که "نزوع" ئې ریشه وي نو معنی ئې وتونکې کېږي. دلته ئې دوهمه معنا اخیستل پدې خاطر غوره دئ چې پدې سره دا قسم له نورو سره ورته کېږي.
o د بیان له وضعې نه معلومېږي چې دلته د یوه خاص شي په مختلفو حالتونو لوړه شوې، د "فاء" په توري سره د ټولو آیتونو ربط او په پای کې دا خبره چې "ټول یو کار ترسره کوي" همدا مطلب افاده کوي. یعني دا شي لومړئ "نازع"، بیا "ناشط" وروسته "سابح" او "سابق" او په پای "کې د یوه ستر کار، نه مختلفو کارونو، ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي: مدبرالامر" شي. "فالمدبرات امرا" همدا مطلب په گوته کوي.

o پدې قسمونو کي ذکر شوي شيان بايد د لمر، سپوږمۍ، آسمان، شپه او و رځ او دې ته ورته نورو هغو شيانو په څېر وي چي د قرآن په نورو آيتونو کي پرې لوړه شوې او د خپلي ادعا د اثبات لپاره ئې د شاهد په حيث وړاندي کړي او دا شيان بايد د قرآن هر مخاطب ته قابل درك وي.

o بايد هر مخاطب پدې قانع کړی شي چي له مرگ نه وروسته ژوندون حق دی.

o دا بايد داسي شي وي چي له اوبو نه د يوه غريق د راوتو په څېر راوځي. "النّزِعَتِ غَرْقاً" همدا مطلب افاده کوي.

o بايد په لومړي سر کي د يوه راوتونکي غريق په څېر وي، بيا په نشاط سره پورته تلونکي، بيا د لامبو وهونکي په څېر خوځېدونکي، بيا له يوه بل نه مخکي کېدونکي او په پای کي د يوه ستر کار ترسره کوونکي.

o که قرآن ته رجوع وکړو او وگورو چي آيا قرآن پدغو صفاتو کوم څه معرفي کړي که نه، نو گڼ شمېر آيتونه به مخي ته راشي چي په هغوی کي وربڅي په همدې صفاتو يادي شوې. پکار خو دا ده چي خپله د قرآن تفسير کافي وگڼو او لدې نه ډډه وکړو چي د خپلي خوښي او رأيي مطابق ئې تفسير کړو.

o همداراز که خپلي شا او خوا ته پام وکړو او وگورو چي آيا زمونږ ماحول کي داسي څه شته چي دغه صفات ولري او هرڅوك ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې صفاتو وپيژني؟ نو وربځې په نظر راځي چې له اوبو نه د بخاراتو په څېر راووځي، آسمان ته پورته شي، له يوې سيمې بلې ته وخوځېږي، سرعت ئې زيات شي، له يوه بل نه سبقت کوي، په پای کې باران ووروي او پدې سره په طبيعت کې ترټولو د ستر کار، د مړې ځمکې د راژوندي کېدو ، باعث شي. او قرآن په مکرر طور او په ګڼ شمېر آيتونو کې په باران سره د مړې ځمکې او د نباتاتو په راژوندي کېدو استناد کوي او فرمايي چې تاسو به هم د قيامت په ورځ همداسې بيا راژوندي کېږئ.

o دا رأيه ډېره ضعيفه او کمزوري ده چې څوك لدې نه د فرشتو بېل بېل اصناف مراد کړي، په څو دلايلو:

١. په فرشتو باندې استناد سره څوك د بیاژوندون منکرين نشي قانع کولی.

٢. د داسې تعبير لپاره کوم قرآني دليل نشي په ګوته کېدی.

٣. دا تعبير د قسمونو په اړه د قرآن له عمومي قاعدې سره اړخ نه لګوي، نور قسمونه په څرګندو شيانو شوي.

o د النازعات د سورې قسمونه او دې ته ورته قسمونه پدې خاطر په ملائکو نشو حمل کولی چې په عربی کې په "الف" او "تاء" سره يا حقيقي مؤنث جمع کېږي او يا د غيرذوی‌العقول صفت، قرآن پدې صراحت کوي چې ملائکې مؤنث ندي او د جمع لپاره ئې په قرآن کې اکثراً د جمع مذکر صيغه کارول شوې، لکه پدې آيت کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ* الزمر: ۷۳

پدې آیت کې د ملائکو لپاره د حافات په ځای د حافین صیغه راغلې چې د جمع مذکر صیغه ده.

د دغو قسمونو په هکله د مفسرینو ترمنځ ډېر اختلافات شته، ځیني ئې هغه پرښتې ګڼي چې د ارواح په نزع ګمارل شوي، د کافر روح په سختي راباسي او د مؤمن سوکه او په آساني، بیا په آسمان کې د لامبو وهونکو په څېر درومي، یوه له بلې نه د مخکې کېدو هڅه کوي او د چارو د تدبیر دنده ورپه غاړه شوې. ځیني نور دا د انسان نفس او روح ګڼي چې د کافرانو په سختی وځي او د مؤمنانو په ملایمت او نرمی. ځیني نور ئې ستوري ګڼي او وایي چې ستوري په سختی طلوع او په آساني غروب کوي. متعدد نور نظرات هم شته. خو په ډېر لږ دقت سره معلومېږي چې نه خو د دې اطلاق په ملائکو صحیح ده او نه په روح او نه هم په ستورو، له بعثت او له مرګ نه بعد ژوندون نه منکر انسان په فرشتو او روح باندي استناد سره نشي قانع کېدي، ځکه هغه نه ملائکي مني او نه په روح باور لري، قرآن به څنګه په هغه څه استناد کوي چې د ده مخاطب ئې اصلاً نه مني؟! او څنګه به لدې لاري په هغې خبري د ده د قانع کولو هڅه کوي چې منل ئې ورته ګران برېښي؟! همدا راز پدې قسمونو کې ذکر شوي صفات په ستورو نشي تطبیقېدي، د ستورو طلوع او غروب یو شان دی، له یوه بل نه سبقت نه کوي او هغوی ته "مدبرات امور" هم نشو ویلي. او پدوي باندي د استشهاد له لاري بیاژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشي ثابتېدي. د دغو کمزورو او ضعیفو توجیهاتو لپاره په ټول قرآن کي هیڅ دلیل نشو ښودلی.

دا خبره هم د یادولو ده چي ځینو مفسرینو د دې قسمونو ځواب محذوف ګڼلي چي دا رأیه په دوه دلیله کمزوري او ضعیفه ده:

دا تحلیل د قرآن له ډېر اوچت بلاغت سره اړخ نه لګوي، دا سمه نده چي څوك لوړه وکړي خو ورپسې ونه وایي چي د قسم موخه ئې څه وه او په کوم مطلب باندي د تأکید لپاره ئې لوړه کړي!! آیا دا سمه ده چي ووایو: والله، بالله، بیا ساکت پاتې شو، هیڅ ونه وایو او زمونږ قسمونه هیڅ ځواب ونلري؟!

د همدې سورې ۱۳ او ۱۴آیتونه په ډېر صراحت سره ښیي چي د پورتنیو قسمونو ځواب پکي پروت دی.

د دې قسمونو ځواب دا دی:

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ * فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ *
نو دا به له یوی تندی چیغی پرته بل څه نه وی. ناڅاپه به بیا دوی وی په همغه خور میدان کي.

یعنی پورتني قسمونه دا خبره ثابتوي چي مرګ نه وروسته ژوندون نه یوازي مستحیل ندي بلکه فقط په یوې تندی چیغي سره به تاسو ټول له قبرونو نه راپورته شي او په ستر آوار ډاګ کي به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسیب خدای په وړاندي ودرېږي. که قرآن ته رجوع وکړو نو په متعددو آیتونو کي به وګورو چي د بیاژوندون د اثبات لپاره په وریځو، باران او د بوټو په بیا راژوندي کېدو استناد شوی، پکار ده چي د نوموړو قسمونو تفسیر د دغو آیتونو په رڼا کي ولټوو. دې لطیفي نقطي ته مو هم پام وي چي اکثراً بارانونه د تالندي له تندي چیغي نه وروسته پیل کېږي!! او قرآن وايي چي د قیامت په ورځ به ستاسو بیاژوندي کېدل یوازي په یوې تندي چیغي سره ترسره شي.
لدغو ټولو دلایلو نه په ډېر صراحت سره معلومېږي چي له النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات او المدبرات نه یوازي او یوازي وریځي مراد دي نه بل څه. څوك چي په بیا ژوندي کېدو باور نلري او هغه مستحیل ګڼي!! مګر هره ورځ د مړو د بیاراژوندي کېدو صحنې نه ګوري؟ آیا په یوه باران سره د ځمکي ژوندي کېدل ئې نه قانع کوي؟ مګر نه ګورئ چي ناڅاپي په آسمان کي د تالندي غږ اوچت شي، ورپسې له وریځو نه د باران ورېدل پیل شي او پدې باران سره د ځمکي په زړه کي د ژوندو توکو زړي وخوځېږي، وده وکړي او د ځمکي له سخت قشر نه سر رااوچت کړي!! د قیامت په ورځ به هم ټول په یوې چیغي سره له قبرونو نه رااوچت شي او هر کس به د خپل رب په لوري روان شي.

## یوه یادونه:

د قرآن د قسمونو په اړه مې ډېري پوښتني درلودي، د ځواب لپاره مې ډېرو تفاسیرو ته رجوع کړې وه، خو بیا مې هم د خپلو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنو ځواب نه وو ترلاسه کړی، د **۱۳۷۵** کال د جدي په میاشت کي چي هلته د قرآن په ژباړي مصروف وم، د جمعي په شپه، د تهجد د لمانځه په سجده کي، ناڅاپه او د الهام په ډول، د النازعات د سورې د قسمونو په اړه پورتنۍ رأیه راته القاء شوه، چي ماته کاملاً تازه وه او زما د ټولو پوښتنو ځواب پکي نغښتي، لدې شېبي نه مخکي دا رأی هیڅکله زما په ذهن کي نه وه ګرځېدلې، پدې سره د قرآن د ټولو قسمونو د فهم په لوري ماته نوي ور پرانستلي شو او زه د خپل رحمن رب لدې ستري پیرزویني نه هومره ممنون یم چي له شکر کولو نه ئې ځان عاجز ګڼم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# التکویر

## د ستورو او شپې ورځې تګ راتګ شهادت ورکوي چې دا دنیا به خپل ځای بلې ته پرېږدي

د تکویر په مبارکې سورې کې دا قسمونه راغلي:

فَلا أُقْسِمُ بِالخُنَّسِ * الجَوَارِ الْكُنَّسِ * وَ الَّيْلِ إِذَا عَسعَس * وَ الصبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ *

نو داسې نده، لوړه کوم پدغو بیا راتلونکو. په دغو تلونکو پټېدونکو او په شپې چې شي په تلو. او قسم د سباوون په سا ایستو.

د قسمونو ځواب دا دی:

إِنَّهُ لَقَولُ رَسولٍ كَرِيمٍ * ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى الْعَرْشِ مَكِينٍ * مُطاعٍ ثمّ أَمِينٍ * وَ مَا صاحِبُكم بِمَجْنُونٍ *

(c) ketabton.com: The Digital Library



بی شکه چي دا د عزتمن استاځی وینا ده. د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن . هلته منل شوی او امین. او ستاسو دا ملګری مجنون ندی.

دلته په څو شیانو لوړه شوې:

- o په "خنس" چي معنی ئې بیا بیا راتلونکي ده، شیطان ته پدې خاطر "خناس" ویل شوي چي هغه هم مکرر راځي، وسوسه کوي، بېرته درومي، له بلي ګوښي راوړاندي کېږي او بله وسوسه القاء کوي.
- o د دې خناس لپاره دوه نور صفتونه هم ښودل شوي: "الجوار: تلونکي" او "الکنس: پټېدونکي"
- o په شپه چي کله په تلو شي.
- o او په سباوون چي په سا ایستو شي.

د دغو قسمونو په معنی او د قسمونو له ځواب سره ئې د تړاو په څرنګوالي هلته ښه پوهېدی شو چي لاندي خبري په پام کي ولرو:

لدغو دوو آیتونو نه (واللیل اذا عسعس) او (والصبح اذا تنفس)، په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي له (الخنس، الجوار، الکنس) نه ستوري مراد دي، ځکه دا ستوري دي چي هره شپه بیا بیا راڅرګندېږي، په شپه کي ئې د آسمان په غېږ کي خوځېدل راڅرګند شي، له شرق نه طلوع کوي او په غرب کي پرېوځي، د ورځي په رارسېدو سره ترشا او له سترګو پټ شي. که د (الخنس، الجوار او الکنس) الفاظ لدغو آیتونو نه بهر د لغت په کوم کتاب کي او په بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلام کې وڅېړو نو بې شمېره مصداقونه ئې کېدی شي، خو که پدې خاص ځای او لدې نه مخکې او وروسته آیتونو په غور کې ئې معنی ولټوو نو له ستورو نه پرته بله معنی ترې نشو اخیستی، ټول مفسرین پدې خبره متفق دي چې پدې الفاظو سره ستورو ته اشاره شوې.

د قیامت منکرین داسې ګمان کوي چې دا نړۍ نه بدلېدونکې، ثابته او ابدي نړۍ ده، په تحول او بدلون باور نلري او دا خبره نه مني چې یوه ورځ به دا هرڅه له منځه ولاړ شي. دوی ته د پیغمبرانو علیهم السلام یوه اساسي خبره تل دا وه چې قیامت به راځي، دا ځمکه آسمان او د اوسنۍ دنیا اوسنی حالت به ختمېږي، نوې دنیا او نوې ځمکه او آسمان به پیدا کېږي، له انسان سره به د ده د ټولو کړو وړو محاسبه کېږي، سزا او جزا به ګوري. د دغې اساسي ادعا د اثبات لپاره دلته ویل شوي: شپه ورځ، د ستورو تګ راتګ، طلوع او غروب ئې دا حقیقت په ګوته کوي چې دلته د ثبات او د یوه حالت د دوام په ځای د بدلون او تحول شاهد یو، هره شېبه حالت بدلېږي رابدلېږي، تاسو څنګه دا د بدلېدو رابدلېدو په حالت کې نړۍ ثابته او تغییر نه منونکې ګڼئ؟!! پداسې حال کې چې تحول او بدلون د همدې دنیا یو عام او څرګند اصل دی، د دنیا هر څه هره شېبه بدلېږي، دا په آسمان کې خواره واره او څرګندېدونکې پټېدونکې ستورې او دا د شپې او ورځې تګ راتګ، د دې دائمي او مسلسل تحول او بدلون څرګندې بېلګې ستاسو مخې ته، لدې سره سره څنګه د عزتمن پیغمبر هغه خبره نه منئ چې وایي: یوه ورځ به دا لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله رڼا له لاسه ورکړي، ستوري به تیاره شي، غرونه به له خپله ځایه وخوځي او هرڅه به بدل شي؟ د ده پدې خبري خو دا ده د هري شپې ورځي دا تحولات شهادت ورکوي. د "ثبات" او "دوام" عقیده بې بنسټه عقیده ده چي د دنیا مسلسل بدلون ئې ردوي. دا ولې تاسو دغه خپل ملګري پیغمبر ته پدې خاطر مجنون وایې چي د قیامت د راتلو خبره کوي؟!! ده خو د دې خبري حقیقت په څرګند افق کي لیدلی، دغه افق ته د نظر کولو لپاره تاسو ته هم بلنه درکوي، د شپې ورځي تلو راتلو ته وګورئ، د ستورو طلوع او غروب ته وګورئ، دا څه پیغام له ځان سره لري، د ثبات او دوام پیغام که د تحول او بدلون پیغام، د ده خبره تائیدوي که ستاسو؟!! دی خو نه د کاهنانو په څېر دئ چي د "غیب" دروغجني خبري خرڅوي او په څرګندولو کي ئې سخت بخیل وي او هیچا ته ئې وړیا نه وایي، شکرانې او نذرانې پرې اخلي!! د ده وینا د شیطان د ملګرو له وینا سره مقایسه کړئ، دی څه وایي او هغوی له شیطان نه په الهام اخیستو سره څه وایي؟! سره لدې څنګه د ده دا وینا نه مني، پداسي حال کي چي دا د ده خپله وینا نه بلکه د رب العالمین له لوري د یوې عزتمني، ځواکمني او د نورو مطاع پرښتې په لاس ده ته لېږل شوې وینا ده او هر هغه چا ته لارښوونه کوي چي په سمي او مسقیمي لاري د تلو تکل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الشفق

## د شپې او سپوږمۍ بېلا بېل حالت د دې ننبه ده چې مرگ د ژوند پای نه؛ بلکه د ابدیت په لوري یو پړاو دئ

د الشفق په مبارکې سورې کې له ۱۲تر ۱۹ آیت پورې لاندې قسمونه راغلي:

فَلاَ أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ *
نو نه، زما دې لوړه په شفق وي.

وَاللَّيْلِ وَمَا وَسَقَ *
او په شپې او څه چې ونیسی په غېږ کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ *
قسم دئ په سپوږمۍ چي مکمل شي.

د قسمونو ځواب دا دی:

لَتَرْكَبُنَّ طَبَقاً عَن طَبَق*
حتماً به له یوی پوړی بلی پوړی ته بر کیږی.

دلته پدغو شیانو لوړه شوې:

په شفق: د آسمان د ژۍ هغه سره گاره چي د لمر په لوېدو پسې راڅرگنده شي. په شپه او هغه څه چي په خپلي غېږ کي ئې نیسي او خپل تور وزر پرې غوړوي. په سپوږمۍ چي کله بشپړه شي.

د دغو دریو قسمونو ځواب او هغه مطلب چي پدغو قسمونو سره ئې اثباتول په نظر کي دي، دا دی: تاسو به حتماً له یوی پوړی بلی ته پورته کیږی.

راشئ وگورو چي دا قسمونه له ځواب سره څه ارتباط لري او څنگه دا خبره ثابتوي چي انسان به حتماً له یوه حالت نه بل ته خوځیږي؟

دي پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره باید لاندي خبري په نظر کي ولرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان د مرگ په اړه دوه انگېرني او تحليل درلودي شو:

الف: مرگ د توقف او رکود حالت دی، په مرگ سره انسان له خوځښت او حرکت نه ودرېږي او کار ئې پای ته رسي، مرگ د ده د ژوند او خوځښت وروستي پړاو دی.

ب: مرگ يو مقطعي حالت دی؛ د انسان د هغه مسلسل او پای نه منونکي خوځښت يو حالت چي انتها نه لري، مرگ له يوه حالت نه بل حالت ته يو حرکت دی، مرگ د يوه ژوندون پای او د بل پيل دی، په مرگ سره د هغه چا په لوري درومو چي دا ژوند ئې مونږ ته راکړی.

څوك چي له بياژوندون نه انکار کوي هغه پدې باور وي چي مرگ رکود او سکون دی، په مرگ سره ژوند پای ته رسېږي او حرکت ئې په ټپه ودرېږي، له هغه وروسته بله مرحله او بل پړاو نشته، په مرگ سره د انسان د بدلون او له يوه حالت نه بل ته د خوځېدو سلسله ئې متوقف کېږي، دوی پدې عقيده دي چي د انسان هغه ژوند چي له يوې نطفي پيل شي، وده وکړي، د يوه ماشوم په څېر دنيا ته راشي، ځواني ته ورسېږي، زوړ شي، زوال ئې پيل شي، په مرگ محکوم شي او په همدې مرگ سره ئې هر څه پای ته ورسېږي.

خو الله تعالی دوی ته په ځواب کي فرمايي: داسي نده، نور پړاوونه هم په مخکي لري، حتماً به له يوه حالت نه بل ته د تلو لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام کوي، له مرگ نه وروسته نور مراحل هم په مخ کي لري، له يوې پوړي به بلي ته پورته کېږي، د بې نهايت په لوري دوامدار او مستمر حرکت کي به نور مراحل هم پلي کړي. د دغه ادعا د اثبات لپاره په څو مشهود او ملموس طبيعي شيانو استشهاد شوى:

۱- په شفق چي د ورځي پاى او د شپې پيل اعلانوي. ۲- په شپه چي هر څه له سترگو پټوي. ۳- په سپوږمۍ چي له مختلفو پړاوونو نه تېره او بشپړه شي.

تاسو پدې نړۍ کي د مسلسل بدلون شاهد ياست، گورئ چي ورځ پاى ته ورسېږي، د آسمان لمنه سره شي، شفق راڅرگند شي، شپه راورسېږي، خپل تور وزر په هرڅه وغوړوي، څو ساعته وروسته ختمه شي او خپل ځاى ورځ ته پرېږدي، آيا دا صحيح ده چي د هري شپې ورځي مرگ د هغه دائمي پاى وگڼو او ووايو: بله شپه او ورځ به رانشي؟ سپوږمۍ گورو چي د مياشتي په پيل کي رابره شي، وړه وي، په تدريج سره ستره شي، مکمل شي خو بيا په تدريج سره وړه شي، داسي چي د مياشتي په پاى کي له سترگو پټه شي. آيا دا سمه ده چي د سپوږمۍ له مؤقتي پټېدو نه دا گمان وکړو چي بيا به طلوع نه کوي او راڅرگنده به نشي؟

د شپې ورځي تگ راتگ، د سپوږمۍ طلوع او غروب او ستربدل وربدل، پټېدل او څرگندېدل ټې دا ښيي چي دا نړۍ د مسلسل او مستمر تحول او بدلون صحنه ده، هر څه له يوه حالت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل حالت ته درومي، په هيڅ مقطع او هيڅ نقطه کي توقف او سکون نشي موندي، د بيا ژوندون منکرين هسي او بې ځايه، مرگ ته د سکون او توقف او د بدلون د پای په سترگه گورئ، دا انگېرنه له هغه څه سره ټکر او تصادم کوي چي د نړۍ له مشاهدي نه ئې ترلاسه کوو. د دې غلطي او بې بنستې انگېرني د اثبات لپاره هيڅ دليل، د دې ټولي پراخي نړۍ له هيڅ گوټ نه نشو وړاندي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# المدثر

## د سپوږمۍ رابره کېدل، د شپې بېرته گرځېدل او د سباوون راختل د دې نښه ده چې د دې دنیا پای به د بلې دنیا پیل وي

د المدثر د مبارکي سورې په قسمونو کې د پورتني مطلب په اړه داسي ویل شوي:

كَلاَّ وَالْقَمَرِ *

داسي نده، قسم په سپوږمۍ

وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ *

او په شپې چي ترشا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ *
او په سباوون چي روڼ شي

د قسمونو ځواب دا دی:

إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ *
بې شکه چي دا یوه له سترو "پېښو" څخه ده

تر دې د مخه چي د قسمونو او ځواب په اړه ئې څه ووایو باید دا واضح شي چي په ځواب کي کومي پېښي ته اشاره شوې او د "ها" ضمیر څه ته راجع دی؟ او دا د کومو سترو سترو ځیزونو څخه دی؟

که قسمونو او له قسمونو نه مخکي آیتونو ته لږ ځیر شو نو د دواړو پوښتنو ځوابونه په آساني سره موندلی شو؛ په قسمونو کي دریو سترو ځیزونو ته اشاره شوې: سپوږمۍ، د شپې ببرته گرځېدو او د سباوون راختو ته، له اتم آیت نه د قیامت په اړه بحث پیل شوی، خو مخکي لدې چي بحث پای ته ورسېږي د هغه چا په اړه خبره شوې چي مال، ثروت او قدرت مغرور کړی او له پیغمبر علیه السلام او د ده له دعوت سره ئې دښمني ته اړ کړی، دروغجنو تبلیغاتو ته ئې ملا تړلې او د مخالفت او مقابلې د بېلو بېلو مؤثرو لارو په لټه کي دئ، دا بحث له یولسم آیت نه پیل شوی او تر ۳۱ آیت پوري ئې دوام کړی او بیا له ۳۲ آیت نه وروسته د قیامت په اړه ناتمام بحث بېرته پیل شوی او د پورتنیو قسمونو په ترڅ کي د قیامت د اثبات دلائل وړاندي شوي. د ځواب په ترڅ کي د قیامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ د دغو سترو سترو پېښنو په څېر يوه بله ستره پېښه ګڼل شوې، د سپوږمۍ د رابره کېدو په څېر او د شپې بېرته ګرځېدو او د سباوون د راختو په څېر. پدې قسمونو سره قرآن خپل مخاطب ته وايي: ته ولې د قيامت له ورځې نه انکار کوي او راتګ ئې محال ګڼې؟ مګر ستا د اقناع لپاره د سپوږمۍ رابره کېدل، له مختلفو پړاوونو تېرېدل، له سترګو پټېدل او بيا راڅرګندېدل کافی نه دي؟ مګر همدا تا ته نه وايي چې له يوه حال نه بل ته اوښتل يو عام الهي سنت دی، د يوه حالت پای د بل حالت پيل دی، مګر ته نه ګورئ چې د شپې پای د ورځې پيل وي، همدا راز چې شپه پای مومي دا نړۍ به پای مومي، خو د دې نړۍ پای د بلې نړۍ پيل دی، ته هسې بې موجبه او بې دليله دا نړۍ ثابته او تغيير نه منونکې ګڼې او ګمان کوې چې دا حالت به د تل لپاره دوام کوي!! او ستا دا ګمان هم غلط دئ چې که دا عالم ختم شو نو پدې سره هر څه پای مومي، نه بيا ژوندون شته او نه بله دنيا!! ستا دا باور داسې دئ لکه چې څوك ووايي: د سپوږمۍ او لمر غروب د دوی د عمر پای دی، لدې شپې نه وروسته به بله ورځ نه وي او لدې ورځې وروسته به بله شپه نه وي، خو ګورئ چې تياره شپه خپل ځای روڼ سباوون ته پرېږدي او سپوږمۍ له پټېدو وروسته بيا رابره شي. د الشفق په سوره کې هم دې ته ورته، شفق، د شپې راتګ او د سپوږمۍ بشپړه کېدل د قيامت د راتلو او بياژوندون لپاره د دليل په څېر وړاندې شوی.

ځينو مفسرينو په "انها لاحدی الکبر" کې د "ها" ضمير، "سقر" ته راجع کړی او ځينو نورو "جنود" ته، خو دا نه يوازې ضعيف

(c) ketabton.com: The Digital Library



توجیهات دي بلکه د قسمونو او ځواب ترمنځ ژور او عمیق ارتباط پکي له پامه غورځول شوي، د دوی توجیه داسي ده لکه چي څوك ووایي: په سپوږمۍ لوړه کوم چي دوزخ شته، د شپې په ببرته ګرځېدو او د سباوون په بیاراختو لوړه کوم چي د الله لښکري بې شمېره دي!! داسي توجیه نه د قرآن کافر مخاطب ته قناعت ورکولی شي او نه ورته د فهم وړ ده. عجیبه دا ده چي څنګه دغو محترمو مفسرینو د الشفق په سوره کي د همدې قسمونو واضح او څرګند تفسیر له پامه غورځولی، هلته همدا قسمونه د قیامت او بیاژوندون لپاره د دلیلونو په حیث وړاندي شوی او ویل شوي چي د شپې ورځي تګ راتګ، د سپوږمۍ طلوع او غروب او سترېدل وړېدل، پتېدل او څرګندېدل ئې دا ښیي چي دا نړۍ د مسلسل او مستمر تحول او بدلون صحنه ده، هر څه له یوه حالت نه بل حالت ته دروميي، په هیڅ مقطع او هیڅ نقطه کي توقف او سکون نشي موندي، د بیا ژوندون منکرین هسي او بې ځایه، مرګ ته د سکون او توقف او د بدلون د پای په سترګه ګورئ، دا انګېرنه له هغه څه سره ټکر او تصادم کوي چي د نړۍ له مشاهدي نه ئې ترلاسه کوو. د دې غلطي او بې بنسټې انګېرني د اثبات لپاره هیڅ دلیل، د دې ټولي پراخي نړۍ له هیڅ ګوټ نه نشو وړاندي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# البروج

## ظالمان بې الهي انتقامه نه پاتې کېږي

د البروج د مبارکې سورې قسمونه دا دي:

وَ السمَاءِ ذَاتِ الْبرُوج *
قسم دئ د برجونو په خاوند آسمان.

وَ الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ *
قسم دئ په هغې ټاکلې ورځ.

وَ شاهِدٍ وَ مَشهُودٍ *
قسم په هر شاهد او هر مشهود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو قسمونو ځوب دا دی:

قُتلَ أصحَب الأُخْدُود * النّار ذَات الْوَقُود * إذْ هُمْ عَلَيهَا قُعُودٌ * وَ هُمْ عَلى مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شَهُودٌ *
هلاك شول خاوندان د خندقونو. (خندقونه د سره) اور او د ډېر سوند. چې ئی دوی پر غاړه ناست وو. او شاهد د هغه څه چې له مؤمنانو سره ئی کړل!!

لکه چې گورئ په دریو لومړنیو آیتونو کي په څلورو شیانو قسم یاد شوی: "د برجونو په خاوند آسمان"، "هغې موعود او ټاکلې ورځ"، "هر شاهد" او "هر مشهود". د قسمونو ځواب په څلورم آیت کي پدې صیغه مومو: "هلاك شول خاوندان د خندقونو" باید وگورو چې د دغو قسمونو معنی څه او څنگه دا ثابتوي چې د خندقونو خاوندان هلاك شول؟!

لاندې ټکيو ته پام وکړئ:

- "بروج" له "برج" نه اخیستل شوی چې معنی ئې څرگندېدل او ښکاره کېدل دي، په قرآن کي په دغه معنا څو ځایه راغلې، لکه:

وَلاَ تَبَرّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهلِيّةِ الأُولَى * الاحزاب: ۳۳
او د مخکني جاهلیت د ځان ښودني په څېر ځانونه مه څرگندوي.

تَبَارَكَ الّذِي جَعَلَ فِي السّمَآءِ بُرُوجاً وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَقَمَراً مُنِيراً * فرقان: ۶۱

مبارك دئ هغه ذات چي په آسمان كي ئې بروج (ستوري) رامنځته كړل او په هغه كي ئې روڼ څراغ (لمر) او روښانه سپوږمۍ راپيدا كړه.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجاً وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ *

الحجر: ۱۶

او بې شكه چي په آسمان كي مو بروج (ستوري) پيدا كړل او هغه مو ليدونكو ته ښايسته كړې.

له دغو ورستيو دوو آيتونو نه په ډاگه معلومېږي چي له بروج نه مراد ستوري دي.

د قرآن له دغو څرگندو لارښوونو سره سره، متأسفانه ځينو مفسرينو له بروج نه د ستورو په ځاي، د يوناني فلسفي هغه دولس گوني موهومي بروج اخيستي چي د دوی په فلكي اصطلاحاتو كي د لمر د مختلفو منازلو لپاره ټاكل شوي، يونانيانو، د كال په هر فصل كي د لمر دغه منازل او بروج، د خپلو مختلفو خدايانو په نامه مسمی كړي او هر برج ته ئې د خپل يوه خدای نوم وركړی وو، دا اصطلاحات له يونان نه هغو اسلامي ملكونو ته راكوز شول چي له يونان سره همسرحده وو، ځيني علماء ترې متأثره شول او هغه ته ئې اسلامي رنگ وركړ.

- د "الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ" په هكله د مفسرينو دوه رأيي لرو: ځيني ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قيامت ورځ ګڼي او ځيني ئې د مؤاخذې او عذاب هغه ورځ چې الله تعالى په دنيا کې کافرانو او ظالمانو ته ټاکلې. په دوه دليله د مفسرينو د دوهمې ډلې رأيه ارجح او غوره ده: لومړئ دا چې په همدې مبارکې سورې کې د دوو باغي او عاصي ډلو بد عاقبت ته اشاره شوې، د فرعون او ثمود ډلو ته چې له مهلت نه وروسته د الله تعالى له شديد بطش او مؤاخذې سره مخامخ شول. لدې نه معلومېږي چې له "الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ" نه هغه تاريخي ورځې مراد دي چې دوه بېلګې ئې د فرعون او ثمود په قصه کې ګورو. او دوهم دليل دا چې د قيامت په ورځې استشهاد سره دا نشي ثابتېدې چې د اصحاب الاخدود پايله تباهي او هلاکت دی. دا ځکه چې د قرآن کافر مخاطب نه د قيامت په موعود ورځ باور لري او نه پدې باندې استناد سره دا ادعا مني چې د اور د کندو خاوندان به د هلاکت له پايلې سره مخامخ شي. "يوم الموعود" بايد داسې ورځ وي چې د قرآن هر مخاطب هغه د يوه مسلم او انکار نه منونکي حقيقت په حيث ومني او په هغه باندې استناد دی قانع کړي چې واقعاً د اصحاب الاخدود په هکله شوې ادعا يو حقيقت دی. که له "يوم الموعود" نه هغه ورځ مراد شي چې ظالمانو ته ئې د رارسېدو خبر ورکړی شوی، په تاريخ کې په وار وار تکرار شوې، هر پيغمبر خپل قوم د هغې له رارسېدو ويرولی، هيڅ مخاطب له هغې انکار نشي کولی، هر څوک چې تاريخ ته رجوع وکړي د دې ورځې څرګندې بېلګې به ئې مخې ته راشي، همغه ظالمانو ته د مهلت وروستۍ ورځ، په دنيا کې د دوی د مؤاخذې ورځ، پدې صورت کې د قسم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب ترمنځ ئې ارتباط کاملاً جوت کېږي.

پدې توګه د لومړئ قسم ارتباط له ځواب سره داسي دی: دا له بې شمېره ځلاندو ستورو نه ډك آسمان، پدې حقیقت شهادت ورکوي چي دا کائنات حتماً یو داسي ځواکمن مالك او قهار سلطان او واکدار لري چي دا ټول بې شمېره اجرام ئې اداره کوي، هر یو په خپل ځای او خپل خاص مسیر کي ساتي، د دوی ترمنځ د تصادم او ټکراو مخه نیسي، هر یو په منظم او مستمر طور په همغه ثابت مدار کي خوځوي چي ورته مشخص شوی. دا خور او پراخ آسمان له دغو ټولو بې شمېره خوځنده اجرامو سره او لدې محکم نظم او ضبط سره، پدې شهادت ورکوي چي دا کائنات هسي بې واکداره ملك ندي، له مهاره وتلي او د ساتونکی او پالونکی واکمن له سلطې او سیطرې فارغ دنیا نده چي په هغې کي هرڅوك هرڅه وکړي، نه پوښتنه وي نه ګویژنه، نه له ظالم سره حساب وشي او نه د مظلوم لاس نیوي او پوښتنه، نه په نورو تېرې کونکي مجازات شي او نه له خپل حق نه د محروم شوو چیغي واورېدي شي. د دې هستي ساتونکی او مالك خدای به حتماً د اور د کندو له خاوندانو نه د دې انتقام اخلي چي د ده مظلوم مؤمن بندګان ئې په الله د ایمان په جرم د اور په کندو کي اچول او هغه به حتماً د دغو مظلومو مؤمنانو پوښتنه کوي او د دوی مظلومانه استغاثه به اوري.

د همدې سورې په څو آیتونو کي الله تعالی د "ملك"، "ذوالعرش المجید"، "فعال لمایرید" او "محیط" په صفاتو ستایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، داسي چي د سورې په ټولو مضامينو ئې سورې غوړولی، دا په خپله ښيي چي د برجونو په خاوند آسمان باندي د قسم موخه دا مطلب ثابتول دي چي دا کائنات داسي باعظمته ساتونکی او پالونکی واکمن لري چي د عرش خاوند دی، په هر څه محيط دی، چي څه وغواړي ترسره کوي ئې. دغه مطلب د الطارق په سورې کي له مزيد وضاحت سره راغلی، هلته هم د آسمان په ځلاندو ستورو استناد شوی او د دې ادعا د اثبات لپاره وړاندي شوی چي هرڅوك د الله تعالى د رعايت او حفاظت تر سيوري لاندي دی، داسي لکه د آسمان دا بې شمېره ځلانده ستوري.

د دوهم قسم ارتباط د قسمونو له ځواب سره داسي دی: "همغه پيژندل شوې موعود ورځ"، شهادت ورکوي، "هغه ورځ چي هرڅوك ترې خبر دی"، "هغه چي په تاريخ کي په وار وار تکرار شوې"، "هغه چي د ظالمانو د ظلم ټغر پکي ټولېږي او الهي عذاب پدوي نازل کېږي"، "د مهلت او فرصت وروستۍ ورځ"،" د ظالمانو د ظلم او تېري د پای ورځ" دا شهادت ورکوي چي د اصحاب الاخدود پای به هم دې ته ورته وي، آيا نه گورئ چي د مهلت د پای ته رسېدو نه وروسته له ظالمانو سره څه شوي او مالك الملك خدای څنگه په شدت سره مواخذه کړي، هرڅه ئې پدوي رانسکور کړي، تخت او تاج ئې، قصرونه او بنگلي ئې، داسي چي اوس د دوی وران او ويجاړ قصرونه پدې شهادت ورکوي چي د ظلم پای وخيم او عبرتناك دی، د ظالمانو د تېري لپاره حد او پای شته، خو د داسي کندي چي په يوم الموعود کي هلته رسي او پکي نسکورېږي. ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبرانو او زړه سواندو داعیانو خپل قومونه لدې ورځې ویرولي، لکه چې هود علیه السلام خپل قوم ته وايي:

إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ *

الشعراء :۱۳۵

یقیناً چې زه د لوئي ورځې له عذاب نه په تاسو ویریږم.

د غافر د سورې په ۳۱ آیت کې د فرعون د کورنۍ د هغه مؤمن کس خبره لولو چې فرعونیانو ته په خطاب کې وايي:

يقَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ الْأَحْزَابِ * مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْماً لِّلْعِبَادِ * غافر: ۳۱

ای زما قومه! زه خو یقیناً چې د نورو ډلو د عذاب د ورځې په څېر د کومې ورځې له رارسېدو نه پر تاسو ویریږم، د نوح د قوم، د هود او د عاد او لدوی نه وروسته قومونو د پایلې او عاقبت نه او الله خو په خپلو بندگانو د ظلم اراده نه لري.

- دریم قسم په هر شاهد او لیدونکي شوی، هر د سترگو خاوند چې تاسو ئې پدې دنیا کې گورئ، د ده د لیدو دا استعداد پدې خبرې دلالت کوي چې د ده پیدا کوونکی به حتماً داسې ذات وي چې د لیدو په صفت به متصف وي، دا نښې کېدی چې مخلوق او مصنوع دې داسې صفت ولري چې د ده خالق او صانع دې همدا صفت ونلري، هر مخلوق او مصنوع په اصل کې د خالق او صانع د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفاتو مظهر وي، پده کي د صانع صفتونه راڅرگند شوي وي، چا چي د نړۍ سترگورو ته سترگي ورکړې او په هغوی کي ئې د ليدلو استعداد ايښی، هغه حتماً "بصير: ليدونکی" دی. نو د هر شاهد او ليدونکي وجود د داسي ذات په شته والي شهادت ورکوي چي شاهد او بصير دی، دا صفت هغه د ځمکي پدې شاهدانو کي ايښی، پدې هکله قرآن په بل ځای کي څومره ښه وينا لري:

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَد * أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ * وَلِسَاناً وَشَفَتَيْنِ * وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْن* البلد: ۷ـ ۱۰

آيا گمان کوی چي ندی چا ليدلی؟ آيا ده ته مو ورنکړلی دوی سترگی ؟ او يوه ژبه او دوی شونډی؟ او ده ته مو ونښودی دوی لاری؟

څنگه گمان کوي چي نه به د ده د عملونو څارنه کېږي او نه به ئې د کړو وړو په اړه قضاوت، نه ئې اعمال د چا ترسترگو لاندي دي او نه داسي څوك شته چي مکافات يا مجازات ئې کړي؟! پداسي حال کي چي دی په خپله د يوه مخلوق په حيث سترگي لري، د بصيرت خاوند دی، د خپل مافي الضمير د انعکاس لپاره او د خپلو مشاعرو، عواطفو او احساساتو د بيان لپاره او د خپلو قضاوتونو او پرېکړو د اصدار لپاره د ژبې او دوو شونډو په څېر وسايل په واك کي لري، د نورو د عملونو څارنه کوي، د هر ښه او بد په هکله په خپل زړه کي ملاك لري او په ضمير کي لارښود، (ښه) ور ته (معروف)، له هغه سره آشنا، د هغه په هکله ښه احساس په زړه کي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



(بدي) ورته (منکر)، د هغه په اړه په خپل زړه کي د کرکي احساس کوي او له خپل طبیعت او مزاج سره ئې ناآشنا مومي، که په مخلوق کي دا صفات وي، د ده خالق به څنګه دا صفات ونلري؟! دا له شکه وتلي حقیقت دئ چي هر لیدونکي او د سترګو خاوند پدې شهادت ورکوي چي د ده پالونکی خدای تر ده زیات لیدونکي، د ده د کړو وړو شاهد او د ده د عملونو څارونکی او قاضي دی. د همدې سورې په ۹ آیت کي همدې مطلب ته اشاره شوې او ویل شوي: او الله په هر څه باندی شاهد دي (وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيد).

o د څلورم قسم ارتباط له ځواب سره دا سي دی: هر مشهود، هر هغه څه چي په سترګو لیدل کېږي، د دې ادعا په حقانیت ځکه شهادت ورکوي چي په ټول کائنات کي هیڅ عبث، خوشي، بې فائده او بې هدفه شي نه موندل کېږي، هري خوا ته چي سترګي ورغړو، هرڅه ته چي پام وکړو، نظم ګورو، هرڅه سم پیدا شوي، د خاص هدف لپاره پیدا شوي، په هیڅ ځای کي خلا، قصور او فطور نشو لیدي، قرآن ګواښ کوي چي هیڅوك د نړۍ په هیڅ ګوټ کي چاود او خلاء نشي په ګوته کولی:

مَّا تَرَى فِي خَلْقِ الرَّحْمَنِ مِن تَفَاوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَى مِن فُطُورٍ * ثُمَّ ارجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئاً وَهُوَ حَسِيرٌ * الملك: ۳-۴

د رحمن په مخلوقاتو کي بېلوالی لیدی نشي، نو ورغړوه سترګی، آیا ګوری کوم یو چاود ؟ بیا هم ورغړوه سترګی په وار وار، راګرځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په لور به دغه سترگی نامراده او وی به ارمانجنی.

ښه غور وکړه، خپل ټول توان ځواك وكاروه، هري خوا ته سترگي ورغړوه، د الله په مخلوقاتو كي ژوره څېړنه وكړه، وگوره چي پدې ټول عالم كي كوم چاود، خلاء، نقص او قصور په سترگو درځي؟! پدې خور او ستر عالم كي د داسي عيب او نقص د موندلو په طمع به هر محقق او څېړونكی د خپلو سترگو له ستړيا نه پرته بل څه ترلاسه نكړی شي. نو انصافاً ووايي: څنگه ومنو چي په ټول عالم كي دي كمال، ښايست، نظم او هدفوالي وي، د ضوابطو التزام، نه دي چيرته خلاء وي او نه قصور او فطور، خو د انسان دا وړه دنيا، دغه چي د ټول كائنات په نسبت له هيڅ سره برابره ده، دلته دي سراسر بې نظمي وي، انسان دي خپل سر ته پرېښودي شوی وي، داسي چي نه ئې د بدو پوښتنه وشي او نه د ښو تپوس، نه مكافات شي نه مجازات، هغه دي حدود مات كړي، ضوابط او قواعد دي تر پښو لاندي كړي، له حق او حقيقت نه دي انكار وكړي، خو نه دي محاسبه ورسره وشي، نه دي پوښتنه ترې وشي او نه دي د كړو وړو سزا وركړی شي!! دا بې بنسټه او واهي تصور، له هر مشهود نه د هر شاهد له انتباه سره منافات لري او د كائناتو د هغه حميد پالونكي رب په نسبت يوه كركجنه افتراء ده كوم چي د عالم ذره ذره د ده په شته والي او د هر څه په سم او ښه پيدا كولو شهادت وركوي. دا له انصاف نه ليري ظالمانه قضاوت دی!! داسي غلطه انگېرنه او تصور خو پدې معنا ده چي پدې عالم كي نه نظم شته، نه ضوابط او قواعد، حال دا چي هر مشهود په رسا غږ وايي: دلته هرڅه سم دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅه ښه او ښایسته پیدا شوي، په سم تقدیر او میزان، هر څه پدې خبري شهادت ورکوي چي دا عالم د یوه "عزیز" او "حمید" ذات له لوري اداره کېږي! د دې عالم ساتونکی او پالونکی رب له دې عیب نه منزه دئ چي د ده په ملك کي دي څوك ظلم وکړي، د ده مظلوم بندګان دي په ناحقه وځوروي، هغوی دي بې وزله او ضعیف وګڼي او له حق نه د لاس اخیستو لپاره دي هغوی تعذیب کړي، حق او د الله د ملك ضوابط دي ترپښو لاندي کړي، له الهي سننو نه دي سرغړونه وکړي، خو الله دي نه له ده سره محاسبه وکړي او نه د مظلوم پوښتنه!! نه دي له ظالم نه انتقام واخلي او نه دي د مظلوم استغاثې ته ځواب ورکړي!! الله تعالی لدې نه منزه دئ چي ذات ته ئې کوم عیب او نقص راجع شي یا افعالو ته ئې کوم اعتراض. نو پدې کي شك نشته چي د اور د کندو خاوندانو ته له تباهي او هلاکت نه پرته بل څه انتظار نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الطارق

## دا بې شمېره ځلانده ستوري چې ځوك ساتي هغه د ټولو ساتونكى دى

د الطارق د سورې په لومړئ آيت كي پدې صيغه لوړه شوې:

وَ السمَاءِ وَ الطارِقِ *
لوړه په آسمان او دا د شپې ور ټكونكى.

ورپسې ويل شوي:

وَ مَا أدْرَاكَ مَا الطارِقُ * النّجْمُ الثّاقِبُ *
څه شي خبردار كړى چي څه به وى دا د شپې ور ټكونكى؟ ستورى ځلېدونكى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قسمونو په ځواب کي ويل شوي:

إِن كلُّ نَفْسٍ لمَّا عَلَيهَا حَافِظٌ *
هيڅوك داسې نشته چي پر ده نه وى ساتونكى.

پدې آيتونو كي په "آسمان" او "الطارق" لوړه شوې او هغه د دې ادعا د اثبات لپاره د شاهدانو په حيث وړاندي شوي چي "هر نفس يو ساتونكى او حفيظ" لري. د دې لپاره چي پوه شو د قسمونو معنى څه ده او څنگه د دغي لوئى ادعا په حقانيت شهادت وركوي، بايد لاندي ټكيو ته توجه وكړو:

د "الطارق" لغوى معنا په شپه كي راڅرگندېدونكى او ور ټكوونكى ده، چي اطلاق ئې په ډېرو شيانو كېدى شي، خو وروستى آيت ئې مشخص كوي او وايي: "النجم الثاقب: ځلانده ستوري" نو لدې نه مقصد هر ځلانده ستورى دئ چي په شپه كي راڅرگند شي، نه كوم خاص ستورى.

كه چيرته قرآن په خپله دا "الطارق" نه وى معرفى كړى او تفسير ئې مفسرانو ته پرېښي وي، معلومه نده چي لدې نه به څه عجيب او غريب تعبيرونه شوي وو؟! څومره مختلف، بېلابېل او له يوه بل سره متصادم آراء او نظرات به وړاندي شوي وو، څومره د اصلي معنى مغاير معانى او مفاهيم به ئې ورته تراشلي وو، څومره "بطون" او "راز رموز" به ئې له رسا ذهن، رمز پيژندونكي او "بطن فهم" سليقي نه ورته راايستلي وو؟! مخصوصاً هغو كسانو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيمار ذهن لري، په خرګندو توکو، روښانه او واضح الفاظو او ځلانده حقايقو، قناعت نه کوي، ظاهر ورته کافی ندي، د "سر او راز" او "مخفي او بطن" رابرسيره کېدو ته انتظار کوي او اعجاز ته منتظر وي!! قرآن د دغه بيمار "ذهنيت" د ښه معرفي لپاره د ابراهيم عليه السلام په قصه کي ځومره ښه فرمايي: ابراهيم عليه السلام وويل: "ربی الذی يحيی ويميت" زما رب همغه دئ چي راژوندي کوي او وژني او همغه چي لمر له مشرقه راپورته کوي، ګورئ چي د ابراهيم عليه السلام لپاره مرګ او ژوند او د شپې ورځي تګ راتګ قطعي دليل دی، له همدې نه خپل رب پيژني، د عالم د همدې ملموس او مشهودو مظاهرو نه د خپل رب په لوري هدايت کېږي او نور کسان هم په همدې شيانو استناد سره د الله تعالي په لوري رابلي، خو نمرود دا استدلال نه مني، هغه کافي نه ګڼي او وايي: (انا احيی و اميت) دا د ژوند او مرګ پرېکړه خو زه هم کولی شم!!

همدا راز قرآن فرمايي:

وَ قَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَك حَتی تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الأَرْضِ يَنبُوعاً * أَوْ تَكُونَ لَك جَنَّةٌ مِّن نخيلٍ وَ عِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الأَنْهَرَ خِلَلَهَا تَفْجِيراً * أَوْ تُسقِطَ السمَاءَ كَمَا زَعَمْت عَلَيْنَا كِسفاً أَوْ تَأْتیَ بِاللَّهِ وَ الْمَلَئكَةِ قَبِيلاً * أَوْ يَكُونَ لَك بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَی فی السمَاءِ وَ لَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّك حَتی تُنزِّلَ عَلَيْنَا كِتَباً نَّقْرَؤُهُ قُلْ سبْحَانَ رَبی هَلْ كُنت إِلا بَشراً رَّسولاً * وَ مَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنَعَ النّاس أن يُؤْمِنُوا إذْ جَاءَهُمُ الْهُدَى إلا أن قَالُوا أ بَعَث اللّهُ بَشراً رّسولاً * قُل لّوْ كانَ فى الـأرْض مَلَئكةٌ يَمْشـونَ مُطمَئنّينَ لَنزّلْنَا عَلَيْهِم مّنَ السمَاءِ مَلَكاً رّسولاً *

الاسراء: ۹۰-۹۳

او وئي ويل: هيڅکله به پر تا ايمان رانه وړو ترڅو لدې ځمکي يوه چينه راوبهوې او د خرما او انگورو داسي باغ دي وي چي ويالې پکي وبهوې او يا د خپل گمان مطابق دا آسمان پر مونږ ټوټې ټوټې راپرې باسي او يا الله او ملائکي مونږ ته مخامخ راولې او يا تا لره مجلل کور وي او يا آسمان ته وخيژي او په ختلو دي هم ترهغه باور نه کوو چي پر مونږ يو داسي کتاب رانازل کړې چي مونږ ئې لولو، ورته ووايه: پاکي ده زما رب لره، آيا زه له يوه بشر استازي نه پرته بل څه يم؟! او کله چي خلکو ته هدايات راغلي نو دوی له ايمان راوړلو نه بل څه منع نه کړل مگر دې خبري چي ويل ئي: آيا الله يو انسان د پيغمبر په حيث مبعوث کړی؟ ورته ووايه: که په ځمکه کي ملائکي وي او ډاډه پکي گرځېدي نو مونږ به حتماً له آسمانه يوه فرشته د پيغمبر په حيث رالېږلې وه.

بيمار ذهنيتونه دغسي وي، خدای په "اعجازونو"، "فوق العاده پېښنو" او "فوق طبيعی اسرارو " کي لټوي، دا په طبيعت کي خواره بې شمېره نښي او شواهد ورته کافي نه وي، دا د الله له لوري نه گڼي، طبيعي پېښي ئې بولي، غواړي خدای د داسي پېښو له مخي ثابت کړي چي غيرطبيعي وي، په "رازونو" او "رموزونو" سره نه په "ښکاره وو" او "څرگندو" سره!! خو د قرآن اسلوب بېل دي، قرآن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هستي هرڅه او هر حرکت د الله تعالي د ذات او صفاتو نښه او مظهر ګڼي، په همدغو ځرګندو شيانو استناد کوي او پدې سره خپله ادعا ثابتوي، په همدې ځرګندو په طبيعت کي خورو ورو شيانو لوړه کوي او د خپلي مدعا لپاره ئې د شاهد په حيث وړاندي کوي. د الطارق په سوره کي ګورئ چي د آسمان ترڅنګ په "الطارق: د شپې لخوا راڅرګندېدونکي، هغه ستورو لوړه کوي چي په شپه کي د آسمان په غېږ کي راڅرګند شي، د آسمان په څېر څرګند، مشهود او ښکاره. دغه توضيح او شرح بايد د قرآن د نورو قسمونو لپاره د يوه لارښود اصل او اسلوب په حيث ونيسي، چيرته چي د "مقسم به" په پيژندلو کي له ابهام او اشکال سره مخامخ شوي، نو د دغه اصل په رڼا کي ابهام او اشکال رفع کولی شي. لکه چي "الطارق" يو جلی، مشهود او څرګند شي دي: ځلاندي ستوري، همدا راز په نورو مواردو کي هم "مقسم به" د "الطارق" په څېر مشهود او قابل درک شي وګڼئ او هغې رأيې ته هيڅ اعتناء مه کوئ چي لدې نه غيبي او له سترګو پټ شيان مرادوي. دا د قرآن له اسلوب سره مخالف رأيه په ديوار ووهي.

بايد دا واضح کړو چي آسمان او په هغه کي ځلانده ستوري څنګه دا ثابتوي چي هر نفس د يوه ذات تر مراقبت او حفاظت لاندي دي؟

پدې پوهېږو چي د دې ستر عالم بې انتها عظمت د شپې لخوا راڅرګند شي، د ورځي لخوا ټول سماوي اجرام له سترګو پټ وي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمر له لوېدو او د شپې له رارسېدو سره سم، ستوري يو په بل پسې راښکاره شي، په خپلو پلوشو سره زمونږ سترګې هڅوي، زمونږ د سترګو په وړاندې ودرېږي، مونږ د کائنات د عظمت او پراخوالي تماشا ته رابلي او دا پوښتنه زمونږ په ذهن کي راولاړوي چي پدې خور وور پراخ بې انتهاء عالم کي دا بې شمېره آسماني اجرام څوك اداره کوي؟ څوك ئې ساتي؟ دا کوم ځواك دئ چي هر يو په خپل خپل مسير کي خوځوي او د دوی ترمنځ له ټکر او تصادم نه مانع کېږي؟ بې شکه چي دا آسمان او د هغه په غېږ کي دا بې شمېره ځلانده ستوري پدې شهادت ورکوي چي دا عالم يو ځواکمن او مقتدر ساتونکی او پالونکی لري چي هر جزء ئې په خپل خاص ځای کي ساتي، له تشتت او بد نظمي ئې او په خپلو کي د دوی د تصادم مخنيوي کوي.

ګورئ چي قرآن د هغه چا د اقناع لپاره څه وايي چي ګمان کوي دا عالم په خپله پيدا شوی او هرڅه ئې طبيعت ته سپارل شوي، نه کوم مراقب لري او نه ساتونکی او محافظ، حوادث په تصادفي طور او په خپله رامنځته کېږي، نه واکمنه اداره شته او نه خاص ضوابط او سنن، قرآن هغه ته بلنه ورکوي چي د آسمان په لوري سترګې واړوه، د هغه وسعت او عظمت ته ځير شه، هغو بې شمېرو ستورو ته پام وکړه چي د دې بې انتهاء فضاء په غېږ کي ئې حفاظت او ساتنه کېږي، په همدې استدلال کوي او انسان ته وايي: هغه ذات چي دا هستی اداره کوي او د هر جزء او ذري ساتنه ئې په واك کي لري، همدا ذات ستا مراقب او ساتونکی هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې سورې په ۱۱او ۱۲ آیتونو کې دوه نور قسمونه راغلي:

والسَّمَآء ذَاتِ الرَّجْعِ *
لوړه په آسمان داَ پر له پسی راګرځوونکی.

وَالأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ *
لوړه پدی ځمکی چاودېدونکی.

د قسمونو ځواب دا دي:

إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ * وَمَا هوَ بِالْهَزْلِ *
بی شکه چې دا پرېکنده وینا ده. او نده هغه خوشې بیهوده.

د قسمونو او ځواب شرحه دا ده:

- په لومړي قسم کې آسمان ته " ذَاتِ الرَّجْعِ: پر له پسی راګرځوونکی" ویل شوي، د کلام له فحوی او د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې پدې پوهېږو چې دلته په " ذَاتِ الرَّجْعِ" سره باران ته اشاره شوې، دا باران دئ چې د اوبو د بخاراتو په بڼه کې له ځمکي د آسمان په لوري وخوځېږي او آسمان ئې بېرته د ځمکي په لوري راوګرځوي.
- په دوهم قسم کې ځمکي ته " ذَاتِ الصَّدْعِ: چاودېدونکي" ویل شوي چې مراد ئې د نباتاتو په رازرغونېدو سره د هغې چاودل دي.
- د قسم په ځواب کې دا خبره نده واضح شوې چې لدې پرېکنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينا نه كومه وينا مراد ده؟ خو كه لږ غور وكړو نو ګورو چې له قسمونو نه مخكې په اتم آيت كې ويل شوي: إِنَّهُ عَلَى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ * : بې شكه چې هغه ئې په بيا راګرځولو توانا دي. د دغې ادعا د اثبات لپاره دا قسمونه راغلي او ورپسې ويل شوي چې دا پرېكنده وينا ده او هسې بيهوده خبره نده.

o له آسمانه د اوبو په راورېدو سره د ځمكې له زړه نه د نباتاتو رازرغونېدل ښيي چې الله تعالى د مړو په بياژوندي كولو قادر دي، تاسو تل دا بياراژوندي كېدل په خپلو سترګو ګورئ، نو څنګه د بياژوندون خبره يوه بابيزه او خوشې خبره ګڼې؟!!مګر له آسمانه د اوبو راورېدل او پدې سره د مړې ځمكې ژوندي كېدل او د رنګ رنګ نباتاتو رازرغونېدل د دې ادعا څرګند او قطعي ثبوت ندي؟!

له مجدد ژوندون نه خو هغه چا بايد انكار كولى چې په خپل ټول ژوند كې ئې د دې كومه بېلګه نه وي ليدلې، ته خو هره شېبه ګورئ چې د اوبو يوه "قطره" په نطفې او انسان بدله شي، له مړې او ژوول شوې دانې او مېوې نه د انسان په بدن كې ژوندې نطفه جوړه شي، مړه ځمكه په يوه باران سره وخوځېږي او ګڼ شمېر ژوندي توكي راشنه كړي. نو ته څنګه بياژوندون محال ګڼې؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الفجر

## د هري شپې په پای کې سباوون دا خبره کوي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دئ

د الفجر د مبارکې سورې قسمونه دا دي:

وَ الْفَجْرِ * وَ لَيَالٍ عَشرٍ * وَ الشفْعِ وَ الْوَتْرِ * وَ الَّيْلِ إِذَا يَسرِ *

قسم په سباوون. قسم په هرو لسو شپو. قسم په هغه جفت او طاق. او په شپې چې شي روانه.

له قسمونو نه وروسته دا خبره شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هَلْ فی ذَلك قَسمٌ لّذی حجْرٍ *
آیا پوهیالیو ته به پدی کي قسم وی ؟

بیا د عاد، ثمود او فرعون تباهي او هلاکت ته پدې ډول اشاره کوي:

أ لَمْ تَرَ کَیْف فَعَلَ رَبُّك بِعَاد * إرَمَ ذَات الْعمَاد * الّتی لَمْ یخْلَقْ مثْلُهَا فی الْبلَد * وَ ثَمُودَ الّذینَ جَابُوا الصخْرَ بالْوَاد * وَ فرْعَوْنَ ذی اَلأَوْتَاد * الّذینَ طغَوْا فی الْبلَد * فَأَکْثَرُوَا فیهَا الْفَسادَ * فَصب عَلَیْهِمْ رَبُّك سوْط عَذَابٍ *
ودی نه لیدو چي څرنګه ئی وکړلو له عاد سره ستا رب ؟ د ارم "عاد"، آ خاوند د جګو ستنو. آ چي نه وو پیدا شوی په ښارونو کي په څېر ئی. او ثمود سره چي تېږی ئی درو کي وتراشلی. او فرعون سره خاوند د آ میخونو. هغه خلك چي ښارونو کي ئی وکړه سرکشي. فسادونه ئی ډېر کړی په هغو کي. نو رب دي پری راپرېښوده متروکه د عذاب.

او ورپسې د قسمونو ځواب پدې صیغه راغلی:

إنّ رَبّك لَبِالْمرْصاد *
بی شکه چي ستا رب دئ په کمین کي.

پدې مبارکو آیتونو کي په څلورو شیانو د لوړي شاهد یو، راشئ وګورو چي په څه څه لوړه شوې او د قسمونو ځواب څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط څنګه دي؟ او د کومې ادعا د اثبات لپاره پدې شيانو لوړه شوې؟

که لږ دقت وکړو نو متوجه کېږو چې له قسمونو نه وروسته په اتو آيتونو کې د دريو باغي او عاصي ډلو: عاد، ثمود او د فرعون د قوم شوم او کرغېړن عاقبت ته اشاره شوې، دا هره ډله په خپل خپل وخت کې پياوړې، ځواکمنه او په وسايلو سنبال ډله وه، چې د فساد، ظلم او طغيان په وجه مؤاخذه شول او په الهي دردناك عذاب اخته. په ۱۴ آيت کې د يوې ډېرې مهمې ادعاء شاهد يو، چې په ټول قاطعيت او تأکيد سره مطرح شوې، دا چې "ستا رب حتماً په کمين کې دي". دغه ادعا د مخکنيو قسمونو ځواب دي، د هغې د اثبات لپاره په دغو قسمونو او پورتنيو تاريخی مثالونو استناد شوی. د دې لپاره چې پوه شو دا قسمونه څنګه دا ادعا اثباتوي چې ستا رب د شر او فساد ځواکونو ته په کمين کې دي، بايد لاندې خبرو ته توجه وکړو:

- د قسمونو په سر کې "الفجر: سباوون" ذکر او ورپسې "ليال عشر: لسګونې شپې" او په پای کې ئې د "الليل اذا يسر: او په شپې چې شي روانه" دا ښيي چې په منځنيو قسمونو کې هم بايد د شپې په اړه خبره شوې وي او له "الشفع و الوتر" نه هم بايد جفت او طاق شپه مراد وي نه بل څه، د بيان له فحوی نه په ټول صراحت سره معلومېږي چې له سباوون نه هر سباوون، له لسګونو شپو د هرې مياشتې لسګونې شپې او له جفت او طاق نه هره جفت او طاق شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراد ده. د الهي بليغ کلام دقيق نظم او يووالي همدا ايجابوي، په بل څه د هغوی اطلاق، بې بنسټه او بې ځايه تعبير دئ چي هيڅ دليل ورته نشو وړاندي کولی.

- د دغو آيتونو الفاظ عام دي، دا سمه نده چي تر خاص سباوون او خاصو شپو ئې محدود کړو، د آيتونو په الفاظو کي هيڅ داسي نښه نه ګورو چي اختصاص ترې ثابت شي.
- د الهي کلام بلاغت دا تقاضا کوي چي د نوموړو قسمونو او ورپسې تاريخي مثالونو او د قسمونو د ځواب ترمنځ بايد ژور او دقيق ارتباط وي.
- ته چي هر سحر، د "شپې" د ختمېدو او د سباوون د راختو شاهد يې، هره جفت او طاق شپه ګورئ چي پای لري، سره لدې چي په هغوی کي د تياري او روښنائي له اړخه او د اوږدوالي لنډوالي له پلوه او په هغوی کي د سپوږمۍ د شکل او هيئت له لحاظه تفاوت وي، خو هره يوه پای مومي او خپل ځای ورځي، رڼا او روښنائي ته پرېږدي. د هري مياشتي لسيزي ګورئ چي په لومړۍ کي سپوږمۍ وړه وي او ورو ورو ستره شي، د شپو لومړۍ برخي ئې سوکه سوکه تر مخکي نه زياته روښانه وي، په منځنۍ لسيزي کي د شپو ډېره برخه روښانه او د سپوږمۍ زياته برخه ځرګنده وي او په ورستۍ لسيزي کي سپوږمۍ وړه وي او رڼا ئې ضعيفه، د شپو لومړۍ برخه تياره او وروستۍ ئې نسبتاً روښانه. تر هغه چي د وروستۍ لسيزي په وروستۍ شپه کي سپوږمۍ له سترګو پټه شي، مياشت پای ته ورسي او خپل ځای بلې مياشتي ته پرېږدي. همداراز چي هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سباوون د شپې تياره زړه په روڼ فجر سره څېري شي، د سباوون ځلانده توره د شپې په تور سر راپرېوځي، د شپې توره پرده څېري او فجر طلوع کوي، بايد مطمئن وي چې د جهل، ظلم او فساد توره شپه به همداسې ختمېږي.

ډېره عجيبه ده چې ځينو مفسرينو "رحمهم الله"، له "فجر" او "ليال عشر" نه خاص اوقات او له جفت او طاق نه له شپو نه پرته نور څه مراد کړي!! د دغو کمزورو آراوو په هکله بايد ووايو:

- عام الفاظ ئې خاص کړي.
- د قسمونو او ځواب ترمنځ ارتباط ئې له پامه غورځولی.
- داسې ئې انګارلې چې دا قسمونه د "مقسم به" په عظمت د اعتراف په څېر ذکر شوي نه د استشهاد او استناد لپاره، حال دا چې خبره برعکس ده، الله لدې ډېر لوړ دئ چې د کوم څه د عظمت لپاره په هغه لوړه وکړي، دا کار له انسان سره ښائي نه له رب العالمين سره، د قرآن قسمونه د استشهاد لپاره او د مدعا د اثبات په منظور راغلي.

که "فجر"، "ليال عشر" او "الشفع و الوتر" خاص اوقات ونيسو، نو په هغوی باندې لوړه دا مدعا څنګه ثابتوي چې ستا رب ظالمانو ته په کمين کې دئ؟!! او دا به د فرعون، عاد او ثمود د قومونو له تباهي سره څه تړاو لري؟!! پداسې کمزوري توجيه سره خو د الله له بليغ کلام نه بې ربطه جملات جوړېږي، يووالي او دقيق نظم ئې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه ځي.

دا آیت "هل فی ذلك قسم لذی حجر" په ډېر وضاحت سره ښيي چي په مخکنيو آيتونو کي راغلي قسمونه "دلائل" او "شواهد" دي، نه مجرد قسمونه. "عقل" ئې مخاطب کړی او وايي چي "د عقل خاوندان" ئې په حقيقت پوهېدی شي، "ذی حجر" د دغو قسمونو د مدعا حقيقت درك کولی شي. د دې قسمونو اساسي "مدعا" دا مطلب ثابتول دئ چي "خدای ظالمانو ته په کمين کي دي"، د دغي مدعا د اثبات لپاره لومړي د هري شپې په پای کي د سباوون په راختو استناد شوی او ويل شوي چي هره شپه، څه جفت څه طاق، څه د مياشتي د يوې لسيزي څه د بلي لسيزي، بالآخره د فجر په راختو پای ته رسي، همداراز به د ظلم شپه ختمېږي او تږغر به ئې ټولېږي، د هغو لپاره چي "د عقل خاوندان" وي همدا دليل کافي دي، بيا پدې پسې متصل، د پورتني حقيقت او الهي سنت څو تاريخي بېلگې رااخلي او د مخاطب مخي ته ئې ږدي او همدغه ادعا د تاريخ په پاڼو د استناد له لاري ثابتوي. دا دئ تاريخ شاهد دي، د عاد، ثمود او فرعون پايله څه وه؟ متمدن، ځواکمن، مسلح، د زر او زور خاوند، خو ظالم، مفسد، عاصي او طاغي!! يو ئې " ذات العماد: د لوړو لوړو څلو او جگو جگو بنگلو خاوند" بنگلي ئې د ضرورت لپاره نه، بلکي عبث، خوشي او د خپل قدرت او زور ځواك د ښودو لپاره، بل ئې ثمود چي تېږي به ئې تراشلي او په غرونو کي ئې ځانته مجلل کورونه جوړول، دريم ئې فرعون چي د خپلو مخالفينو په لاس پښو کي ئې ميخونه ټکوهل، نه يوازي د عادي مخالفينو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتی د خپلي ميرمني په لاس پېښو کي هم!! پدوي ټولو د الهي عذاب متروکه راپرېوته، د دنيا له صفحي حذف شول، د دوی د هلاکت دوه اسباب وو: الف- طغيان او سرغړاوي ئې وکړ او زر زور مغرور کړل. ب: په ځمکه کي د ډېر فساد باعث شول.

نو که د طغيان او فساد په وجه په مخکنيو ظالمانو الهي عذاب نازل شوی، نو اي ظالمانو! پدې پوه شي چي ستاسو پايله هم دې ته ورته ده. پدې پوه شي چي الله هر ظالم ته په کمين کي دي، مهلت ورکوي خو غافل کېږي نه، لکه يو شکاري چي د خپل شکار لپاره کمين نيسي، شکار ته موقع ورکوي چي بې باك او بې اعتناء د کمين په لوري وخوځي، په خاص وخت او ځای کي ئې کار کوي، همداراز الله تعالي ظالمانو ته مهلت ورکوي، تر خاص وخت پوري ورته انتظار کوي، ظالم له خپل عاقبت نه بې خبره، په الهي مهلت او فرصت غولېدلی، په ظلم، فساد او طغيان کي مخکي درومي، ناڅاپه له الهي کمين سره مخامخ کېږي او د عذاب متروکه په سر خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# البلد

## له ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېدل د الله له رعايت نه د محروميت نښه نده، برعکس دا يو ثابت او عام الهي سنت دي

د البلد د مبارکي سورې په لومړي آيت کي قسم پدې صيغه راغلی:

لا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ* وَ أَنت حِلٌّ بِهَذَا الْبَلَدِ *وَ وَالِدٍ وَ مَا وَلَدَ *

نه، قسم مې پدې ښار. او ته حلال ګڼې کېږې پدې ښار کي. او قسم مې په هر پلار او په هر ځوی.

دلته ځو خبرو ته پام وکړئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



o ځيني گمان کوي چي د قسم نه مخکي "لا" اضافي ده او ځيني نور وايي چي دا د قسم د نفي لپاره ده، پدې معنی چي لوړه نه کوم، دا دواړه توجيهات کمزوري دي، په قرآن کي نه اضافي څه شته او نه کم او دا دوهمه توجيه خو تر دې هم ډېره کمزوري او خرابه چي د غير ضروري خبري له کولو سره ئې مترادف کوي، که معنی ئې دا وي چي پدې ښار لوړه نه کوم نو د دې خبري د کولو گټه څه شوه؟!! غوره او دقيقه توجيه دا ده چي پدې "لا" سره د مخاطب وينا او دعوی رد شوې او د ده د ذهنيت له ردولو نه ورسته، مختصر مکث دئ او بيا ويل شوي چي پدې ښار مې قسم، يعني داسي نده چي تاسو ئې گمان کوي، زما دي پدې ښار او په هر پلار زوي قسم وي چي انسان په کړاو او ستونزو کي پيدا شوی. د قرآن په ډېرو ځايونو کي کلام په "لا" او "فلا" پيل شوی، په انساني محاوره کي هم د دې شاهد يو چي معمولاً انسان د خپل مخاطب خبره په لا او نه سره ردوي او ورپسې خپله خبره کوي.

o د دې خبري "پدې ښار کي ته حلال يې" معنی دا ده چي: د مکې پدې ښار کي چي د "بيت الحرام" محدوده ده، جنگ پکي حرام دي، پدې کي خلك د خپل پلار له قاتل نه هم د غچ اخيستو هڅه نه کوي، د بوټو او ونو له شکولو ئې ډډه کوي، د ځناورو او حشراتو له وژلو هم ځان ساتي، ښکار پکي حرام گڼي، د هرڅه حرمت پکي ساتل کېږي، خو اي پيغمبره!! دلته ستا هتك حرمت، له تا سره دښمني او مخالفت، ستا د يارانو تعذيب او وژنه، نه يوازي جائز گڼل کېږي بلکي د ثواب کار ئې شمېري!! ټول د "حرمت" په "حريم" کي دي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له حرمت نه محروم او حلال!! که د سورې په متن کي او د قسمونو او ځواب ترمنځ ارتباط ته لږ ځير شو نو پدې خبري پوهېدل آسانه شي چي له "أنت حلٌ بهَذَا الْبَلَد" نه مراد همدا مطلب دئ نه بل څه.

o پـه دربیم آیت کي "والد و ما ولد" د نکیره پـه صیغه راغلي او معنی ئې هر پلار او زوي دي، نه خاص پلار او زوي.

له قسمونو وروسته ويل شوي:

لَقَدْ خَلَقْنَا الانسنَ فى كَبَدٍ*

بی شکه چي انسان مو پيدا کړی په سختی کي.

دا د مخکنيو قسمونو ځواب دي، بايد وګورو چي دا قسمونه څه مطلب افاده کوي او څنګه د دې ادعا په حقانيت شهادت ورکوي چي "الله تعالی انسان په محنت او مشقت کي پيدا کړی" او په "هذا البلد" او "والد و ماولد" باندي د لوړي او ځواب ترمنځ ئې څه رابطه ده؟ پدې خبرو د پوهېدو لپاره لاندو نقاطو ته توجه وکړئ:

هغو خلکو چي د پيغمبر عليه السلام او د ده له دعوت سره مخالفت ته ئې ملاتړلي وه، خپل ټول وسايل او امکانات ئې د دې الهي نهضت د مقابلې لپاره کارول او د پيغمبر عليه السلام ياران ئې د مکې په مبارکي وادي، دا د الله د کور حرم کي، ترشديد تعذيب لاندي نيولي وو، ويل به ئې: پدې خبري څنګه باور وکړو چي محمد صلی الله عليه و سلم د خدای پيغمبر دي، د ټولو ملائکو مطاع جبرئيل د الله له لوري ده ته د الهي وحي قاصد دي، دا ادعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چي لار ئې حقه او الله ئې مل دئ!! پداسي حال کي چي دی او یاران ئې له دغو سختو کړاوونو او ستونزو سره مخامخ دي، په هرگام مصیبتونه او ابتلاءات ورته منتظر، تعذیب کېږي، له ملك نه شړل کېږي او وژل کېږي!! دا ولې د ده خدای د ده مرسته نه کوي؟ ولې ملائکي د ده مرستي ته نه راځي؟ ولې د ده مخالفین د الله په عذاب نه اخته کېږي؟ الله جل شأنه پدغي مبارکي سورې کي دوی ته دا ځواب ورکوي: له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېدل یو ثابت الهي سنت دي، خدای جل شأنه انسان داسي پیدا کړی چي خامخا به د راز راز محنتونو او مشقتونو له کړلېچونو نه تېرېږي، لوړي ژوري به گورئ، کړاوونه به گالي، له مصیبتونو سره د چا د مخامخ کېدو معنی دا نده چي هغه د الله له تائید نه محروم او لاره ئې ناسمه ده!! تاسو سخته اشتباه کړې چي دا انگېرنه مو د خپلو قضاوتونو لپاره ملاك او معیار گرځولی، مگر د دې ښار د د جوړېدو له قصې خبر نه یاست چي څنگه ستاسو جد ابراهیم علیه السلام د خدای خلیل، خپله ناتوانه میرمن، هاجر او خپل وړوکي ماشوم زوي، اسمعیل علیه السلام پدغي سوزنده وادي کي هغه وخت یوازي پرېښودل چي نه پکي د ښناك اوبه وي، نه ونه او بوټي، نه سیوري، نه حیوان او انسان، ویرونکي وچه دره او سپیره ډاگ، دواړه ئې د الله په حکم دلته یوازي پرېښودل، څومره ستره ابتلاء، هم پلار ته او هم مور او زوي ته!! څومره سختي ورځي پرې راغلې؟ که ابراهیم علیه السلام دا د کعبي معمار او زوي ئې اسمعیل ذبیح الله، هغه دوه ستر شخصیتونه چي تاسو اي قریشو! ځان ورته منسوبوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې انتساب فخر کوي، که دوی لداسي ابتلاءاتو سره مخامخ شوي او تاسو دا نه وایاست چي ولې ستاسو جد لداسي سختو ورځو سره مخامخ شوي نو د محمد علیه السلام په اړه ولې دا خبره کوي؟ د پیغمبرانو د ابتلاءاتو قصې خو دا حقیقت ثابتوي چي دا یو ثابت الهي سنت دي.

o د هر انسان د ژوند بهیر ته پام وکړئ، که پلار وي او که زوي، د هرچا ژوند له لوړو ژورو ډك، کمزوي، ضعیف او محتاج دنیا ته راشي، بل ته په هرڅه کي اړ، لاس پښي وهي، له یوه نه بل اړخ ته نشي اوښتي، بل څوك باید د ده مرسته وکړي، خپله غذا په اوښکو، ژړا او چیغو ترلاسه کوي، چي له ځمکي د پورته کېدو شي نو هرګام په ډېر زحمت پورته کوي، په هر قدم کي پر مخ لوېږي، له راز راز بیماریو سره د دوامداري مقابلې لړۍ ئې په مخ کي، دردونه او رنځونه، تر څو ځوان شي، د ژوند بهیر ئې نوي پړاو پیل کړي او ستونزې ئې نوي بڼه او پیچلي ابعاد، له یوې نزاع لا نه وي فارغ شوی چي په بلې سر شي، یو مشکل ئې لا نه وي حل چي له بل سره مخامخ شي، له یوې بیماري روغ شي په بلې اخته، دغه دئ د انسان د ژوند حقیقي انځور، له ستونزو سره مخامخ کېدل ئې د ژوند طبیعي بهیر، د الهي سننو مطابق او د ژوند لازمه. خدای جل شأنه انسان داسي ندي پیدا کړی چي تل به د ګلانو د پاڼو په بستر څملي، الله د ګل ترڅنګ اغزي پیدا کړي، د خندا تر څنګ ژړا، د خوشحالي ترڅنګ غم، د سوکالي ترڅنګ ستونزې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البلد ------------------------------------------------------ د قرآن قسمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الشمس

## که بریا غواړي خپل نفس تزکیه کړه

د الشمس د سورې قسمونه دا دي:

وَ الشمْسِ وَ ضحَاهَا *
قسم په دغه لمر او په غرمه ئی.

وَ الْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا*
قسم پدی سپوږمۍ چي شي ورپسی .

وَ النهَارِ إِذَا جَلّاهَا *
قسم پدغي ورځ چي ئی څرگند کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ الّيْلِ إِذَا يَغْشاهَا *
قسم پدغي شپې چې ئی راونغاړی تیاره کي.

وَ السمَاء وَ مَا بَنَاهَا *
قسم پدی آسمان او دغه رنگه جوړېدو ئی.

وَ الأرْضِ وَ مَا طحَاهَا *
قسم پدغي ځمکی او داهسی خورېدو ئی

وَ نَفْسٍ وَ مَا سوّاهَا * فَألهَمَهَا فجُورَهَا وَ تَقوَاهَا *
قسم په دغه نفس او داهسی سمبدو ئی. چې الهام ئی ورته وکړ د فجور او ځان ساتو ئی.

له لومړي آیت نه تر ۸ پوري په څو شیانو لوړه شوې او ورپسې ویل شوي:

قَدْ أفلَحَ مَن زكّاهَا * وَقَدْ خَابَ مَن دَسّاهَا *
بی شکه بریالی شو هغه څوك چې پاك ئی كړلو،او بی شکه نامراد شو هغه څوك چې وئی لړلو.

باید وگورو چې د دغو قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه رابطه شته، دا قسمونه څنگه دا خبره ثابتوي چې: هغه کس بریالي شو چې خپل نفس ئې تزکیه کړ او هغه نامراد شو چې ککړ ئې کړ" ځواب دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې د دې عالم حکیم خالق، ستا د ځمکې د روښانه کولو لپاره داسې لمر پیدا کړی چې نه یوازې ستا د ځمکې "کور" ته رڼا ورکوي بلکه حرارت هم ورکوي، د لمر له "حرارت" او "نور" نه پرته به ستا په تیاره او سړې ځمکې باندې ژوند ممکن نه وو، همداراز ئې ستا د لارښوونې لپاره ستا په نفس کې د سالم فطرت او حساس ضمیر روڼ څراغ ایښې، داسې لارښود چې هم تا ته "فجور" درښیې او هم "تقوی"، ښه درته ښایسته او آشنا کړې او بد درته منکر او کرکجن.

ته په آسمان کې ګورې چې د "لمر" له پرېوتو سره سم سپوږمۍ راڅرګنده شي، دا سپوږمۍ چې د شپې ښنبه ده، نه له ځانه نور لري او نه حرارت، که لدې نه ستا د ځمکې په لور د نور پلوشې رادرومي، نو دا په خپله د دې نه بلکه د لمر وړانګې دي چې دا ئې د یوې آئینې په څېر ځمکې ته منعکس کوي. که لمر پرېووت سپوږمۍ راځي او د شپې راتګ اعلانوي، همداراز که ستا د ضمیر څراغ خړ او مړ شو، نو نامراده شوې او تیاره دې په برخه شوه.

o ته ورځ ګورې چې لمر راڅرګند کړي، ورځ د ځمکې هغه حالت دئ چې لمر ته مخه کړي، پدې سره روښانه شي، رڼا او حرارت ئې په برخه شي، هر څه پکې وېښ شي، وده، حرکت او خوځښت پکې پیل شي او ته شپه ګورې چې لمر پټ کړي، شپه د ځمکې هغه حالت دئ چې لمر ته شا کړي او پدې سره له نور او حرارت نه محرومه او تیاره ئې په برخه شي، د خوځښت او حرکت ځای رکود او جمود ونیسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د "نفس" هم دغه حالت دي، که دي "تزکيه" کړ او پاك صاف دي وساتو، بريالي شوې او که دي "ولړلو" نو ناکام او نامراد شوې. که تا د خپل نفس لمر "دا حساس ضمير" او "دا لاربښود ځراغ" روښانه کړ نو "رڼا"، "ژوندون"، "وده" او "بيداري" به دي په برخه شي او که دي خړ او دپ کړ نو "تياره"، "خوب" او "رکود او جمود" به درته مخه کړي. دلته دې مطلب ته اشاره کول هم ضروري برېښي چي دا ولې قرآن د دې په ځاى چي ووايي: د لمر په تلو راتلو سره شپه او ورځ راځي، برعکس وايي: ورځ لمر راڅرگند کړي او شپه ئې پټ کړي؟! د بيان پدغه اسلوب سره قرآن يوه داسي ستر حقيقت ته اشاره کړې چي انسان يوازي څو کاله د مخه په ۱۹ پيړۍ کي پرې پوه شو. انسان مخکي پدې نه پوهېدو چي شپه او ورځ په اصل کي د ځمکي دوه خاص حالتونه دي چي د ځمکي په حرکت پوري ارتباط لري، نه د لمر په حرکت پوري، د ځمکي حرکت دئ چي کله د لمر د څرگندېدو باعث شي او کله ئې د پټېدو، د بيان دا دقيق اسلوب نه يوازي د قسمونو له ځواب سره ژور ارتباط لري بلکي له يوه ستر علمي حقيقت نه هم پرده اوچتوي. لکه چي د ځمکي د شپې او ورځي باعث په خپله ځمکه ده، ستا د نفس د شپې ورځي باعث هم په خپله ستا نفس دي.

همدا راز ته په خپلي فضاء کي لوړ او اوچت آسمان گوري او تر خپلو پښو لاندي پرېوتې ځمکه، ستا نفس هم دې ته ورته دوه حالته درلودي شي، يا به لوړ درومي يا به له ځمکي سره نښلي، يا به د ارتقاء او رشد لار نيسي او عزت، رفعت او سرلوړي ته به رسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا به د ځوړ، سقوط، هبوط او پرېوتو لار غوره کوي او د ذلت او سپکاوي په کنده کي به پرېوځي. قرآن په ډېرو نورو ځایونو کي هم دې ته ورته د ځمکي په لوري دروند کېدل، په ځمکي پسې نښتل او د هبوط او سقوط اصطلاحات هلته کارولي چي ذلت، رذالت او سپکاوی افاده کړي، ذلت ته غاړه ایښودل او په سپك ژوند د انسان رضایت تمثیل کړي او پورته تګ ئې د معنوي ارتقاء او روحي رشد لپاره کارولی.

په ۵، ۲او۷ آیت کي د "مابنٰاها، ما طحٰها و ماسوٰها" په اړه د مفسرینو دوه رأيي زمونږ مخي ته راځي چي دقیقه او ارجح ئې دا ده: پدې آیتونو کي "ما" مصدری ده او د آیتونو ترجمه داسي ده: قسم پدی آسمان او دغه رنګه جوړېدو ئی. قسم پدغي ځمکی او داهسی خورېدو ئی. قسم په دغه نفس او داهسی سمېدو ئی . د دې رأیي د ترجیح دلائل دا دي:

د کلام بلاغت او د آیتونو ترمنځ نظم او تړاو دا تقاضا کوي چي د مخکنیو او وروستنیو آیتونو په څېر دلته هم باید په څرګندو شیانو لوړه شوې وي، لکه چي په نورو آیتونو کي په لمر او غرمه ئي، په سپوږمۍ چي په لمر پسې راشي، په ورځ چي لمر څرګند کړي، په شپه چي لمر پټ کړي، په آسمان او په ځمکي لوړه شوې ،په "مابناها، ما طحها و ماسوها" کي هم باید څرګندو شیانو ته اشاره شوې وي، د قرآن اسلوب دا دئ چي "مشهود" او "ملموس" شي د "غیب" او له سترګو پټو شیانو د اثبات لپاره شاهد راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که "ما" د "من" په معنی ونیولی شي نو د قسمونو معنا به دا شي چي په ټولو کي په الله لوړه شوې، چي پدې سره له یوې خوا د بلاغت مغایر تکرار راځي او له بلي خوا په الله تعالی باندي لوړي سره "کافر" مخاطب پدې نشي قانع کېدی چي د نفس تزکیه په بریا منتج کېږي او تدسیه ئې په خسران او نامرادي.

نو پدې قسمونو سره انسان ته ویل شوي: که ستا نفس همت وکړ اوچت او لوړ اهداف ئې غوره کړل، له تیارو د وتلو تکل ئې وکړ، له ځمکنیو ټیټو جاذبو نه ئې ځان وژغورو، د لوړو په لوري ئې د الوتو پیاوړي وزرونه پیدا کړل، بریا دي په برخه کېږي، خو که دي نفس په تیاره، ناپاکي او پلیدي کي پاتې شو، له هغه نه د وتو همت او جرأت ئې ونه کړ، ذلیل، زبون، شقي او بدمرغه به شي. لکه چي په طبیعت کي روڼ او تود لمر گوري،او سپوږمۍ چي په خپله تیاره ده او لمر ئې روښانه کوي، شپه او ورځ گوري چي یوه لمر متجلي او څرگند کړي او بله ئې پټ، لوړ آسمان او ټیټه پرته ځمکه گوري، په خپله د انسان دننه د" تقوی" الهام او د "فجور" د وسوسي شاهد یې، نو پدې پوه شه چي ستا د روح او نفس هم دوه حالته دي: یا به هغه تزکیه کوي، وده به ورکوي، لوړ به ئې بیایي، ارتقاء به ورکوي او پدې سره به بریا ترلاسه کوي او یا به ئې په کثافاتو لړي، لاندي به ئې غورځوي، له اوچت تلو به ئې راگرځوي، پرېږدي به ئې چي تپ او زنگ وهلي پاتې شي چي پدې سره به ئې په خسران او نامرادي اخته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مطلب هم د يادولو وړ دئ چي د يوې مذهبي فرقي په ځينو تفاسيرو کي د "الشمس"، "القمر" او دې ته ورته الفاظو داسي تفسيرونه شوي چي له قرآن سره د دوی چلند او د قرآن په غلط تفسير کي د دوی جسارت او بې باکي ته انسان حيران پاتې شي!! د مثال په طور وايي: الشمس يعني علي، والقمر يعني فاطمه!! يعني د الشمس او القمر معنی هغه نده چي عام خلك پرې پوهېږي، له الشمس نه مراد علي رضي الله عنه دئ او له القمر نه مراد فاطمه رضي الله عنها!! دوی د قرآن د الفاظو هغه معنی اخيستل سم نه ګڼي چي د عربو په محاوراتو کي معمول وه يا ئې د لغت په کتابونو کي موندل کېده!! د قرآن د الفاظو ظاهري او متداوله معنی اخيستل، له الشمس نه لمر، له القمر نه سپوږمۍ، له الليل نه شپه او له النهار نه ورځ، له السماء نه آسمان او له الارض نه ځمکه او ... دا صحيح نه ګڼي، وايي: د دې الفاظو د ظاهري معنی تر شا بله باطني معنی مضمر ده چي په هغې يوازي اهل بيت او د دوی ائمه پوهېږي او بس!! دوی وايي: د قرآن په درې سوه آيتونو کي علي رضي الله عنه ته اشاره شوې، پداسي حال کي چي هر په قرآن پوه انسان حتی هغه چي ډېر محدود او سطحي پوهه هم ولري پدې ښه پوهېږي چي په ټول قرآن کي يو داسي آيت هم نشته چي په هغه کي صراحتاً او يا اشارتاً او تلويحاً علي رضي الله عنه ته اشاره شوې وي!! د دوی په مقابل کي بيا ځيني نور داسي دي چي د تفسير او ترجمي په دوران کي د يوه لفظ ټولي هغه معاني رااخلي چي د لغت په کتابونو کي ئې بيامومي او د مختلفو معانيو له مخي د آيت ګڼ شمېر ترجمي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفاسير وړاندي کوي، پرته لدې چي يوې ته په بلي ترجيح ورکړي او دا ووايي چي پدې خاص ځای کي کومه ځانګړې معنی مراد ده!! دوی ګمان کوي چي د يوه کلام کمال پدې کي دئ چي ډېري معاني ولري!! حال دا چي بليغ کلام هغه دئ چي معنا ئې څرګنده وي، مخاطب مشخص، محدد او واضح مفهوم ترې واخلي، دا شك ورته راپيدا نشي چي د کلام د خاوند هدف څه دئ، برعکس د ويناوال هدف په صراحت او آساني سره درك کړي. قرآن خو خپل ځان داسي معرفي کوي چي مبين، آسان، له شك نه فارغ او څرګند دي، يوه برخه ئې په بل سره توضيح شوې، په واضح عربي ژبي کي لېږل شوی، ابهام او اغماض پکي نشته او د هرڅه تفصيلي بيان پکي راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الليل

## د انسان اعمال "ښه" او "بد" لري او مكافات او مجازات ايجابوي.

د الليل د سورې قسمونه دا دي:

وَ اللّيْلِ إِذَا يَغْشى *
قسم پدغي شپې چي كله ونغاړی تياره كي.

وَ النهَارِ إِذَا تجَلى *
قسم پدغي ورځی چي ځلانده كړی رڼا كي.

وَ مَا خَلَقَ الذكَرَ وَ الأُنثى *
قسم دئ په داهسی پيدا ايښت د نر او ښځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قسمونو ځواب دا دي:

إِنَّ سعْيَكمْ لَشتی *
بې له شکه ښېلابېلی مو دي هڅی.

د قسمونو او ځواب شرح او تفصيل دا سي دي:

o دلته په دريو شيانو لوړه شوې: په شپه چي کله خپل تور وزر په هر څه وغوړوي او له سترګو ئې پټ کړي، په ورځ چي هرڅه راڅرګند کړي او د نر ښځي د پيدا ښت په څرنګوالي.
o د دغي ادعا د اثبات لپاره چي د انسانانو هڅي او مساعي له يوه بل نه تفاوت لري او د ماهيت، ارزښت او نتائجو له مخي يو شانته نه دي، په مخکنيو دريو خبرو استناد شوی: د "شپې" او "ورځي" ترمنځ تفاوت او د "نر" او "ښځي" ترمنځ تفاوت.

لومړئ بايد دا خبره واضح شي چي د انسان د هڅو او مساعي ترمنځ د تفاوت معنی څه ده؟ بيا بايدوګورو چي دا قسونه څنګه د دغي ادعا په حقانيت شهادت ورکوي؟ د انسان د کړو وړو په اړه دوه تصور او انګېرني درلودي شو:

- د انسان اعمال "ښه" او "بد" لري او مکافات او مجازات ايجابوي.
- د انسان اعمال ښه او بد نلري، نبايد هغه د ښه او بد په معيارونو وزن کړو، ځينو ته ښه او ځينو ته بد ووايو او په مکافات

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مجازات ئې باور ولرو.

څوك چې په خداى او آخرت باور نلري، د انسان د عملونو په اړه ئې انګېرنه دا ده چې د انسان ټول اعمال يو شانته دي او د هغوى ترمنځ په تفاوت باور نه لري، فقط هغه عمل "بد" ګڼي چې بل ترې متضرر شي، دا "عمل" هم پدې دليل بد ندي چې"ذاتاً" او "اساساً" بد وي، نه، بلکه د هغه چا له نظره بد دئ چې ترې متضرر شوى، په يوه عمل کې د دواړو ذيدخلو خواوو د رضايت په صورت کې هرکار جائز او سم ګڼي. دا تصور د دې باعث کېږي چې انسان د عملونو مکافات او مجازات نفى کړي او په هغه باور ونه لري، د دغې انګېرنې له مخې "ښه" او "بد" د انسان د "خيال" زېږنده ده، د انسان له ځانګړو تصوراتو نه راولاړ شوى، اساساً "ښه" او "بد" نشته، دا په خپله تاسو ياست چې "ښه" او "بد" مو جوړ کړي.

قرآن د دغه غلط ذهنيت او ناسم تصور د ترديد او تصحيح لپاره وايي: لکه چې شپه او ورځ سره متفاوت دي، يوه توده او روښانه او بله تياره او سړه، يوه په ټول سخاوت سره نور شيندي، هرڅه درته څرګندوي او په خپل حرارت سره د هر محتاج مرسته کوي، بله د نور او حرارت مانع شي، په هرڅه تياره پرده وغوړوي او پيژندل ئې ګران کړي، څوك چې د ورځې لخوا کار کوي خپل هرګام په پوره سوچ سره اخلي او په خپل ځاى ئې ږدي، خو څوك چې د شپې لخوا خوځېږي هم د خپل حرکت د سمت او استقامت په تعيين کې له ستونزو سره مخامخ وي او هم د ګام ايښودو موزون ځاى په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کولو کي. ستا عملونه هم له يوه بل نه دومره تفاوت لري لکه دا د طبيعت دوه بېلابېلې شيبې، شپه او ورځ!! لکه چي "نر او ښځه" په هر خاص نوع ژوي کي په خپلو کي ژور تفاوتونه لري، هم د جوړښت له اړخه او هم له مقابل لوري سره په خپل تعامل کي، يو ئې اخيستلو ته تيار وي او بل ورکولو ته، يو ورکړه کوي او بل اخيستنه، د انسان په عملونو کي دې ته ورته تفاوتونه شته.

د انسان په کړو وړو کي تفاوت هومره ژور دئ چي د يوه بل مقابل کي، لکه د شپې او ورځي د تفاوت په اندازه او حتی تر دې هم زيات، يو ايثار کوي، د مظلوم او بې وزلي د ژغورني لپاره خپل مال وقف کوي، له "بخل" نه ځان ساتي، د بل په حق له تجاوز او تېري نه ډډه کوي، له هغه څه نه چي ده يا د ده همنوع ته صدمه رسوي امتناع کوي، د اوچتو اولوړو انساني اهدافو لپاره قرباني ورکوي او "حسنی" "تصديقوي"، يعنی "ښه" او "ښايسته" پيژني او په هغه اعتراف کوي، د ښه او ښايسته د پيژندو استعداد لري، د "ښه" او "بد" تفکيك کولی شي، له ټولو سره ورته چلند نه کوي، دا تمييز لري چي د انسان تر ټولو غوره عمل کوم دئ او ترټولو بد ئې کوم. ټول يو برابر نه ګڼي. د دې کس عمل د ورځي په څېر دي؛ روښانه او ښايسته. ده ته د ښېګڼو په آسانه لار تګ آسانه شي، د انساني سالم فطرت د غوښتنو سره سم چلند ورته سهل او غوره برېښي، نه له ښه عمل نه ستومانه کېږي او نه پښېمانه کېږي، د دې په مقابل کي بل انسان داسي وي چي "بخل" کوي، د خپل مظلوم او بې وزلي همنوع د ژغورني لپاره د خپل شته له انفاق نه ډډه کوي، دا ضرورت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسوي چي د محتاج انسان مرسته وکړي، لدې نه ځان بې نيازه ګڼي چي د کوم لوړ انساني هدف لپاره څه قرباني ورکړي، د ښه او بد عمل ترمنځ د تفکيك او تمييز استعداد پکي ځپل شوی وي، له فضايلو نه انکار کوي، هر "معنوي ښايست" نفي کوي او د عمل په بدلې باور نه لري، د دې کس کړه وړه توري شپې ته ورته دي چي د نور او حرارت مانع کېږي او د ښه او بد او مضر او مفيد د پېژندلو په وړاندي خنډ شي. دې کس ته د بدو او کرکجنو کړو وړو "سخته" لار ښايسته او آسانه وبرېښي، د انساني سالم فطرت مغاير عمل ورته ښايسته معلوم شي او د بدو په ډنډ کي مزيد غرق شي. مګر دا کافي نده چي اعتراف وکړو د انسان عمل هم د کيفيت له لحاظه او هم د پايلو او عاقبت له لحاظه تفاوت لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الضحی

## لکه چي کله غرمه وي او کله تیاره شپه، همداراز کله به سوکالي وي او کله ستونزې

د الضحی د مبارکي سورې قسمونه دا دي:

وَ الضحَی *
قسم پدی غرمه.

وَ الّیْلِ إِذَا سجَی *
قسم پدغه شپه چي شي تیاره.

د قسمونو ځواب دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَا وَدّعَك رَبُّك وَ مَا قَلی *
نه خپل رب پرېښی یی او نه ئی د ښمن گڼلی یی.

وَ لَلاَخِرَةُ خَیرٌ لَّك مِنَ الأُولی *
او پایله درته غوره ده حتماً لدغه پیله.

وَ لَسوفَ یُعْطِیك رَبُّك فَترْضی *
او ژر به دي رب، دومره تا ته درکړي چي راضي شې.

د شرحي په اړه لاندي خبرو ته توجه وکړئ:

په دوو لومړیو آیتونو کي په غرمي او په شپه چي کله توره پرده وغوړوي، لوړه شوې او ورپسې د قسم ځواب راغلی او په هغه کي ویل شوي: ته نه خپل رب پرېښې یې او نه ئې دښمن گڼلي یې. د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط هغه وخت ښه درك کولی شو چي هم د ټولي سورې مجموعي مضمون په پام کي ولرو او هم هغه خاص شرائط چي دا سوره پکي نازل شوې.

که د دې مبارکي سورې مضامینو ته لږ ځیر شو نو گورو چي دلته د پیغمبر علیه السلام د ژوند ځینو لوړو ژورو ته اشاره شوې او ورته ویل شوي: مگر ته ئې یو یتیم ونه موندلی او د ټیکی ځای ئی درکړ؟ مگر ته ئی یو لارورکی ونه موندلی او لار ئی وښودله؟ او نیازمند ئی ونه موندلې، خو غنا ئی درپه برخه کړه؟ که ستا په تېر ژوند کي دا لوړي ژوري راغلې، له ستونزو سره مخامخ شوی یې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو الله تعالي ترې ژغورلي يې، نو که نن له ستونزو سره مخامخ يې، بايد مأيوس نشې، بايد ډاډه وې د تېر په څېر به دا حالت هم پای ته ورسېږي، مگر نه گورې چي الله تعالی کله ټکنده غرمه راولي او کله تکه تياره شپه، په تياره شپو کي بايد د رڼا ورځي او تودې غرمې راتلو ته اميدوار وې.

همدا راز دا سوره پس له هغه نازل شوه چي د څه موقت وخت لپاره پيغمبر عليه السلام ته د وحي راتگ متوقف شو، پيغمبر عليه السلام لدې ناحيي سخت پريشان وو، کله کله دا تشويش ورسره راپيدا کېدو چي مبادا الله تعالی ترې ناراضه شوی وي، مبادا کومه اشتباه ترې شوې وي او همدا د وحي د قطع کېدو باعث شوی وي، د دښمن شديد تبليغات د ده تشويش لازياتولو، ياران به ئې هره ورځ منتظر وو چي نوي هدايات به ئې ترلاسه کړي وي، څو اونۍ تېرې شوې، نوي الهي لارښوونه ئې د منتظرو يارانو لپاره نه درلوده، دې وضعيت د ده پريشاني مزيد زياتوله، په همدې شرايطو کي دا مبارکه سوره نازل شوه. د دې سورې په قسمونو کي پيغمبر عليه السلام دې ته متوجه کوي چي کله غرمه وي، لمر تودې وړانگې خوروي، که دا حالت د زيات وخت لپاره دوام وکړي، انسان ئې نشي زغملی، حکيم خدای، ورځ او په هغې کي د تودو وړانگو خورېدل پای ته ورسوي، د څه وخت لپاره لمر ترشا کړي، د تودو وړانگو خورول ئې متوقف کړي، په ځای ئې شپه راولي چي هم سړه وي او هم تياره او هم پکي چوپه چوپتيا، دا طبيعي تحول د دې باعث شي چي انسان خپل تعادل له لاسه ورنکړي او د ځمکي په سر ژوند کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته آسانه شي، همدا راز په پيغمبر عليه السلام د بعثت په لومړيو شپو ورځو کي د "وحي" مسلسل راتگ ده ته دومره ستونزمن او مشکل وو لکه په ټکنده غرمه کي لمر ته دوامدار ودرېدل، دې ته اړ وو چي د وحي دا پلوشي د څه وخت لپاره متوقف شي، ترڅو پيغمبر عليه السلام د وحي د لړۍ بعدی څپو ته تيار شي، د دغه مطلب د اثبات لپاره د شپې په تگ راتگ استناد شوی او پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي نبايد د وحي له موقت توقف نه پريشانه شي، دا داسي وگڼه لکه له يوې تودي غرمي نه وروسته چي ورځ ورو ورو پای ته ورسېږي او شپه راشي! ستا رب نه پدې خاطر د وحي نزول مؤقتاُ متوقف کړی چي تا ته اعتناء نلري او نه پدې خاطر چي له تا ناراضه شوی، برعکس ستا د "خير" او مصلحت لپاره ئې دا کار کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# التین

## د پیغمبرانو لوړ لوړ شخصیتونه پدې شهادت ورکوي چي په انسان کي لوړ لوړ استعدادونه ایښودل شوي

د دغه مطلب د اثبات لپاره د التین د سورې په قسمونو استشهاد شوی:

وَ التِّینِ وَ الزَّیْتُونِ*
پدی انځر، پدی زیتون باندی قسم.

وَ طورِ سِینِینَ*
په طور سینین باندی قسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَ هَذَا الْبَلَدِ الأَمِينِ *
په دغه خوندي ښار باندې قسم.

د قسمونو ځواب دا دي:

لَقَدْ خَلَقْنَا الانسنَ فِى أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ *
بې شكه چي انسان مو پيدا كړى دئ تر ټولو غوره جوړښت كي.

د دغو قسمونو په اړه د مفسرينو ترمنځ د زيات اختلاف شاهد يو، مونږ د اختصار لپاره د كمزورو او ضعيفو آراوو له راوړلو ډډه كوو، يوازي هغه رأيه رااخلو چي ترټولو دقيقه او د سورې له مضامينو سره مطابق او د آيتونو ترمنځ دقيق ارتباط ئې تائيدوي. د وضاحت لپاره لاندي عرائض لرو:

پدې آيتونو كي د "طور سينين" او"بلدالامين" مفهوم كاملاً واضح او روښانه دئ او قرآن په خپله د هغوى وضاحت كړى، طور سينين د موسى عليه السلام مبعث دئ او بلد الامين، مكه مكرمه چي د اسمعيل عليه السلام او محمد عليه السلام مبعث دي او په هغې كي د ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام په لاس كعبه بنا شوې. كه د قرآن د نورو آيتونو په رڼا كي غور وكړو نو دا خبره راته جوته كېږي چي د دغو دواړو ترمنځ يو ځانگړي شباهت او مناسبت شته او هغه دا چي دواړه د پيغمبرانو مبعث او د وحي مهبط دي، په يوه كي موسى عليه السلام په پيغمبري مبعوث او د فرعون په مقابله مأمور شو او بل ئې د ابراهيم، اسمعيل او محمد عليهم السلام د بعثت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت غښتي. له ځواب سره د دغو دواړو قسمونو ارتباط هم ډېر ځرګند او واضح دي: دا دواړه ځايونه چي د نړۍ ستر ستر شخصيتونه ئې په غېږ کي پاتې شوي، پدې خبري شهادت ورکوي چي واقعاً انسان په ډېر غوره جوړښت کي پيدا شوی او ډېر ستر ستر استعدادونه پکي ايښودل شوي، د دغه اوچت او لوړ جوړښت ځو ځرګندي بېلګې ئې دغه جليل القدره پيغمبران دي، که په انسان کي دا اوچت استعدادونه نه وي نو د پيغمبرانو په ځېر عظيم او جليل القدره شخصيتونه به پدوي کي نه راپيدا کېدل. مګر نه ګوري چي دغه جليل القدر پيغمبران د عظمت او لوړوالي کوم کوم مقام ته رسېدلي، هر يوه د سترو انقلابونو لارښوونه کړې، د دوی په لاس ظالم استبدادی نظامونه نسکور شوي، د عدالت او آزادي ډېوه ئې بله کړې، د دې ډېوې په رڼا کي مظلومو او محرومو انسانانو ته د ډاډمن او سرلوړي ژوند شرائط برابر شوي، په جهل وهلي ټولني کي د روڼ مشعل په ځېر ځلېدلي، توري تياري شپې ئې روښانه کړې، آيا همدا کافي نده چي ووايو: واقعاً انسان په ډېر غوره تقويم کي پيدا شوی او په هغه کي ستر او عظيم استعدادونه ايښودل شوي.

خو له ځواب سره د دوو لومړنيو قسمونو په ارتباط پوهېدل غور غواړي. پدې اړه ځو خبري په پام کي ولري:

د يوه بليغ کلام يو ستر خصوصيت دا وي چي د بېلو بېلو برخو ترمنځ ئې تړاو، نظم او تنسيق وي، د دغه اصل له مخي بايد دوه لومړي قسمونه له دوو وروستيو سره شباهت ولري. که دوه وروستي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسمونه خاصو ځايونو ته اشاره کوي، پکار دا ده چي دوه لومړي قسمونه هم دې ته ورته ځايونو ته اشاره وکړي. خو بايد وګورو چي په "التين" او "الزيتون" کي د دې امکان او احتمال شته که نه؟ ځواب دا دئ چي هو؛ په څو دليله: لومړي دا چي د کلام له فحوی معلومېږي چي په لومړي آيت کي "البلد" مقدر دي، د درېيم آيت له "و هذ البلد" نه همدا خبره معلومېږي، يعني په لومړي آيت کي د انځر او زيتون په سيمو لوړه شوې. دوهم دا چي د دې سورې د نازلېدو په وخت کي فلسطين د اعلی زيتون په درلودو مشهور وو او شام د اعلی انځر په درلودو ، چي چا به د زيتون نوم واخيست نو فلسطين به ئې مخي ته راغي او چي د انځر نوم به ئې واخيست نو شام به ئې ذهن ته راغي، دا داسي وګڼي لکه څوك چي په پاکستان کي د خربوزه نوم واخلي نو فوراً ئې افغانستان ذهن ته راشي او که په افغانستان کي د ام يا کيلي نوم واخلي نو سمدلاسه ئې پاکستان سترګو ته ودرېږي، دا ډېره عامه ده چي اکثراً ځايونه د خپلو خاصو ميوو په نامه يادېږي. عربانو معمولاً په خپلو محاوراتو کي مختلف ټاټوبي د خپلو ځانګړو او خاصو ميوو په نامه يادول، که به چا د څو ملکونو په څنګ کي د زيتون او انځر نوم اخيستو نو لدې نه ئې د شام او فلسطين معنی اخيستله. درېيم دا چي دغو دوارو ځايونو ته د قرآن په څو آيتونو کي اشاره شوې او د طورسينين او بلد الامين په څېر د پيغمبرانو د بعثت مبارك ټاټوبي ګڼل شوي. څلورم دا چي که د ځينو مفسرينو د رأيي مطابق "التين" او "الزيتون" فقط ميوه وګڼو او په خوا کي ئې "البلد" مقدر ونه بولو نو له يوې خوا د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورو قسمونو ترمنځ شباهت او یووالي نشو په ګوته کولی او له بلي خوا د قسمونو او ځواب ترمنځ تړاو او ارتباط نشو ښودلی. شام او فلسطین چي دلته په "التین" او "الزیتون" سره یاد شوي، له "طور سینین" او "البلد الامین" سره لدې لحاظه شباهت لري چي هلته د سلیمان، داود، عیسی او ابراهیم علیهم السلام په څېر پیغمبران مبعوث شوي. او پدې سره د ټولو قسمونو ژور او دقیق ارتباط له ځواب سره څرګندېږي. یعني هغه باعظمته او ستر ستر شخصیتونه چي پدغو ځلورو سیمو شام، فلسطین، طور سینین او البلد الامین کي راولاړ شوي، تلپاتې حماسي ئې جوړي کړې او د ډېر لوړ او اوچت انساني شخصیت ښېلګې ئې وړاندي کړې، پدې شهادت ورکوي چي الله تعالی په انسان کي څومره لوړ استعدادونه ایښې او په څومره غوره او احسن تقویم او جوړښت کي ئې پیدا کړی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# العاديات

## انسان د خپل رب په وړاندي سخت ناسپاسه دي، د سپرو تر پښو لاندي زغاستونکي آسونه همدا وايي

د العاديات د مبارکي سورې قسمونه دا دي:

وَ الْعَدِيَتِ ضَبْحاً *
په ځور سره زغاستونکو قسم.

فَالْمُورِيَتِ قَدْحاً *
بيا په سم سره اور شيندونکو قسم.

فَالمُغِيرَتِ صبْحاً *
او په سباوون يرغل کونکو قسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعاً *
په کوم سره چي دوړی کړی خوری.

فَوَسطنَ بِهِ جَمْعاً *
په کوم سره چي ننوځی په منځ د یوه ټولی کي.

د قسمونو ځواب دا دي:

إنّ الانسنَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ * وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ * وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيد *
يقيناً چي انسان خپل مولی ته ډېر ناشکره دئ. او دی په خپله پدې باندي شاهد دئ. او دی خو له خیر سره په مینی کي ډېر شدید دئ.

دلته تر ټولو د مخه څو ټکي په پام کي ولري:

o دا پنځه قسمونه د تعقیب (فاء) په توري سره په خپلو کي تړل شوي او ښیي چي دلته د یوه څیز مختلفو حالتونو او صفتونو ته اشاره شوې، یعني همدا زغاستونکي دي چي د خپلي توندي او تېزي منډي په وجه ئې له ټټر نه شور او ځوږ اوچت دي او همدغه زغاستونکي دي چي کله ئې سم په تېږو لگېږي نو سپرغۍ ترې اوچتي شي او همدا دي چي په سباوون کي د یرغل لپاره کارول شوي او همدا دي چي په خپلي چټکي زغاستي سره دوړي بادوي او همدا دي چي د مقابل لوري په لیکو کي شق اجراء کوي، صفونه ئې څېري او د دوی په منځ کي ننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



o د بيان له الفاظو په ډاګه معلومېږي چي لدغو زغاستونكو څخه هدف آسونه دي نه بل څه، ډېر بې سليقي اديب به هم لدې نه بل مفهوم وانخلي.

اما دا چي دا قسمونه څنګه پدې خبري شهادت وركوي چي انسان د خپل پالونكي رب په وړاندي سخت ناشكره دي، ځواب ئې دا دي: آيا نه ګوري چي دا پياوړي آسونه، څنګه د خپل سپور د لاس په يوه حركت سره، په زغاسته شي، هر يو له بل نه د مخكي كېدو هڅه كوي، له سخت شور ځوږ نه ئې پوهېدى شي چي خپل ټول زور ځواك ئې كارولى، ترڅو ترنورو د مخه خپل آقا مقصد ته ورسوي، نه ګوري چي څومره تېز زغلي، چي نعل ئې له تېږي سره ولګېږي له شدت نه ئې د اور بڅركي ترې اوچت شي، په تياره سباوون كي په دښمن بريد وكړي، لدې بې پروا چي په يوې يا بلي ګوښي كي به دښمن ورته په كمين كي وي، ناڅاپي به په كوم غشي سره دى په ښنبه كړي، دوړو ته ئې پام نه كوي چي د مستانه او بې باكانه منډې ئې ښنبه، ناڅاپي د دښمن له مجهز صف سره مخامخ شي، له ايستلو تورو سره، خو په ټوله بې اعتنائي صف مات كړي او د دښمن په مزدحمو صفوفو كي ننوځي، كله چي د آسونو دې خېل ته خپلو سپرو د زغاستي اشاره نه وه كړې، هغه وخت تا ليدل چي هر يو د خپل سپور تر پښو لاندي، په شور شوق خوځېدو، پښه ئې په ځمكه وهله، د خپل سر غاړي په حركاتو سره ئې دا ښودله چي خپل آقا ته مطيع دئ او يوازي يوې اشارې ته ئې منتظر!! دا لده سره خپل خاوند څه كړي چي دومره مطيع دى؟ له خوراك څښاك نه پرته ئې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي؟ په سر غاړه ئې د لاس راکښلو نه پرته څه ورسره کړي؟ د دومره څه په وړاندي دا وفا او اخلاص د څه شي ښنېه ده؟ او که تا ای انسانه! له دغه "حيوان" سره مقايسه کړي، د خپل منعم په وړاندي ستا وفا او اخلاص، ستا اطاعت او مننه، د خاوند په وړاندي د ده له چلند سره مقايسه کړي، ما ته ووايه: ستا په هکله عادلانه قضاوت به څه وي؟ آيا لدې پرته بل څه کېدی شي چي ته د خپل رب په وړاندي سخت ناشکره يې، بې وفا يې، بې اخلاصه يې!! إِنَّ الانسنَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ * يقيناً چي انسان، خپل مولی ته ډېر ناشکره دی. دا پداسي حال کي چي آس يوازي همدا دوه درې نعمتونه پيژني، له وابنو اوبو او په سر غاړه له لاس راکښلو پرته په نور څه نه پوهېږي، خو انسان د خير او نعمت په اړه جامع تصور لري، ټول هغه بې شمېره نعمتونه پيژني چي الله تعالی پرې پيرزو کړي او دی ورسره کلکه مينه لري، خو سره لدې ډېر ناشکره دئ او د دغه حيوان په اندازه هم د خپل مولی مننه او شکر نه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# العصر

## تاريخ د مؤمنانو د بريا او فتحي زېري وركوي

پدې مباركي سورې كي په "العصر" لوړه شوې:

وَالْعَصْرِ *

قسم په زمانه.

د قسم ځواب دا دي:

إِنَّ الإِنسَانَ لَفِى خُسْرٍ * إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ
وَتَوَاصَوْاْ بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْاْ بِالصَّبْرِ*

يقيناً چی انسان په زيان کی دئ، مگر هغه چی ايمان ئی راوړی او صالح عملونه ئی کړی او يوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړی او يوه بل ته ئی د صبر توصيه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قرآن د نورو قسمونو په څېر دلته هم په یوه څرګند او د هر مخاطب مخي ته پروت حقیقت باندي لوړه شوې، په "العصر" یعني زمانه، هره زمانه او د زماني هر پړاو او دا د دغي ادعا د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندي شوی چي انسان له ایمان، صالح عمل، په حق سپارښتنه او په صبر له سپارښتني پرته له زیان او خسران سره مخامخ کېږي. که تاریخ ته رجوع وکړئ، هره پاڼه ئې وڅېړئ او هر پړاو ته ئې ځیر شئ؛ په څرګنده به وګورئ چي تل د ایمان هغو خاوندانو بریا ترلاسه کړې او له تباهي ژغورل شوي چي عملونه ئې صالح وو، پر حق ولاړ وو او یوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې، پدې لار کي ئې صبر کړی او یوه بل ته ئې د صبر توصیه کړې. راشئ وګورئ د هغو خلکو پایله څه وه چي د کفر او له حق نه د انکار لار ئې غوره کړې، بد اخلاقه او بد عمله وو، ظلم او تېری ئې کړی، فساد ته ئې لمن وهلې، نه ئې په خپله حق او حقیقت ته سر ټیټ کړی، نه ئې بل حق ته هڅولی، نه ئې په خپل جائز حق قناعت کړی، نه ئې د بل د حق پروا کړې، نه ئې په خپله صبر درلود او نه ئې بل ته د صبر سپارښتنه کړې؟ تاریخ د دغو خلکو په هکله څه وایي؟ د دوی پایله او انجام ئې څنګه معرفي کړی؟ کوم ولسونه چي له تباهي، ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي، خصوصیات او ځانګړتیاوي ئې څه وي؟ او هغه چي فلاح او بریا ئې په برخه شوې، د شرف او عزت لوړو مدارجو ته رسېدلي، د ځمکي خلافت او د ولسونو قیادت او زعامت ئې ترلاسه کړی، څوك وو او مواصفات ئې کوم؟ آیا دغه سرلوړي او عزتمن قومونه او دا د تاریخ معروف او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور شخصیتونه چي هرڅوك ئې په نامه افتخار کوي، هغوی ته ځان منسوبوي، د هغوی نومونه پر خپل ځان او اولاد ږدي او د هغوی په لار د تلو هڅه کوي، لدغو صفاتو پرته ئې بل څه درلودل؟ او هغه کسان چي لدغو صفاتو نه محروم وو او د دغو صفاتو له خاوندانو سره ئې دښمني ته ملا تړلي وه، که څه هم زور ځواك ئې درلود، وسایل او امکانات ئې په واك کي وو، لښکري او فوځونه ئې درلودل او په لویو لویو ملکونو ئې حکومت کاوو، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي او نن خلك او تاریخ د دوی په هکله څه قضاوت کوي؟ د ابوجهل، فرعون او نمرود په هکله څه وایي؟ د عیسی علیه اسلام د مخالفینو په هکله څه قضاوت کوي؟

متأسفانه ځینو دلته هم اشتباه کړې او "العصر" ئې یا د "صلوة العصر: د مازدیگر لمونځ" یا "د مازدیگر وخت" او یا د پیغمبر علیه السلام د زمانې په معنا نیولی، حال دا چي "العصر" عام دئ په هره زمانه ئې اطلاق کېږي او داسي هیڅ دلیل نشته چي خاص وخت او زمانه په گوته کړي. دا ضعیفه توجیه د قسم او ځواب ترمنځ هیڅ ارتباط نشي ښودلی او په هیڅ تعبیر او تأویل سره دا نشي ثابتولی چي "العصر" د انسان په خسران او زیان شهادت ورکوي! د "العصر" صیغه عام ده، نباید هغه "خاص" کړو، د قسم او ځواب ترمنځ ارتباط یوازي په هغه صورت کي راڅرگندېږي چي صیغه په خپل حال "عام" پرېږدو او د زماني هر پړاو او د تاریخ هره مرحله ئې وگڼو، همدا زمانه او ټول لوړ ژور پړاوونه ئې شهادت ورکوي چي انسان تل د بې‌ایمانی، بدو کړو وړو، په حق نه ودرېدو او یوه بل ته د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارښتنه نه کولو، بې صبري او يوه بل ته د صبر د سپارښتني نه کولو سره ئې تاوان کړی او له تباهي سره مخامخ شوي.

دا مبارکه سوره مونږ ته لارښوونه کوي چي انسان د نجات لپاره څلورو صفتونو ته ضرورت لري: ايمان، صالح عمل، په حق او په صبر سپارښتنه، انسان هغه وخت کولی شي خپلي بريا او فلاح ته اميدوار وي چي د نجات او بريا دا ټول عوامل او لاملونه په ځان کي تعبيه کړي، که لدې نه يو ئې هم راکم شي او بی‌اهميته ئې وګڼي او هر يو په خپل ځای کي مراعات نکړي، نو د نجات کښتۍ ئې د لاري په نيمائي کي پاتې کېږي او ساحل ته له رسېدو محرومه کېږي. د دې سفر د پيل نقطه "ايمان" دي، نور صفات، د ايمان لوازم او مقتضيات دي او له هغه نه راولاړ شوي صفات دي، دا ستا ايمان دئ چي د صالح عمل په بڼه کي راڅرګند شي، له حق نه دفاع ته دي تيار کړي، تا ته د صبر او ثبات درس درکوي او د مبارزې په لوړو ژورو کي په استواره ګامونو مخکي تلو ته دي هڅوي. که ته غواړي داسي ټولنه جوړه کړې چي فلاح او سعادت ئې په برخه شي، د شر، فساد او تباهي عوامل پکي وځپلي شي، د انسان د ذلت او سپکاوي لاملونو جرړي وايستل شي او انسان په هغې کي له زيان او خسران نه خوندي وي، نو دې لوړ او مقدس هدف ته د رسېدو لار دا ده چي په لاندي څلورو خبرو ترکيز وشي: "ايمان"، د صالح افرادو روزنه، له حق نه دفاع او له حق نه د دفاع په لار کي صبر او استقامت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه حزب چي ادعا کوي د خلکو د ژغورني او نجات لپاره ئې په مبارزې لاس پوري کړی، خو اهداف، شعارونه او تګلاري ئې د "ايمان" په رڼا کي نه وي ټاکل شوي، د غړو ترمنځ ئې اړيکي د ايمان او عقيدي اړيکي نه وي، عملونه ئې د ايمان او عقيدي ښکارندوئي نه کوي، د ايمان او عمل تر منځ ئې څرګند تناقض وي، نه په خپله په حق ولاړ وي او نه نورو ته د حق بلنه ورکوي، نه په خپله د مبارزې په کړلېچونو او لوړو ژورو کي صابر وي او نه نورو ته د صبر او ثبات بلنه ورکوي، داسي يو حزب هيڅکله نشي کولی ټولنه د سعادت او نجات په لوري بوځي او د حق د لاري فاتح مبارزينو ته په ډاډمن محور او سنګر بدل شي. تاريخ د همدې خبري په حقانيت شهادت ورکوي.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست


تمهید ........................................................ ۱
الطور ........................................................ ۹
الذاریات ........................................................ ۱۷
النجم ........................................................ ۲۵
الصافات ........................................................ ۲۹
یس ........................................................ ۳۵
الواقعة ........................................................ ۳۹
القلم ........................................................ ۴۳
الحاقة ........................................................ ۴۷
المعارج ........................................................ ۵۱
القیامة ........................................................ ۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

المرسلات ........................................................ ۶۱
النازعات ......................................................... ۶۹
التکویر ........................................................... ۷۷
الشفق............................................................. ۸۱
المدثر ............................................................ ۸۷
البروج ............................................................ ۹۱
الطارق............................................................ ۱۰۳
الفجر ............................................................ ۱۱۱
البلد ............................................................. ۱۱۹
الشمس........................................................... ۱۲۵
اللیل ............................................................. ۱۳۳
الضحی........................................................... ۱۳۸
التین.............................................................. ۱۴۲
العادیات ......................................................... ۱۴۸
العصر ............................................................ ۱۵۲

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**